دَخیبَرْ وَرْبی

یا

دَحَمْزَهْ څَلُورِیْزی

پښتو ټولنه

۱۳۴۷

د پښتو ټولنې د خپرونو پرله پسې نمبر: (۱۸۸)

د خیبر وزمی

یا

د حمزه څلوریزی

پښتو ټولنه

دچاپ شمیر: (۱۰۰۰)

د ټور میاشت ۱۳۴۷ش

انتساب

د اعلیحضرت غازی محمد نادرشاه
شهید په نوم چه پـه افغا نستان
کښې يې د پښتو بنسټ ايښی دی.
حمزه شينواری

اعلیحضرت محمد نـا در شاه‌شهید چه دا کتاب
د دوی درانه نامه‌ته منسوب شوی دی

یو څو خبرې

دغه کتاب چه او س د پښتو ادب مینانو ته وړاندې کیږی ؛ د امیر حمزه شینواری د فکر او دماغ یوه روښانه ډیوه او د ده د سپیڅلی ضمیر ځلا ندې پلوشې دی. حمزه تر اوسه پورې د غزل داستاد په نامه پیژندل شوی دی ، مګر دده د څلوریزو او پاڼو کودغه مجموعه ده ته په دې برخه کښې هم د استادی حق ورکوی .

دغه څلوریزی او پاڼکی په بله ژبه د خیبر وږمې ، هغه وږمې دی چه مړاوی زړونه پرې تازه کیږی او مخ پټې غوټی وربانديې غوړیږی لکه څنګه چه د څلوریزو قانون دی په دې مجموعه کښې هم هر راز څلوریزی راغلی دی چه هر ډیوه یې له بلې نه د لنډیو په شان په مطلب او معنی کښې توپیر لری

موږ د حمزه په څلوریزو او پاڼو کو کښې یو څه کمی زیاتی د دې د پاره کړی دی چه دو خت اوچا پیړله هوا سره سمون وخوری . پښتو ټولنه په ډیره خوشحالی د غه ادبی سوغات یاد خیبر وږمې د پښتنی دنیا په درنه ځولی کښې وراچوی او په دې وسیله د خیبر وږمې دهند و کش او سپین غرله وږمو سره اشنا کوی او یو بل ته یې غاړه غړی

ورولی. دپخوانو او اوسنو استادانو دوینا خپرونه دپښتو ټولنې په ادبی وظیفو کښې یوه ستره وظیفه ګڼل کیږی مونږ دا خپله وظیفه بولو چه دخیبر وږمې دپښتونخوا ګوټ ګوټ ته ورسوو او دادب تږی ور باندې خړوب کړو.

مونږ په دې کتاب او دحمزه په شعر او ادب نوره څېړنه بې ضرورته بولو او دغه دوه بیته دده دزړه دتر جمانۍ دپاره کافی ګڼو:

حسنه ته خود بین یې زه پښتون یمه
ما نه ده ښودلې ګد استر ګو تـه
عشقه ددې او ښکوله تسپو دې ځار
څنګه دې ورزده کړه ثنا ستر ګو ته

«رشتین»



رباعیات

بسم الله الرحمن الرحيم

ای درده زړه سوخته شو، څیګر ته رسه
سودا شه ، جنون شه او سر ته ر سه
حمزه شه ، جوهر د ګل حکمت نه وځه
مر هم شه د ځان ا و پر هر ته ر سه

✿ ✿ ✿

عاشق چه شنه خا لو نه د دلبر نه و ینی
پسرلی که وی ، خو ګل د پیغمبر نه وینی
بې یاره که قاصد راغی حمزه ، نو څه پرې
اختر کښې خلق نه ګوری اختر نه وینی

✿ ✿ ✿

تارک ، ګوښه نشین ، غم د ژوندون کړې ولې
کېدونکی حقیقت ، له دنیا ستون کړې ولې
د نیا د ز پور ه که ناوې او ته یې ځلمی
ناشکره دا سې ته د نعمت خون کړې ولې

✿ ✿ ✿

حمزه تا عبادت په څه بهانه پرې ایښی
جنت دې په بدل د میخانه پرې ایښی
با با زمونږ پرې ایښی په یوه دانه ؤ
څه کفر دی که ما په پیمانه پرې ایښی

خوراك چه مکلف کوی ، نو کړی خو بو نه
تکلیف د شب خېزۍ وړی په فاقه مېړو نه
حمزه که د جوارو ډوډۍ خوری څه وشو
ځوزان یې وی خوراك ، چه وړی درانه بارونه

بې شمعې رسېدل نه دی منزل ته اسان
پرې باسی د کمره نه سړی وهم و ګومان
کوښښ د ترقۍ چه کړې بې علمه حمزه
معلومه شوه د شپې په غشو و لې مچان

منم چه غیرتی یې په حجره یې ښه ځوان
ملك یې ، لرې پولې پټی هم نو کران
حاتم د زمانې یې ، خو داو ایی حمزه
سر ښکته په ګرېوان کښې کړه چه یې مسلمان ؟

زه هغه ابتدایم چه د نبال نه لرم
یم داسې زمانه چه میاشت وکال نه لرم
حمزه چه د کمال مې څه پرواونه کړه
اوس به زه تل تر تله یم زوال نه لرم



د نیا کښې هغه کس به سلامت پاتې شی
چه ژوند یې وی ساده کم یې حاجت پاتې شی
حمزه چه د غنمو بوټی بې ښاخه وی
پنجو نه د مار غانو امانت پاتې شی

بې ځایه چه خرڅ نه کړی، عدالت دغه دی
عامل په کفایت شه مشقت د غه دی
حمزه که ته لکی شې دولتمن به نه شې
چه کم دې ضرورت کړې ، نو دولت دغه دی

✿ ✿ ✿

زاړه خیالات بدل ، نوی کړه ځان کښې پیدا
تفسیر د «مو تواقبل ان تمو توا» شو دا
په ځمکه کښې حمزه چه دا نه نه شی ور سته
شین بوټی به زرکاله کښې تړې نه شی نما

✿ ✿ ✿

حسرت زما ، پرو مبی هغه منظر لټوی
صورت د تېرو ورځو ، دا نظر لټوی
حمزه خولا مو پرنه دی ، د خنجر په اوبو
دردونه یې ماړه شو، بل پر هر لټوی

✿ ✿ ✿

بوت نه ؤ، نو ودانه مې کعبه کړه ځکه
چه مې نه وو ، نوما مراقبه کړه ځکه
اوس جام چه د وصال شو، د حمزه په نصیب
زاهده د توبې نه مې تو به کړه ځکه

✿ ✿ ✿

دردونه چه غذا نه کړی پر هر دې څه دی
مېلمه چه پرې بلا نه وی، نو سر دې څه دی
حمزه چه انتظار یې اجابت نه کوی
ته څه یې؟ اسو یلی دې څه؟ اثر دې څه دی؟

له خوفه دې له کاره انسان پاتې نه شي
په کار کښې د فطرت دې حیران پاتې نه شي
بې وهمه څه د وپرې حقیقت دی حمزه !
د اشرط، چه اراده کښې نقصان پاتې نه شي

حمزه به څه پوښتې چه ، د څه یاریې وموند
هجران ؤ که د شپې ورځې انکاریې وموند
د شپې ورځې غمونه په خندا شول بدل
چه زړه د ننې وچاودو، قراریې وموند

کم سن دی څه غرور به شي دلبر نه جدا
جوهر نه وی، د نوی جوړ خنجر نه جدا
حمزه صبر کړه یار به خپل جمال شي په یار
مېوه چه شي پخه، شي د شجر نه جدا

حمزه چا لره غم چا لره نم ورکوې
عالم کښې چا ته زیات وچا ته کم ورکوې
د خپل راحت د پاره، د استم بنه نه دی
د ازهر دی چه زخم ته مرحم ورکوې

چه تندر اواز وکړی، نو بر بښنا وی پکښې
جانان په ما منت چه کړی، خندا وی پکښې
راځی سپلمی په مخکښې له بارانه حمزه!
ساړه چه اسو یلی وکړم، ژړا وی پکښې

دعشق اورمي له ستر ګو ، ګړل روان رودونه
ګرمی دپښه کال ، وروی بارا نو نه
پیا له چه دوصال غواړي له یاره حمزه!
له زانې کتوری غواړي په کوم عقلو نه

سرسبزمي په نسیم شول دسبا ګلو نه
نفس دي ډک دمالګې ګړل تازه زخمو نه
ترکومه منتظر به دي حمزه وی اشنا!
ساته په نمکدان کښې دمینو زړونه

روژه ده چه پرې جل در یاضت ساتو ې
بیا زور په دغه جل دضلالت ساتو ې
عادت د نفس قوت دی او قوت یې بدی
عادت به په نیکی شې چه عادت ساتو ې

په وخت کښې دوصال ، ستر ګو ته نم راځی
چه ځوانه خوشحالی شی ، هله غم راځی
وحشت مي زبان بند کړی ، چه حال وایم حمزه!
پرهر چه په خندا شی ، نو مرهم راځی

خواهش نه شه خالی ، ستا به دلبر شی هله
خسوف چه شی ترې لرې ، روښ قمر شی هله
حمزه! شمع زینت شی ، په سر اوربلوی
ګوګل در باب ، تش په نغمو سر شی هله

عاشق د بل په خوله جواب بهتر نه ګڼي
او بو کښې چه وی عکس هغه قمر نه ګڼي
حمزه ! دیار د تشې خولې خنداڅه په کار ؟
باران چېرې څوك پرخه دسحر نه ګڼي

✿ ✿ ✿

چه عشق وی او ژړا نه وی، څه شان وی پکښې
دریاب هغه ته وایه، چه توفان وی پکښې
حمزه ! د شریفانو خلقو کار دی ژړا
درنه چه وی وریځ هله باران وی پکښې

✿ ✿ ✿

چه پرانسته ګل خوله، نو په منقار شو ځکه
مارغه چه آواز د کړلو ، نو ښکار شو ځکه
خوله پټه بهتر ی ده ، فرید وایی حمزه !
ګو یا نه چه منصور شو، نو په دار شو ځکه

✿ ✿ ✿

خواهش په ریاضت شی، فنا یا که سوا ؟
ا تش کړ ی په و هلو د بکر کښې ر ڼا
خواهش چه شی غایب ، نو پیدا کیږی دوبار
چه پرې دډیوې سر شی، نو بل سر کړی نما

✿ ✿ ✿

ناپوهه دی احساس چه دښه ذات نه لری
یو علم داد ب ځان کښې صفات نه لر ی
حمزه ! سزا جزاده، دد رنو په برخه
سپك څیز ته مقناطیس هم التفات نه لری

ای عشقه پوهه نه شوم ، پې بقا کـه فنا
یورنځ پې حقیقت کښې ، کـه قضا او دوا
پسرلی دې له یوې ستر ګې ، خز ان له بلې
خندا پې دو صلت ، کـه دفر قـت پې ژړا

✲ ✲ ✲

ا تش دشمعې ، شوق دپتنګ نه بدلـوی
دزړو اصلیت ، چېرې زنګ نه بـدلوی
حمزه! دغیر تهذیب څه کوې ، ماروګوره
بدل کړی زوړ پوستکی ، خو رنګ نه بدلوی

✲ ✲ ✲

تل تل چه پرې نشتروی ، هغه رنګ یمه زه
په سر چه داوبو وی هغه ځـنګ یمـه زه
حمزه ! چه د اشنا نغمې را ځی ور لره
بل هرڅه ته چه کوې وی هغه غوږ یمه زه

✲ ✲ ✲

ځان مه نغاړه زمانه ، کړوړه خونـه یم
تیندك به په ماونه خورې موړه خونه یم
ترڅو دغم په تهلو کښې به سوځی حمزه !
انسان یمه ظـالمه ، پیکو ړه خونـه یم

✲ ✲ ✲

خوشحال یم تورې زلفې دلربا مې وموند
نایسته لـکه قمر دی ، خو بلا مې و موند
حمزه! چـه بد قسمته لـه ازل ومـه زه
دنیا لره چه راغلم بې نوا (۱) مې وموند

(۱) زمادپیر لقب .

حمزه! داسې بې کاره خوشی لټ شوې ولې
رخصت دې شوقرار داسمان کټ شوې ولې
دسر ولبو په غم کښې وې تپلی غوندې ته
د پاک الله دویر ې داسې غټ شوې ولې

✿ ✿ ✿

اشنا به شی د ښمن هم که دسر لری څوک
دنیا کښې چه اخلاق ښکلی بهتر لری څوک
هر څو که مار د ښمن دی ، دسړو حمزه !
امیل یې کړی یودم کښې ، چه منتر لری څوک

✿ ✿ ✿

حمزه! څه شی په دا که مال و زر لری څوک
مالک د تخت و تاج وی اولښکر لری څوک
په ستر ګو کښې جوهر چه د حیا نیه لری
تر ې تښته په دنیا کښې که کوثر لری څوک

✿ ✿ ✿

پسرلی شولو ، مرغان دی بهر ته درومی
رندان د میخانې دخوا ، چمن ته درومی
خواهش د امانت ، د کوتې و ر پر ا نست
تو بې کوی شکر ونه ، خپل وطن ته درومی

✿ ✿ ✿

تل شپه ده دخواری په تا سحر را نه غی
اختر دې بد په فا ل چې اختر را نه غی
ور یځ چه باران راوړی ، نو بر ښنا وی پکښې
افلاس دې ژ ړوی ، پکښې ا ثر را نه غی

اول د شریفانو وو جوهر، علمونه
جرأت او شجاعت دینی، ملی جوشونه
اوس داد شرافت دی، معیار شوی حمزه!
چه پېغلو سره کاندی، په هنر رقصونه

حمزه! بس کړه نور مکړه دفېشن غمونه
بې خونده شی چه تېرشی دهر څیز وارونه
وېښتان یې فېشنی، سپور دګندګۍ په ګاډۍ
په پښو کښې دچوړی وی کرمچی بوټونه

ای شیخه! داسې غیر مهذب شوې ولې
عالم یې، نو ببرلکه دد زب شوې ولې
شیخ ووې، په خنداهسی مسټرته حمزه!
انسان یې، نولغړ لکه دکب شوې ولې

ناصحه! نوردې نه اوری حمزه پندونه
په ډاګه غورزوې، دابې بها لعلونه
بې ځایه ولې ما منع کوې له ژړا
تر څوبه ابا سیند ته ور کوې بندونه

زاړه شول تورې زلفې کچه شنه خالونه
رنجو په دنداسه د ښځو زینتونه
داوخت دی دتهذیب دایې سینګار دی حمزه!
پنډۍ بربنډې، غوڅ وېښته، بربنډ مټونه

تهذیب وهی تندی ، ګډمې په شور و لیدو
حمزه ! د دنیا هر کار مې نسکور و لیدو
داڅوك دی چه زینت کړی ددوزخ په جنت
ګلاب مې د ټټۍ د پاسه خپور و لیدو

✲ ✲ ✲

تهذیب نوره دنیا پاس په اسمان کښېنوی
صورت یې کوم ، په عقل کښې افغان کښېنوی
در بر کړی کوټ پتلون په چونه سپین بوټونه
حمزه ! په ځای د بر پتو دوه مچان کښېنوی

✲ ✲ ✲

پسرلی ستومانی وو ویسته زبېرګی رانه غی
زړه ی چاود دغوټۍ خواسو پلی را نه غی
ګر پوان به زه هم وشلوم د ګل غو ندې
و ر شو ته که د زړه مې پسرلی را نه غی

✲ ✲ ✲

اشنا که ستا د یدن مې پـه قسمت نشته
دروایې خله ، دې سترګو ته حاجت نشته
ظلمت دی بې له دې هم ، په ظلمت کښې ښه یم
امید چه در ڼـا نـه وی ، ظلمت نشته

✲ ✲ ✲

غم غم شوم خو د غم سره اشنا نه شو مه
څوڅو ځله ورګډ شوم ، خو در یا نه شومه
بلبل غو ندې و ئېږ م په بهار او خزان
پر ېشان شوم لکه ګل ، خو بې نوا نه شومه

اشنا! ته په خندا او سه ګریان نه یمه
تازه لکه د ګل اوسه پر پشا ن نه یمه
ابادہ میخانه ستاد ځوا نی دې و ی تل
محفل کښې دې د جام غو ندې ګر دان نه یمه

✲ ✲ ✲

حیر ا ن پاتې یم زه یمه تمثا ل د چا
مر ات چه دهستی مې و ایی حا ل د چا
جو هرد و جود که خبر لوځ کړ م زه
هر قال مې نه ونغو یږه چه دی قال د چا

✲ ✲ ✲

سرې ستر ګې تل په شو لیو ر پندی ګر زم
پر پشان یم که په ور وکه ګړ ندی ګر زم
قایم دی زماژوند په پردی ساه با ندې
ګرم نه یم، خو یم ګرم چه زه ژوندی ګرزم

✲ ✲ ✲

سلګی د غـلا مـا نـو د افشا ځه په کار
طوفان چه را پیدا نه کړی، اخفا ځه په کار
د انجل تر پپغلتو به په نظر کښې نه د ه
خپل کور چه په کار نه شی، په بیدیا ځه په کار

✲ ✲ ✲

هر څوکه وې په بند کښې حو صلې ما تې
پسرلی د خزا نو نو کړ ې ، حملې ما تې
خپل بن ته رسیدل چه په خبرو نه شول
تو تیا نو په و ز ر و کړې پنجرې ما تې

هېڅ پوی نه شوم په دې چه ستا نظر څه ووې
بیا زړه مې له دې کیفه بې خبر څه ووې
زړه چاودی کلۍ ګل شوې په خندا سر شوې
هېڅ حال نه وایی ما ته چه سحر څه ووې

✿ ✿ ✿

ساده ساده کاته ، دغر څنو زده کړه
بیا ستر ګی جوړول دشنو زمرو زده کړه
چه ستر ګې ټیټې نه کړې ، دهېچا په کتو
هېچا ته ټیټه مه وایه پښتو زده کړه

✿ ✿ ✿

اقرار چه په مسکاوی تسلی واخلی
بیا هم نو تصور مې - ټولې شپې واخلی
ماښام ته دې زما - که چېرې ډاډور نه کړ
بېخی د انتظار نه به ، ډیوې واخلی

✿ ✿ ✿

دنیا څه عجیبه ده دحکمت کوردی
هر څېز یې آینه ده د حېرت کوردی
اشیاء په یو او بل کښې دی ، خو جنګ نه کوی
نسیم کښې در ڼا - هم دنګهت کوردی

✿ ✿ ✿

په تامې چه نظروی نو بس ټول «ته» یمه
خپل ځان ته چه راستون شم نو همه «زه» یمه
قصې د «زه» او «ته» خوزما خوښې نه دی
ما پوی کړه اشنا ته څه یې - او زه څه یمه

تیاره کښې د کثرت چه چېرته ګیره نه شی
و حدت نه د شکلا چه مخکښې ټپره نه شې
وعدې، دهغه یار سره چه کړې وې ما
خاطر دهغه یار چه ر ا نه هېره نه شې

ماحول چه نن بدل شو، دی خیالونه بدل
دې نوی حال مې کړل زاړه حالونه بدل
څه کیف دی ټپرې ورځې را یاد پېرۍ راته
ماضی نه فنا کېږی، شی کالونه بدل

سوات -۱۳ -٤-٦۳

صورت مې منعکس شو، په وجدان دژ ړا
مېږی مې د پښې لاندې ګرفتار په فنا
فریاد مې چه دده په ګوش و هوش و اورېد
وې شکر چه مې مل شوه، په لټون کښې قضا

سر سبزه مې هستی وه په الفت د ا شنا
ا ګا ه نه ومه ز ه د بېلتا نه له جفا
و اعظه طعن مه کړه که بې صبر ه یمه
لر ګی چه شین په اور سوځی، نو کاندی ژړا

کم ظرفه وی حاسد په چا ا ثر نه لری
محرو م چه له بصروی نظر نه لری
د ګټو نه ر ا و ځی ز ر بها چه لری
لږ تاؤ سره چه اور و اخلی جوهر نه لری

عاشق شی معشوقه او چه معشوق شی عاشق
چه یووی نو تر منځ یې د نسبت وی خندق
دمالګې کان کښې ، ګټه هم شی مالګه حمزه !
ناقص چه شی ملګری ، د کامل نو شی حق

عاشق خویم ددې نه زه انکار نه کوم
اشنا که رضا کړی نو تلوار نه کوم
که نه کړی التفات نو زه هم یمه غیور
چه دی نه کوی زه هم هغه کار نه کوم

له یوطرفه عشق نه وی ، دامه کړه ګومان
دا اوردی چه شی بل په التفات د جانان
کوم څیز چه ځلا نه لری په خپله حمزه !
هر ګز په پلو شو به دلمر نه شی رو بنان

مار غه ته مارغه مه و ایه د پر نه جدا
دماغ به څه دماغ و ی د هنر نه جدا
مذهب او سیاست ګډه لازم ملزوم
میوه نه وی هیڅپر ی د شجر نه جدا

پښتو نه د ا سلام په مینه ګرم او سه
عفت لره مدام ، لرې له شرم او سه
چه تاردې دژوندون شلوی د بنمن کړه ټپی
دا اوره دور پښمو غوندې نرم او سه

پر کار هم چه کار ختم کړی وز ګار شی لږ
سختی نه پـه فراغ کله بیمار شی لـږ
وحشت دی که سودا ده چه زیاتیږی هر دم
باور مې نه د ی کنم به دا انګار شی لږ

✿ ✿ ✿

هېڅ پوه نه شوم چه څه دی (خو) شوا خون لر مه
ژ وندون لکه هوسی په مېږ تون لر مه
یم قیس په بې خودی کښې، په خودی کښې لیلی
مضطر لکه پر کا ریم ا و سکو ن لر مه

✿ ✿ ✿

ساکن په دوا ډوستر ګو کښې طوفان لر مه
ارمان دو ربدو چه کړی با ر ان لر مه
و ر ېځ د ا سو ېلو ز ما بهر نه ر ا ځی
ماخه کړې ، عنا صر ډک دار مان لر مه

✿ ✿ ✿

لبا س کښې د مغرب چه جینکی و ینمه
دا و ایم ګلستان کښی لولـکی و ینـمه
دهېڅ سره بوټان دلوړو پوندو په پښو
حیر ان شم چه په غوږ کښې یې چمکی و ینمه

✿ ✿ ✿

مر هم شته، خو لاز خم مې جوړ شوی نه دی
هر څو که شته او به تاو مې سوړ شوی نه دی
یو ځل په کال و سر کښې مې که یاد کړی نو څه
په څاڅکی او بو څوک چې مو ړ شوی نه دی

حاجت چه ورته نه وی ، اختیار دغه دی
محتاج د کیف چه نه وی ، نو خمار دغه دی
حمزه ! دبل په طمع ، چه یو کار و نه کړې
په ځان اعتبار و کړه ، اعتبار دغه دی

ځه ، دروسه ، زه خوستانه یم غلام تو یې !
کړم کوه بهر مې شه له جام تو یې !
پسرلی ، بنکلې وریځې او ځوانی ده زما
کړه زړه د بوډا کانو خپل مقام تو یې !

په خوله مې توبه نه راځی ، توبه خدایه
چه نه راځی داځه راځی ، توبه خدایه
توبه په پسرلی کښې ، د حمزه نه نه شی
توبه له تو یې نه راځی ، توبه خدایه

پسرلی د ګلو وخت او شراب او تو به
ساقی او تر انې در باب او تو به
واعظ جوړ د ځوانی بهار لیدلی نه دی
مشفقه محبو به او شباب او تو به

ګل ستر ګه کښې نن پرخه د سحر نه لری
مرغان داسی په پردی چه بستر نه لری
یاره ! دا اثار د پسرلی خو نه دی
د څښلو د تو یې پروا ځیګر نه لری

اثار د توبې وا یی می نوشی بنه نـه ده
نا پوهه په ځوانی کښې بنګ نوشی بنه نه ده
حمزه وایی همز ولی دی ځوانی اومستی
ددې دواړو په څه هم اغوشی بنه نه ده

وصلت بې خو ده کړی بیا جنون را غی
تپر غم د امام (۱) بیا لـکه پرون ر اغی
ترې پاتې ارمانو نه دشهید وو حمزه !
مرګی پـه ننو اتې دژ ونـد ون راغـی



نایښه ګرځی خپلـه مد عـا لټو ی
عر وس دشهادت لره حنـا لټو ی
زلمی داجابت غواړی ،سینګار دعصمت
حنا تـه دمعصو م وینه قـضا لټو ی

داشپې لمدې لمدې دی اومـد هوشه فضـا
په میو د شمیم باند ې بې هو شـه فضا
پسر لی تنهی پرانستی دی،ولاړ دی حمزه
خو بونه دجنت وینی ګل پـو شه فـضا



جمال چه دچا وینم ،نو هم ستا وینمه
کا ته که چا ته نه کړمه ،هم تـا و ینمه
تیاره ده که رڼا او که ګنـا ه، نپکی
هم ته اوستا صفت ،سبـا، بیګا و ینمه

(۱) مطلب امام حسین (رض) دی ۰

یوسیند یمه دعشق ،خوشورو شرنه لرم
دلبر لرم په کور کښې ،خومحشر نه لرم
واعظه داګو مان که تصور دی زما
چه ځان وته نظر کړم ،په تن سرنه لرم

ګرپوان باندې می بې سببه نم دخه دی؟
دې چولی بیابان باندې ،شبنم دخه دی؟
نه وجه دژړا او نه سبب شته دغم
زړګیه ! را ته وښیه داغم دخه دی ؟

چه زه خه ورته وایم ،هغه نه کا اوځی
په ماد رقیبانو زړونه نبه کا اوځی
رویونه چه دخدای کړم ورته مخکښې حمزه!
دبادپه خوله یودوه خبرې وکا اوځی

رڼلی چه هر چا یمه، بستر ور کوم
هرخوك چه راته بدوایی نوزر ورکوم
یم هغه ونه خوك می چه په ګټو ولی
خپل سیوری ورته زه اوهم ثمر ورکوم

یوځل چه لاړشی بیاهغه هوس نه راځی
چه ووځی ،نو بیا هغه نفس نه راځی
خفګان می مدامی نه دی ،راځی اودرومی
او به لکه په ځوړشی اوواپس نه راځی

الفت داسې شی نه دی، چه پرې څوك شی رسوا
دازړه دې ورته راچه شی نو کاندی ژړا
او بو کښې خواواز او نه ښکالو شته حمزه!
تېرېږی چه په ګټو، نو پیدا کړی صدا

مشام لره دستا به لکه عود شمه زه
فانی چه شم په تا-نو به موجود شمه زه
لالیه! په ما ګرانه له نظره مه شې
په شان د سپېلنی به درته دود شمه زه

سواد دتو روز لفودې سودا راولی
اند از دې کتی نه شم خوژړا راولی
سرخم دې توروستر ګوته اجل وینمه
بلا لرې داسې چه قضا راولی

ځوانی چه راشی ځان سره ادار اولی
صهبا نشه د ځان سره همرا راولی
شنواریه! چه یار راشی نوشی کور دې ودان
پسر لی بوټی ګلو نه په صحرا راولی

چه نه چښمه زه چای، نو پیالی څه پکار
دریاب کښې چه سفر نه وی، جالې څه پکار
انسان لره یو قوت، دویم جونګڼه ده بس
نوکر، خدمتګاران، لوړې بنګلې څه پکار

الفت هغه ګڼه چه مل له سوزه وی ساز
باغ څه دی چه ګل وی د بلبل نه وی اواز
حمزه! چه اشنا لري کړ بېلتون درځخه
اوس مخ ته دمثال یې کړه سرخم دنیاز

✲ ✲ ✲

یوځیز په حقیقت کښې دی عذاب او ثواب
خو اهش چه نه وی یو وګڼه لطف وعتاب
رحمت دی ،خو واعظه درته څه به وایم
بارش چه اپوټه کړي، نو تري جوړ شی شراب

✲ ✲ ✲

نېکی کړه چه زوال دې نه راځی په شباب
خوا ږه به وی عسل که څوک یې وخوری په خواب
نېکان چه شی فنا بیا شی پیدا حمزه !
باران چه و کړی ورک شی خو بیا راشی سحاب

✲ ✲ ✲

نا اهله به لوی نه شی په لقب او خطاب
سرخاب نه وی ټپوس که لری پر دسرخواب
بې علمه یو کالبوت ګڼه چه روح نه لری
بې ملکه ریا سته څه بادشاه او نواب

✲ ✲ ✲

ظالم که وی غره په خپل قوت با ندې
مظلوم دخدای په فضل او په رحمت با ندې
لیدلی فرعونان ډیر دمستی ستر ګو دی
چه راشی په صولت ،ځی په حسرت با ندې

ړومبی دېدن شراب وی بې هوشی راولی
ړومبۍ بوسه د لبو مد هوشی راولی
ړومبۍ کپه چه وږی دډوډۍ واخلی
دنفس په شورو شر کښې خاموشی راولی

✲ ✲ ✲

د«سرې شنې» په لینده کښی جلوه ګریمه زه
سرخی یم که باران دخپل بصر یمه زه
فانی چه دفراق یم ،دوصال ده بقا
ظلمت دپاره غشی د سحر یمه زه

✲ ✲ ✲

خردوایی چه پور ته شه عمل دی پکار
ایقان وایی سکون کښې څه خلل دی پکار
خرد وایی سکون په انتشار کښې وی پټ
ایقان وایی چه بس خوتورور بل دی پکار

✲ ✲ ✲

په سیند کښې دهستۍ لکه دشور یمه زه
دموج په زړه کښې پټ چه څومره خپور یمه زه
وم څاڅکی ،خوعالم ؤدنیسان راکښې پټ
ور کېږم،۰ادانه شوم هغه پور یمه زه

✲ ✲ ✲

زه چا یمه ویلی، هغه چا ویلی
زه هغه یم ویلی ،هغه ما ویلی
دنیا که افسانه وی،چه پاك رب ویلې
پاك رب یوحقیقت دی چه دنیاویلی

انګریز دمات قوت مارغه ته پر جوړوی
جهاز درعب یې مات ،ورله وزرجوړوی
جرمن مشت وګریوان ایله دروس سره دی
مور چې دی له پخوانه په خیبر جوړوی
۳ دمارچ ۱۹٤۱ غ

✲ ✲ ✲

خال نه ږدی دسینګار سامان یې کور پاتې شو
حمزه راځه زړور د تهمت تور پاتې شو
دا ښه شوه له څړۍ یې غلاف لری نه کړ
بې ډاره شه په سوړه کښې منګور پاتې شو

✲ ✲ ✲

یو رنګی چه کوم رنګ وی په ښه رنګ لیده شی
سینګار په اینه دحسن زنګ لیده شی
تعریف چه دبدرنګی دښایست کوی څوك
لایو په دوه له مخکښی نه بدرنګ لیده شی

✲ ✲ ✲

شکرې په سرو لبو دلر باوایی
نن نه کوی حیا ،صفا صفا وایی
انکار کړی دیارۍ نه په ښیوو نخرو
اکثر خلك په ټوکو کښې رښتیاوایی

✲ ✲ ✲

بینا سترګو زماؤ یو بشر لیدلی
هغه یې هم ډېر نه ، خو یو نظر کتلی
چه سترګې زما خپل وږی نظر وخوړې
که سترګو ورپسې زما نظر خوړلی

کړی ناز خوپه تکل دحجاب شوی نه دی
چې خوتیروی ،خوقصاب شوی نه دی
بنا یست کښې یې کمی لاد ځوانی ویښمه
دولت لری ،صاحب دنصاب شو ی نه دی

✲ ✲ ✲

زه هغه شاعر نـه یم چه در وغ وا یـی
دروغ هم بیا هغه چه بې فر وغ وایـی
حمز ه دی اینې غوندې بې روی اوریا
دانـه چـه د چـا پیوته به دو غ وا یـی

✲ ✲ ✲

خلوت ته یې لار نه مونده بهرا وده شو
ظلمات کښې شوستومان دیار په دراوده شو
قـانع شو جوړ خضر دحیا ت پـه چینه
لښمو کښې د ا شنا زما نـظر او د ه شـو

✲ ✲ ✲

زاهد کړه ګپلړه ډکه په بستر اوده شو
سپی وږی او نهر دچاپـه در ا وده شو
راویښ شو یوبې غمه چـه سحر را غـی
بل ټوله شپه په غم کښې ؤ سحر او ده شو

✲ ✲ ✲

داخلق زړه چاودون ته موسپدل وا یی
برهمې پر پښا نی تـه خند یـدل وا یی
روداد دمیـن زړه زما دګـل هسی دی
حـا لت تـه دفنا یې غوړ پـدل وا یـی

PROPERTY OF ACKU 5284

مضراب مې دبـنو دزړه پـه تار مه و هه
داساز خاموشه شوی په بار بارمه وهـه
ای بنکلیه! خپله یی دې چه پې لارې نه شی
دلاری در تـه وایم چه دالا رمه و هـه

مستی دپسر لی پـه ز ړه نوکـا رې وهی
له ستر گو مې خمار دمیو د ا رې وهـی
اسمان کښې دلپمو دی زماتال دبو ډی
فطرت بې خو ده شوی دزړه لارې وهی

ور پځو دچـغ ګرمې نغا رې وکـړی
بر قونو دتپغو نـو شـر ارې و کـړ ې
فطر ت ووې دزړه داغو نه وړم چپر ته
پسرلی ؤ چه د نیاته یې اشا رې وکړ ې

اوس پاهې مې دزړه نه دتوبې کړه لر ې
کیفونو ته ،مستی ته دروازې کړه لرې
ساقی پرپشا نه زلفې جام په لاس را شه
دد هر منتشر ې افسـا نـې کـړه لـر ې

په زړه یواسویلی ددې ملت را ولې
دا ابر، زما خدایه درحمت را ولې
مسکی لکه بریښنا په ځان ځانی کړې مونږه
باران له ژوندونه ډک دجمعیت را ولې

شك نشته هیڅ په دې کښې مسلمان یمه زه
دلوا ډ ګی باشنده یمه بنه ځوان یمه زه
هر ګز به فنا نـه کړ مه قامی امتـیاز
ژوندون مې هم په دې دی چه افغان یمه زه

✲ ✲ ✲

مشرب زمو نږه یو دین وا یمان یو دی
که بره دی که کوز همه افغان یـودی
کړ ومشت او ګر یوان مو نږه اقتدار د پرنګ
هیڅ نشته اختلاف پکښې هر شان یو دی

✲ ✲ ✲

پښتون له سره تپر دی قـر بانی پیژنـی
زمری غوندې په سینه کښې روانی پیژنی
ډومبی دا اتحاد نعره پښتون کـړ ې ده
دنیا جمال الـد ین افغـا نی پـیژ نـی

✲ ✲ ✲

پښتون دځان سره عالی نعمت را وړی
ساده یې آینې غوند ې فـطرت را وړی
جو هریې دی دقا م دپاره سر ور کـول
قر بـا ن چه یې غیرت او جمیت را وړی

✲ ✲ ✲

عا لم کښې دا سلا م بـه اتحاد شی پیدا
شیرین چه دا سلا فو هغه یاد شی پـیدا
پښتون تپشه په لاس کښی دی تیار و لاړ
دامه وایه چه دریغه که فرهاد شی پیدا

یو څو قدمه ګوره دهر چاسره ځم
اشنا سره او هم دنـا اشنا سره ځم
نا پوه نه یم خو کله نا پو هه شمه
لاچاره په دنیا کښې د دنیا سره ځم

✲ ✲ ✲

زه لاړم تنهایی ته ، خو تنها نه شو مـه
ما ځان له هر څه غوڅ کړ ، ولې ستا نه شومه
راوښیه کوم رنګ دی طلب وکړم اشنا
نیم عمر لاړ خو پوه په مدعا نه شو مه

✲ ✲ ✲

تقدیر می دخپل ځان سره پخلا و نه موند
قسمت له غرېوه ډ ك مې په خندا و نه موند
ملګریه! خدای دې غم در ځنې بېل کا ندی
په دې چه غم شریك مې په دنیا و نه موند



✲ ✲ ✲

تا نه و ینم له ځان چه تېر ېدی نه شمه
بیا ځان سره هم زه خوشحالیدی نه شمه
دروایې خله خرد ، را ته عطا کړه مینه
اوس نور خو په دې حال کښې پا ئېدی نه شمه

✲ ✲ ✲

تا غم زما سو اکړ ، خوسو ا دې نه که
تا زړه زما خطا کړ ، خو خطا دې نه که
لیمه ز ما تېر و د ا نتظا ر سپین کړ ل
څه ښکلې شپه دې را کړه خوسبا دې نه که

پویان یم ستا دمپنې دغره سر ته به ځم
همت مې نارینه دی نه‌چه بېر ته به ځم
بې ستانه بل د یدن په ځان حرام ګڼمه
که‌ستا دیدن‌و نه شی نوهم چېر ته به ځم

✿ ✿ ✿

نـیـلی ز مـا دشعر پـه جـولان‌دی نـن
جوړ خیال مې‌له زمینه‌په‌اسمان دی نن
رفعت ته‌زما ستو روکړلې ستر ګې بکی
یو ګرد ز ما د لا ر ې کهکشان دی نن

✿ ✿ ✿

مشکل دی چه‌اوس‌سم شی دعادت کږ لېچ
کږ لېچ شو لو د ذهن ، دفطرت کږ لېچ
داډېر ډېر تهذیبونه باو ړی شول ور له
دادی د بـنیادم د طبیعت کـږ لېچ ! !

✿ ✿ ✿

مسلم ته نظرو کړه ځان په ځان ګړ ځی
هریودخپل آئین لا ندې حیران ګرځی
هریو ځان ته و حدت او جمعیت وایی
لېکن په‌درې او یا ۷ کښې پرېشان ګرځی

✿ ✿ ✿

ډ ېر ډ ېر که افقو نه وی ، شفق یود ی
مسلم دې‌رنګ په‌رنګ وی، خوسبق یودی
حیران یم چه‌حق څنګه تعدد کړی قبول
داحق دی‌درې اویاواړه که‌حق یودی؟

نن ضبط مې لکه زړه دبې قرار و بهېد
راډوب شو، دلېمونه انتظار و بهېد
یخنۍ په تېر ېدو تېر یدوو کړ ګو زار
هنګی و کړ فطرت تر ېنه بهار و بهېد

✿ ✿ ✿

غوږ کښېږ ده معلومېږی چه اسمان وغورید
لږ و اوره چه څه وایی پسرلی و ګړېد
ډېر ډېر زړونه جدا لکه د څاڅکو اوسی
لېکن په دې نظام لکه باران وو رېد

✿ ✿ ✿

قدرت د هر عمل دپاره وار جوړ کړ
باران له څاڅکی څاڅکی یې یو تار جوړ کړ
هر څیز خپله هستی کړی په یو وخت ښکاره
او وخت یې داشیا ؤ له اظهار جوړ کړ

✿ ✿ ✿

ستا نوم مې په خوله راغی اسویلی دې نه شی
یو عرض در ته کومه، خوز بېر ګی دې نه شی
کوم شی چه زما ستر ګو کښې ستا رنګ لری
لاشی به ورته وایم هغه شی دې نه شی

✿ ✿ ✿

اشنا! ته خو پوهېږې چه بلبل څه ویل
بیا بېر ته په خندا کښې ورته ګل څه ویل
لېکن په تا بهار، چه دځوانۍ راغی
حمزه ته دې جواب کښې تغافل څه ویل

دا ما ر نفس به کله په کو تـك سم شی
هر خوځ چه کړی له ځایه هغه دم خم شی
یا بین د محبت دی او یا سوړه د مرګ
بې دې نه خو حرام شه که یې خم سم شی



د غم په و ینو کښلی افسا نـه ده ز مـا
حسرت دژو ند په لاس کښې پیمانه ده زما
دز ړه په پر هر و نو مې انګور ر اغی
سورۍ سورۍ بهېږی میخا نه ده ز مـا

قر بان دې شم له ستر ګو، غر څنی دې کړ مه
اشنا په نظر مه شې سپېلنی دې کـړ مه
ستا واخلمه بـلا، د دې هو ښیار و ستر ګـو
همد امې وه کمی چه لېو نی دې کړ مه

تل تـل ستم جفا کړ ه، عنایت مه کوه
هم هېڅ نظر پـه مـاد مرحمت مه کوه
پر ېږ دې مې که مې وژ نې هر چه ته کړ ې ښه دی
هر څه کړ ه در له ښایی، خو نفرت مه کوه

جذ به به ستا دمهر اود رحمت لـړ زو م
احساس به دې دلطف او عنایت لړ ز وم
دا ځای دسخاوت دی په ما لاس مه نیسه
ایو ان به د ې په چغو په حسرت لړ زوم

هیڅ پوهه په دی نه شوم، چه څه، ستا په زړه دی
ځان هم نه خبر وې، چه څه زما په زړه دی
سیند څه زده، چه مطلب د سمندر به څه وی
ما څه زده دی چه څه د دلر با په زړه دی

حیران یم چه بندیز د انتشار څه به وی
زړګی مې چه کړی جمع، هغه لار څه به وی
داستانه صد قه ستاد لو یې غوا یم
ستا زړه چه پرې خور سند شی هغه کار څه به وی

ستا مخ کښې رنګینی مې د بهار لید لې
د زړه د ګل قبامې تار په تار لید لې
د سرو اوسپینو پرک یې پریښولی نه شی
ده ستر ګو مې بر پښنا ستاد رخسار لیدلې

لیلی دار تقا چه ستا څېرې کومه ده
سند ورد کومې وینی دی، د یې کومه ده
ځنګیر چه د انسان د اخوت جوړیده
ما غږ کړ د پښتون په کښې، کړې کومه ده

فطرت راوړو دفتر، خو ګلو په شور لاړو
پسرلی څه ؤ خو وې کاره اور لاړ و
بې غا ښو ګل چه نه شو تلفظ کو لی
مقصد لکه نګهت ترې خور ماخور لاړو

کاروان در نگیږیو له مها ره نیسه
داجنس د پریشانیو وړه بهاره نیسه
مسکی مې لاداغونه، پخوانی دی دزړه
په مخه دې ګلونه ، خپله لاره نیسه

✿ ✿ ✿

پسر لیه! تاچه مخ داسې خند ان راو ړی
روداد ووایه، تاد کوم پریشان راوړی
هم ستادې مبارک وی، دازړه چاودی ګلان
مازړه د خپل زړه چاودی خوشال خان راوړی

✿ ✿ ✿

ماوې ماته به نه کړم ، داز هیره تو به
بیادا چه کړې ما ، په سپینه ږیره تو به
لیکن د پسر لی له مستو ستر ګو تـو به
نن ښکاری د ګر ږوان مې هره ځیره تو به

✿ ✿ ✿

تو به مې ځکه شاته کړه ، تو به خدا یه !
بر ږښنا د مخ یې ماته کړه ، تو به خدایه !
هر څو که ز ه تو به تو به نارې و هـمه
تو به وایی ما، ماته کړه ! تو به خدایه !

✿ ✿ ✿

حمـز ه د تعلـق دا ختـتا م نښـه د ه
دا ګو نجه یې وجدان ته دیودام نښه ده
اوس ګوره یې چه دومره نازېدې به په یار
تند ی یې څه صفـا د ا ستفها م نښه ده

نر ګس وې نظر لاړ ، چه تماشا راغله
ریدی وې چه دنیا څه ده سودا راغله
مقصد خویې دا داغ ؤچه رسوایې کړ لو
فطرت چه تخنو لمه خندا راغله

✿ ✿ ✿

د غم او د ښادی له کټا رو و تم
ستا عشق کښې دهستی له کنا رو ووتم
اوس ستا په نندارو کښې مې ژوندون خوښ دی
هر څو که له دې نورو نندارو و تم

✿ ✿ ✿

فطرت د رهبری که څه هنر راوړ
ما هم یې هر تکل لره نظر راوړ
لامو نږ دیو او بل نه بې خبر پاتې یو
هم دې بې خبر ی د چا خبر راووړ

✿ ✿ ✿

یم خاوره خوکا رونه د ګلزار کومه
کشته یم خو بښنګړه د بیما ر کومه
ستا زخم د عصیان دې خبر لوخ نه وی
مرهم غوندې ساکن اوسم خو کار کومه

✿ ✿ ✿

دا تګ دی که را تګ دی ورته یون وایی
هر څو که ورته «نن» «صبا» «پرون» وایی
هو هو! چه په تګ تګ کښې کله خوب ورشی
معلومه شوه ، هم دې ته به سکون وایی

بنکار یږی را ته دا چه حسا بیږی به نه
عاشق که ګناه وکړی ، عذا بیږی به نه
بنکارزن چه دښایست وی محترم وی مدام
باز ان چه کله مړه شی کبا بیږی به نه

✿ ✿ ✿

ګل ګل ته د مسکا راو ړی سبا پیغا م
ظلمت ځپلو ستر ګو ته ر ڼا پیغا م
همد اسې د پښتو ن دا تحا د په غر ض
را وړ ی د سر حد ته بې نوا (۱) پیغا م

✿ ✿ ✿

ارام دې د د نیا په میږ تو ن را کړ
خواهش دلوی طلب دې دمجنون را کړ
قربان دې دخند انه دا سر ارو شمعې
تاماته دپتنګ غوند ې ژوندون را کړ

✿ ✿ ✿

خوشحال که دولتمندوی، خو پریشان به وی
هر څو که جمع زړه وی، سر ګردان به وی
ګلشن کښې یو سحر شبنمی ګل وپو ښته
په ډ که خوله به خاندی، خو ګریان به وی

✿ ✿ ✿

د خیا ل له انقلا به وا قعات وز یږ ی
بیا پس له وا قعا تو حاد ثات وز یږی
دخیال په شه او بد باندې موقوف دی نظام
داخیال دی چه ترې ګټه او با یلات وز یږی

(۱) زما د مرشد لقب .

باران چه وشو للمې ګلشنی غوندې شی
چه غم ورسی حد ته خوشحالی غوندې شی
زر غون زما زړګی شولو په ډېره ژړا
چه تاندشی پشه کال د پسرلی غوندې شی

✿ ✿ ✿

اوس دایم د بېلتون له کټار و وو تم
اشنا کړم تماشا ، له تماشو و و تم
نور هېڅ نه وو- شراب وو چه اشنامې ولید
واصل شوم ور پسې چه له لمبو و و تم

✿ ✿ ✿

ما پرېږده څه سلګۍ مې د هستۍ پاتې دی
یو څو ګوټه نور غواړې څه مستۍ پاتی دی
ساقی د حقیقت لوړې لاست نه کوی
لا شوق د محبت کښې څه پستۍ پاتې دی
لواړګې - ۲۵ر۷ ر ٥٤

✿ ✿ ✿

اشنا پکښې تا خپل ښکلی لېمه و لید ل
هم تا پکښې کاکل ښکلی باڼه و لید ل
احساس خو آینې هم وکه، ستا دو جو د
دا وا یی له حیر ته چه ما څه و لید ل

✿ ✿ ✿

داڅه چه دلو ړتیا او د پستۍ کیسه ده
داڅه چه د نېستۍ او د هستۍ کیسه د ه
داراز مې د صهبا په پیمانه کښې و موند
دا ټو له ستا د ستر ګو د مستۍ کیسه

ر ا پا څه په کثر ت کښې فر دیت و ګټه
بیا و ر ك شه په ملت کښې ملیت و ګټه
عالم شوې ؟مبارك شه، خولا کار پاتې دی
غا یت د علم دا دی چـه حکمت و ګټه

کوم قام کښې چه احساس دفردیت را شی
ژوند و ن ا جتما عی شی کلیت ر ا شی
راغو نډ چه شی بځر ی متحد شی سر ه
لمر جوړشی ترې رڼا او حرارت را شی

توحید اور سالت

کثرت هله څرګند شوچه و حدت راغی
وحدت هله معروف شو چه کثرت راغی
رانګه دهر کمال د محمد (ص) سره ؤ
صورت کښې دانسان ؤ چه رحمت راغی

✿ ✿ ✿

با با در سالت او امانت راغی
خاوند د خلافت او ولایت راغی
صاحب د هدایت او شفاعت دا دی
حامل دسړ یتوب د نهایت راغی

✿ ✿ ✿

علت دسړ یتوب نه د پستی لاړو
نن رنګه یې د لیمو نه دمستی لاړو
پرتو دچادعکس وه،هیڅ ویلی نه شم
حیرت د آینې نه د هستی لاړو

✿ ✿ ✿

خپل ځان سره مونس احد یت نه شو لو
ترڅویې چه محمد (ص)واحدیت نه شولو
عرفان دمحمد(ص) ؤ پرله عقله او چت
ترڅو ابالحسن یې چه و حدت نه شو لو

خپل عرض به په نیاز، له زړه د باندې کړمه
دا نه چه به داو ښکو چینې تا ندې کړمه
کا سې چه دلېمو مې دی حضور کښې د تا
تروې او به نه ښایی چه در وړ اندې کړمه

افسوس به په دې څه کړم چه بندی یمه زه
دا خپل قصور زما دی چه یاغی یمه زه
تا نفس له سر کښی چه راته ډك را کړی
خو د ستا په مدعا ځمه عاصی یمه زه

میلاد النبی ((ص))

دا څرنګه رڼا شوه چه تیرې لاړې
لمر وختو دستور یو نه ډېوې لاړې
اشیاؤ را څرګند حقیقتونه کړه خپل
ښکاره دچا بشر شو چه پردې لاړې

ظاهر نه ؤ تر څو چه حقیقت دا نسان
پنهان ؤ له انسانه شرافت دا نسان
څرګند یې حقیقت کړ، دوحدت دوجود
ثابت بنی اکرم کړ لو وحدت د انسان

تاوده شول، ساړه شوی وو دژوند نبضونه
مسکی لکه ګلان شو خو نړی وختو نه
سلګۍ په قهقه شوه د ضمیر بد له
بې وا که په ګډا شول صراحی جامونه

بېړۍ دضمیر ماتې شوې له جبره وووت
کوم کیف ؤ چه صداد «انا الدهره» وووت
هر څیز دجهان، خوله لکه صدف پرانسته
څه برېښ ؤ، دنیسان له ښکلی ابره وووت

لواړګی - ۲۵ جون ۱۹٦٤ - ع

د خوشحال خان بابا مزار ته

(۲۶ مارچ ۱۹۴۹ع)

پښتونه چه ته اوسې یو تر بله خو شحال
ستا قام به په دنیا وی یو په سله خوشحال
طالب که د خوشحال د مدرسې یې نو هم
خوشحال به نه شې، څو نه شې پخپله خوشحال

✿ ✿ ✿

اوس کیف د مسرت مونږ ته انعام به شی
صهبا د ویښ ضمیر به راشی عام به شی
پسرلی ووې چه دامې ننه کې ده دز ړه
غوټی به شی ددې نه او بیا جام به شی

✿ ✿ ✿

یوڅو ند دې د د وام ، د قبر ګل ښکار ی
ملت پر ې منجا و ر ، لکه بلبل ښکا ری
تخریب دارما نو نو کړی، تعمیر د مر اد
داراز دې د مزار د پا سه کښل ښکا ری

✿ ✿ ✿

دې جز کښې د مزار دې رنګ د ګل ښکاری
رو یداد د لمر په دې بځر ی کښل ښکا ری
چه ژو ند د پښتون قام، له دې مزار نه منی
پښتون نه دی ، حمزه ته خو مغل ښکاری

پیغام دې لاغنچه کښې، بوی د ګل نښکاری
ار مـان دې لاسند رې ، د بلبل نښکا ری
وختونه دی پښتوته، برندی ستر ګی مد ام
هم ا سپې هم ګر دو نه هم مغل نښکا ری

وختو نه به ستا یاد له یا دو هپر نه کا
پید ا به بل افغا ن د تا په څیر نـه کـا
تا خښته دا سې اینې چه فنا نـه لـر ی
تپر یږی ز ما نه ، خو تا به تپر نـه کا

د دوهم لوی جنګ د سولې تاثیر

(جمرود - دمی ۱۲ - ۱۹۴۵ ع)

تمثال د سړي توب لره لا رنګ پاتې دی
لا ډېر یې د فطرت په ښېسښه زنګ پاتې دی
کړه وړه کښې امن راغی خو لا ژوند نشته
حاجت شو نورو وینو ته لا جنګ پاتې دی

✿ ✿ ✿

شو ستون د جنګ خزان خو لا پسرلی پاتې دی
زړه ډک دی دغو نچو خوا سو ېلی پاتې دی
دنیا د خو شحالۍ چمن ته تلی نه شی او س
په پښو د عافیت کښې لا اغزی پاتې دی

✿ ✿ ✿

اور کم شو په یورپ کښې، خو لا باد پاتې دی
خاشاک د مادیت او استبداد پاتې دی
یو د و د دا سو ېلو په مستقبل کښې وینم
جل بل دی مر یی توب لا یې فریاد پاتې دی

✿ ✿ ✿

جنګ خلاص شو خو خاشاک د استعمار پاتې دی
اور مړ شو د خو ږلن لاندې انګار پاتې دی
څو سا د مادیت په باد چه اخلی انسان
دنیا لا جهنم ده هم یې نار پاتې دی

د صابر شینواری په مرګ

تنکی ځوانی، صابر یوه له ځانه سره
غنچه ځی، پټې ستر ګې، د خزانه سره
نیمګړی، د نیمګړې د نیا باغ و ګڼه
آ ښکلی یې ضمیر د ی د ار ما نه سر ه

✲ ✲ ✲

چـه مینه له یـارانو یخه شو ې وه ستا
که تومنه د ژوندن به پخه شوې وه ستا
واده ته هم ایسار نه شوې صا بر ه ولې
ښپوه د کومې حورې خوښه شوې وه ستا

✲ ✲ ✲

د ا غو نه مې د تا د مینې و ړ ی ا شنا
ستا باغ د ځوا نی ګلو نه، سپړی اشنا
ر ا تلو نکی دی بهار، زه په زندان کښې یمه
په خو نه کښې مې ډ پر سور ی جوړ کړی اشنا

ځلمو ته سوال

یو سوال در ته کومه ای ځلمو ځلمو!
ملت د پښتا نه کښې مېړ نو ځلمو
دا غږ د مستقبل دی د حمزه په ژبه
ژوندی کړی ء خپل ادب خپله پښتو ځلمو

✲ ✲ ✲

چه پرې نه وزی په ښکته پښتنو، پښتو
کړی ء جګه تر اسما نه مېړ نو پښتو
کړی ء سور داسې تارو نه دملت د رباب
چه هره پر ده غږ کړی چه پښتو پښتو

✲ ✲ ✲

محفل کښې د پښتون چه بله شمع وینم
هر کس له خوښۍ ډك روښا نه شمع وینم
پر پشانه پتنګان د استعمار د تېری
اعجاز به وی د چاچه یې را جمع وینم

✲ ✲ ✲

پردۍ ژبه په خپله خوله کښې څه ښکاری
وینا د بل په ژبه خوښه نه ښکاری
په خپله خوله پردۍ ژبه د بل خبرې
لږ فکر وکړه بدا و که به ښه ښکاری

لواړګی -۸- اګست ۱۹۵۶ غ

ځلمود «حال» غوټود «استقبال» ګلونو
ژر ژر رامفصل شيء دا جمال ګلونو
خپاره مودفترونه کړيء دضبط او نظام
وږمې مورا خپرې کړی لکه جال ګلونو

اباسينه ته

په زغل دی اباسيند د سمندر په تکل
دا ځکه چه ور کوټی وی دستر په تکل
ای قامه که ژوندغواړې په ملت کښې شه ورك
دی ستوری چه رڼا لری دلمر په تکل

✿ ✿ ✿

هردم دې نوی ژوندوی دسيندونو پلاره
ماحول دې څنګه مړدی دموجونو پلاره
ګرداب دې جوړ تخليق دنويوزړونو کړ هېر
رايادکړه زوړ ګردان دتاريخونو پلاره

✿ ✿ ✿

موجونه دې که څوسره په جنګ وی مدام
لکن په جمعيت کښې څنګ په څنګ وی مدام
ستاخوی په پښتنو کښې پيدا نه شو ولې ؟
هر يو د بل فنا لره نهنګ وی مدام

دافغانستان داستقلال جشن

پښتونه د سيالۍ او دښادۍ ورځ ده
نن ستا د ښه ملت دا بادۍ ورځ ده
فرعون که ؤ دښمن خوستايې حق منلی
دا ستا د حريت او ازادۍ ورځ ده

پېښور - ۲۷ مې ۱۹۶۶ ع

نوی تخلیق

پسرلی چه راشی څیرې ګریوانونه راوړی
وحشی او پرېشانه نګهتونه راوړی
ځولۍ کښې دپسرلی نوې تحفه نشته دی
چه راشی هم هغه زاړه ګلونه راوړی

✿ ✿ ✿

دالمر دی که سپوږمۍ، نوې رڼانه لری
بې دې نه چه وی، نور سبا بېګانه لری
دازه یم چه هردم نوی تخلیق کومه
فطرت هم هغه زوړدی ارتقا نه لری

✿ ✿ ✿

پسرلی کښې دکلۍ نه زړه چاودون زده کړه
بیا چارې د شمیم نه دمجنون زده کړه
بلبل ترجمانی د ګل دزړه وکړ له
وې پړک له خنداوچوه اوژوندون زده کړه

لواړګی، ۳ مارچ ۱۹۶۵ ع

✿ ✿ ✿

ګل حال دپرېشانۍ دبوی په رم ونه وې
حمزه دجمعیت په باب څه کم ونه وې
وی لمرته سترګې سترګې د ګل غېږ پرېږدی
رویداد دجدایۍ چېرې شبنم ونه وې

غوټۍ وې دګرېوان دڅیرولو وخت دی
پټ راز چه دبهار دی دسپړ لو وخت دی
بلبل ووې همد غه دبدلو وخت دی
نګهت ووې چه نه ،دالو تلو وخت دی

که ګټه ده هغه ده چه تاوان یې نه وی
ارمان دهغه څه کړی چه ارمان یې نه وی
پسرلی به ځی راځی چه دفطرت دی غلام
پسرلی دزړه پکار دی چه خزان یې نه وی

شاعر ته

نبـا ضه دو خـتو نـو د مـلت حکيـمه
شاعر ه ، ننـګيا ليه د و طن نـد يـمـه
ته ژاړې او که خاندې خو يوژوندر اولې
پسر لې پسې پسر لی شی دو طن پـه سيمه

✿ ✿ ✿

ستا زړه دی ، زړه د شمعې چه رو بنا نه اوسی
سوز يږی او بليږی خو خند ا نه اوسی
ژوندون يې خپل په داروی دملت لهغمه
په شاو خوا تپرو باندې ځريا نه اوسی

✿ ✿ ✿

را پاڅه دوختو نـو نه قلمنګ وا خلـه
د فکر اود قلم تو ر ه د جنـګ وا خـله
نقشه کښې دوطن چه څه کمی وی درنګ
را پاڅه له حالا تو هغه رنـګ و ا خله

✿ ✿ ✿

يې روح دد ې وطن اوتن وطن ستا د ی
بيا روح دخپل وطن دپا ر ه تن ستا د ی
بېلتون خوپه ر باب اوپه نغمه کښې نه وی
يوتن ، وطن اوتن دی ، تن وطن ستادی

خبر یې هغه څوك دی چه سبحان نه منی؟
بیا پسته محمد (ص) هم یې قرآن نـه منی
پښتونـه د حمزه دخولـې نـه دا واوره
داهغه بدنصیب دی چه احسا ن نه منی

د خپلې محبوبې په غم

چه وخت دې ټپر یږی ، غم دې ډپر یږ ی
ته را یـاد یږې ، ګمان مـې هپر یـږ ی
پـه تـا شـوه ټپر ه ، د زړه مپـر مـنې
زه ټپـر و م یې ، نـه چـه تـپر یـږ ی

✿ ✿ ✿

وخت دمابنام دروژې اذان دی
وړوجوړ کړی ، لاندې توفان دی
محبو بې ګرانې تبری وفـا تې
شر بت دوینو مې درقر بان دی

✿ ✿ ✿

زمادزړه نه ، قرار دې یووړ
ددې چمن نه ، بهاردې یووړ
ستا په شینوا ری ، بې وار ه غم دی
ته شوې بې غمه ، چه وار دې یووړ

پښور ۱۵، ۹، ۴۲

✿✿✿
✿✿
✿

ځلمو ته

دسیند غوندې مقصدو ته په دواوسیږی ء
دقام دحیا ناکو ستر ګو نو او سیږ ی ء
پخپله تر بګنی کښې چه خپل قام نه شی هېر
چپوغوندې په جنګ اوسی ء ، خو یو اوسیږی ء

✲ ✲ ✲

چا ته دعا کوې ، چا ته ښېر ې کوی
چا لره تور ې ، چا لر ه سر ې کو ې
شینوار یه ! واوره اسره په خد ای کړه
تر څو به خلقو و ته ا سر ې کو ې

✲ ✲ ✲

پر ا ته و ی ستړ ی تل له و لا ړ و
ځا ن لکه ژ به سا ته له دا ړ و
شینوار یه ! بل څوك به دې په کار نه شی
تا لو خولو ند وی ، په خپلو لیاړو

✲ ✲ ✲

وخت نما ز یګر دی ، ځی په تلو ار دی
ز ړ ګی مې بې تا ، ډ ېر نا قر ار دی
جوړ ما یا دو ې ، د خیر د ې یا د شې
تر میا نه زمو نږ ، دز ړ و نو تا ر دی

سمند د عیش چه شی په تر پکه
ایسار به نه شی د غم کو تکه
که وی دعقل شه سوار سپور پر پ
تعلیم یې کړ ی وی له از بکه

✿ ✿ ✿

متو کل چه و ی هغه پسخا ك نه لر ی
فلك صفت وی په کور که خاك نه لری
شینوار یه ا و پر ه له غما ز څه کړ پ
ز ر چه صفا وی له او ره باك نه لر ی

✿ ✿ ✿

شهدو شکر شه ، ز هرو کښې پر شه
چپر ته بالا شه ا و چپر ته ز پر شه
نبه به وی داسې چه څوك دې توکړی
د چا تر حلقه شینو ا ر یه تپر شه

✿ ✿ ✿

ته دو صال او فر اق په با ب کښې
مه کړه تحقیق یې په خو ند عذاب کښې
دا نعام ز پری دسز ا وپره نبه وی
هله چه حال یې وی په حجاب کښې

✿ ✿ ✿

له بحر ه وو تې لکه کو هر شه
ذ ره پر پشا نه وی لکه د لمر شه
طالب العلمه اوس چه کامیاب شو پ
لکه ز هرو و پ ، هسې ر هبر شه

که جمع غواړې، نو خرڅ دې جمع کړه
چه خرڅ دې جمع شي، د جمعې طمع کړه
تپل دې بې کاره دی چه بې له کاره دی
محفل رڼا غواړی رو بنا نه شمع کړه

✿ ✿ ✿

د یار په سر کښې غرور هوا ده
ز ما په زړه کښې عجز و وفا ده
دزور ورو دوستی ده مګر انه
د میاشې نه شی یاری له با ده

✿ ✿ ✿

خر د حمزه ته سر په پښو ردی
پرې اښې ولې تاد زړه کو ردی
له صحرا غو ټ کړه د بنهر لور ته
ته یې که نه یې هلته کښې شور دی

✿ ✿ ✿

د برق صفت شه له ستر ګو تېر شه
چه نه جارو زی، دور ځو پېرشه
یار ته به هلته رسې شینواریه
له خپله ځا نه پخپله هېر شه

✿ ✿ ✿

چه زړه روښان شی د عشق په کار کښې
تیاره د سبب سوځی په نار کښې
شینوار یه چه شی رو بنا نه شمع
لو ګی شی تر پنه بیا په رفتار کښې

بیا راغی ژمی و ا ر د شلغم د ی
صفرا کړه او ډی ماته ، بلغم د ی
مز ه نیشکر ر ا و ړ ه شینو ار یـه
هر چا لره نن جو ړ پ نل غم د ی

✲ ✲ ✲

د انوپ نو پ چه ز ه تو ب کړ م
د نفس اود زړه تر منځ جو پ کړ م
ناسوت، ملکوت مې په یور نګ کړ ل
زه یـم لا هغه هسې پیر پ کـړ م

✲ ✲ ✲

سرخی کړ پ اشنا او نه غازه کړ پ
ز ما ا سو پلو تر و تا ز ه کـړ پ
غـر و ر مه کو ه د ګلا ب ګله
نسیم د سبا تـه خـپر ا ز ه کـړ پ

✲ ✲ ✲

ته یې که نه یې ډک یـم لـه بو یـه
کو پ ا سو پلی له خپله خـو یـه
یو با د یې با ده نور څه خو نه یې
نسیم یـا د پـږ ی زما لـه ر و یـه

✲ ✲ ✲

تو ب مې وکړ پ زهد په لاس را نه غی
چه مې کړ پ ما تې خوف و هر اس را نه غی
پر هر د ز و لن نـه ا شنا نـه شو
نه بښه شوم نه بد، مرهم پر پ را س را نه غی

زړګیه ولې داسې په شور یې
سرا و تندی و هې، ولې نسکو ر یې
اشنا که نشته خیال خویې شته دی
وحشی ته ولې اوس له خپل کور یې

✿ ✿ ✿

بل مې په زړه کښې شول چر اغو نه
د اشنا تګ کړ ل تا زه د ا غو نه
پسر لی چه لاړ شی واوره شینوار یه!
د پا ڼو ګلو ډ ك شی با غو نه

✿ ✿ ✿

یا ر چه کم سن ؤ ما ا نتظا ر کړ
اوس چه دی ځوان شو ځکه مې یار کړ
شینوار یه! ګل چه جوړ له غوټۍ شو
بلبل پرې ځکه بیا جوړ کو کار کړ

✿ ✿ ✿

بد چه تو به و کا راضی تو اب شی
نېکی ثا بته، ګناه یې خو اب شی
دین غلط کارو ته هم انعام ور کړ ی
په سجده سهوه یې نور ثو اب شی

✿ ✿ ✿

نېك یې په بد و چه ته تا خیر لرې
بد یې چه بدو و ته زړه خیر لر ی
شینوار یه غم مه کوه چه کامل پیر لرې
څه کامل پیر لرې چه ویښ ضمیر لرې

نېکان و بل ته ستړی مشی وایی
هم په جواب کښې ورته خوار مشی وایی
چه دا سې نه وی نو لېو نی دی
پیشو ته کورې او سپی ته پشی وایی

✿ ✿ ✿

فاروق (۱) را نه غی وخت ما زیګر دی
د سرای تمبو ته ز ما نظر دی
نظر مې درومی په کوم یو ګل پسې
دا په خزان کښې د څه اثر دی

✿ ✿ ✿

خدایه صفا مې کړې ز ړه له زنګه
له کفر و شرکه، د فساد و جنګه
محتاج مې مه کړې و ما سوا ته
همیشه ته شې ز ما په ننګه

✿ ✿ ✿

الفت د عاشق په زړه ضرور وی
تیاره یې د غم خندا د نور وی
او به د ژوند وی خو ښکاری زهر
ترخه وی شراب، خوږ یې سرور وی

✿ ✿ ✿

پټو کښې ځای ځای دی کور پسری (۲)
استو ګنې د غم نه ګر ځی بری
په سیل د قدرت تر و تازه دی
خبر ترې څه دی دا کور بصری

(۱)ـ محمد اکرم فاروق شینواری (۲) خانه بدوش

برناته تورې ، پرۍ دچین ښکاری
وږی څاروی ته بیابان شین ښکاری
په خپل خپل رنګ وی هر څه شینواریه!
خوواورو تللی ته هر یو شی سپین ښکاری

✿ ✿ ✿

روښان دې مخ وی چه خاندې خاندې
تېرې دې زلفې چا پېره باندې
په هر وصال کښې غم د فراق شته
تیاره ضرور ده د ډېوې لاندې

✿ ✿ ✿

حال څه شی چه راز دعشق په خوله شی
وطن مې دزړه اوبه اوبه شی
د تنګې نه د سیند حال ته ګوره
نظر کوه څنګ یې تېر ېده شی

✿ ✿ ✿

دسر کونو په غاړې غاړې
د بجلۍ د نګې ستنې ولاړې
ګوری په ښکته سر یې او چت دی
ددوی په څېر شه که لویی غواړې

✿ ✿ ✿

د غره لمن ده سر سبزه لاندې
ډکې وریځې راغلې پرې باندې
په شاه لطیف کښې دډمو رقص دی
که تاروګی دی له شوقه خاندې

که دې په عمر چا ته اسره شي
هغه اسره به په وینو سره شي
شینواریه خدای ته غم دسبا پرېږده
دد نیا کار به کله پوره شي

✡ ✡ ✡

سفر له ځانه، ځان ته سفر دی
نظر وبل ته، ځان ته نظر دی
خیال دې وبل ته، ځان وته خیال دی
په آینه کښې هم ستا بشر دی

✡ ✡ ✡

لږ تعلق هم د دنیا غم لری
انقلاب نشته چه څوك ترې رم لری
بوټی به هغه قلمی نه شي
پاس په تنه چه ښا خو نه کم لری

✡ ✡ ✡

سېزل ګڼه سول دوه طرف اور دی
چه لمر دی ګرم سوی تک تور دی
چپیا کړی د ګل، بلبل په چغو
یو زه نه یمه، فطرت په شور دی

✡ ✡ ✡

درده دا ولې نن را بېدار شوې
له کومې لارې، په کومه لار شوې
ای دعو یدا ره د مړ ښت ولې
داسی تر زره بېر ته نهار شوې

په ستر ګوزې کښې مې ځای شه درده
خلوت جلوت کښې نمای شه درده
ژړا ژړا شه مې های شه درده
کاروان مراد دی ته سرای شه در ده

✿ ✿ ✿

زما د ستر ګو نظر شه درده
بیا لکه برق تړې بهر شه درده
د زړه د نیا مې چه نا سو تی ده
ملکو تی یو ، خبر شه درده

✿ ✿ ✿

که را بیدار مې شې درده درده
د زړه دنیا مې ده سر ده سر ده
د ما سو اغم را ته حجاب دی
لکه د پرو نه یم له خپله ګر ده

✿ ✿ ✿

زه پ ه ځوانۍ کښې ضعیف کړم یم
پا تې له لاړې ، که په لار سم یم
چه ایښی شوی ، نه پورته کیږی
د عشق په لار کښې هغه قدم یم

✿ ✿ ✿

که د عالم او د بزرګ زوی شوې
چه علم نه لری نو څنګه پوی شوې
چه هنر نه لرې دعوی دځه کړې
چه سخو ندر نه یې نو کله ګوی شوې

چه را په یـا د شی بنکـلی صنم مې
ستر ګوتـه راشې د زړه ګی نـم مې
او بـه دژوند مې دمخ پـه یـا د ځی
ـنګهت د ګـلو پـه هـرقـد م مـې

✿ ✿ ✿

د ارو دې خـه کړم د عشق فـا لجه
طمع بـه خـه کړ م لـه معـا لجه
د دې مریض شی طبیب په دې کښې
زده کړ ه یې نشته له یو کـا لجـه

✿ ✿ ✿

چه سرداری کا ، هغه خواری کا
هغه خواری کا ، چه سردار ی کا
ز مینـد اری کا ، ثمر یې و ا خلی
ثمر یې و ا خلی ، ز مینـد اری کا

✿ ✿ ✿

پـه آیـنه کښې د هستی و ګـو ره
پکښې څپل عکس د نیستی و ګو ره
مر ګ دی که ژو ند دی پکښې رنګین نښکاری
دفطر ت لو بې او هستی و ګـو ر ه

✿ ✿ ✿

په ګل د بلبل تر ا نه و ګـو ر ه
د ر ند کعبه ده میخا نه و ګـوره
عقل یې چپر ته په عاشق بدمه وا یه
بت پر ست ګوره بت خا نه وګوره

✿ ✿ ✿

واصل په جوش کښې و ی سینه نه وینی
بر په بر جل چه شی نوزینه نه وینی
شینوا ریه ا و ځی نسبت له منځه
څو ك چه خپل عکس وینی آینه نه وینی

چه وایی مه‌وایه، چه نه وایی ته وایه
چه نه‌وایی ته‌وایه، چه‌وایی مه‌وایه
چه بدوی بنه‌وایه، ترخه خوابه وایه
ترخه خوابه وایه، چه بدوی بنه وایه

✿ ✿ ✿

کاسه دستر ګو دحریص پوره نه شوه
دزړه آرام یې دد نیا حو ره نـه شو ه
قا نعه صبر کوه بیا پس له هغه وایه
که بې‌حجا به نه شو اومور پرې بوره نه شوه

✿ ✿ ✿

شپه چه په ستر ګو کښې څوک سبا کا
اد یار په غم کښې چـه وا ویلا کـا
هغه صادق نه وی ، صادق هغه دی
چـه خوب په ویښه دیـا رر ضا کـا

✿ ✿ ✿

چه څوک ژړ انـه کا، هغه ژ ړا کا
چه څوک ژنا نه کا، هغه ژنا کـا
مرض غو ښتـل هـم درنـځ دوا ده
چه څوک دو انه کـا، هغه دوا کـا

✿ ✿ ✿

چه غم بوره کړل ،موردې پرې بوره نه شی
له توره نه جا روزی ،ما ته‌دې، توره نه شی
چه څوک پوره وی د ننګ په کـار کښې
ځولی دسوال به یې چیرې پوره نـه شی

کلـه بـه د غـه وړی شړی شی
شړی ویښتهدې که سپین وړی شی
دښمن به چیرې په ښو خپل نه شی
شینواریه ! تیرې کهسل پیړی شی

✿ ✿ ✿

وا عظه نو رې خـبر ې وا یه
ګنډیردې بس کړه ، شکرې وا یه
لـکه بلـبل شه ښـیو ه بـیا ن تـه
سند رې وا یـه ، نا درې وا یـه

✿ ✿ ✿

در له سزا شی خپله جـزا ستا
سز ا خو خو دوی در له سزا ستا
نیکی کو ې د بـدی د پا ر ه
غزا غزا کا نـدی په غـز ا ستا

✿ ✿ ✿

شینواریه ! ما ته دٹنا خو له کړ ه
د بې رنګی استا زی مله کړه
چه یاردې نوم اونښان هیڅ نهلری
د بې لا ری په لا ر ه تله کړه

✿ ✿ ✿

چهمـې شرابو وتـه کاتـه شی
توبه ، دزړه نه مې پهواته شی
تل ماتول وی ، توبه کول وی
دلمرخاته وی، بیا پریواته شی

لاپې چه هر څوك د خپل هنر كا
مستی په جر جر- لكه دخر كا
كيميا له بل نه ، نه له خپل ځانه
چه بل يې وښيي نو تاميه زر كا

✿ ✿ ✿

زيا ت شو لوعمر ز ما له د ير شو
په نا پوهۍ ا و مستۍ كښې تير شو
اوس چه عا قل شوم د د ې نه پسته
لږوی كه ډيروی وا يم چه ډير شو

✿ ✿ ✿

د يا ر جو ا ر يې اوړه او ړه كا
لكه چه ژر نده د جو ار ز ړ ه كا
اوچه يې پو خ كړ ی پخلی د مينې
بيا يې په مينه خلق خو ا ړ ه كا

✿ ✿ ✿

مين هغه كا ، چه پتنګا ن كا
غه ليونی كا ، چه عا شقا ن كا
عاشقان هغه د ی چه صاد قان دی
صادقان هغه دی چه فنا ځان كا

✿ ✿ ✿

چه شپه شی تير ه سحر خند ا كا
د غه خند ا مې تل په ژ ړ ا كا
څوك په خندا دی څوك په ژړا دی
څوك دی هغه كا ، څوك دی چه دا كا

که نو ې نـوې ا شنا جفا کـا
ستـمه نسوې نـو ې په مـا کـا
لس نو ې نو ې، نو ر ې زړ ې دی
که دا په ما کا ، نو ی په چا کـا

جنډه دسخا چه هر څو ك لکه کا
کو ی په همت نه یی له لکه کا
دولت چه خو سا نه کړی سخی د ی
منګل د سخا به یې ملا کلکه کا

تل یې هنره لا ف د نسب کا
نه یې په دین کا، نه په خپل رب کا
چه نه یې د ین وی نه یې سادین وی
ادب یې نه کیږ ی او نه اد ب کا

غر یب مې تکل د ډ ېر مګر یا ن کـا
دتن و طن به وران په طو فان کا
شینوار یه! نشته په دې کښې شك څه
وریځ چه مګر ځی اخـر با ران کا

چه مـر غلر ې غوا ړې غو پې شته
دغم په سینه کښې دعیش چپـې شته
« فاروق » چه غواړی د دنیا ناوې
داسې ځلمی لر ه سختې جو پې شته

غنـی چه هر چا لر ه څـه و ر کا
بـیـا یـې ز باد نه ورشی په‌ور کا
غنی یې مه ګـڼه، غـنی هغـه د ی
غر د نې‌کـی چـه د مـچ و ز ر کا

✲ ✲ ✲

چه د ر و ا ز ه شی د کر م بېر ته
ما بد بخ‌ـی کړ ې ځنې په بېر ته
چه د کـر یم نه څو ك بې نوا شی
ووایه بیا به چه د ر و می چېر ته

✲ ✲ ✲

چه پوخ په کار کښې د پاس انفاس شی
تر ې مخا لف‌ـی چه نا سپا س شی
خیا ل یې جو ړ نه وی و آ ینې ته
چه پکښې عکس له چپه ، ر ا س شی

✲ ✲ ✲

دا سې به ښه وی، ښه پرې خبر شه
دعا قـلا نـی پـه و یـنـا سـر شـه
که سردې رو غ وی په سر خبر شه
ګڼی په غر و نو ر غو نو سـر شه

✲ ✲ ✲

بیا پسر لی شو د تن نـها لـه
خا لی د ې شو له د ز ړ ګی جا له
مر غان ترې د ر و می دفر یادونو
له بر قه تښتـې د چـا تـر جـا لـه

نن په غصه کښې چه داسې ز ېړ يې
چاز يړ ې کړ ی چه په ملا تړ يې
دښمنی مه کو ه کـه عقـلمند يـې
غا ښ به‌دې مات‌شی مه‌چيچه تړ ې

✿ ✿ ✿

تر څو چه نـه و ی د عقـل ر ڼـې
د خو شحا لۍ نـشتـه کـر کـڼـې
مچ د حر ص چه په ا لو ا تـه شـی
په جا ل يې نيـسی د مـکر غـڼـې

✿ ✿ ✿

لذ يذ شر ا ب و ی پکښې ا يشېږ ی
لو ښی د ز ړ ه مې تر ې نه‌تشيږ ی
وينه زما چه د ه ، تو ر ه پخه د ه
ر ند ا نو ر ا شی ا و س به و ېشيږ ی

✿ ✿ ✿

په‌کور کښې ځوا نه لـور د حيا لـور ده
پټه‌په کور کښې ښکاره هر لور ده
په سا د ه تـو ب يې چه غلط نه شې
څو که نا پو هه په در ې څلور ده

✿ ✿ ✿

چه د ې حا فظ شی د بل د تېـغ نه
هغه خو ډ ا ل د ی، مه‌ګڼه تېغنه
ا فت به نه ر ا ځی که ته سخی يې
که ځان دې وسا تې تل ددر ېـغ نه

دژوند په سیند کښې شناز د صبر ښه دی
لکه د «قدر» د قدر قدر ښه دی
په چپو باندې چپه شه پورې وځه
ګڼه په تل کښې در لره قبر ښه دی

✿ ✿ ✿

په فن د مکر و ریا کښې طاقه
د هستۍ شرمه په تهذیب شاقه
د زړه په طاق کښې ډېوه د نور نه لرې
تور زړه په بد و لار و ځې چاقه

✿ ✿ ✿

چه نفس دې نه اوړی له بده کاره
رڼا یې غواړې د څه د پاره
تر هغه مه کوه امید د فصل
چه خپل پټی دې نه کړې شد یاره

✿ ✿ ✿

د ملك پټی دې مه شه بې ګوډه
ما ته دې مه شه د همت ګوډه
دغلامۍ د ورېځ نه بچ شه
چه مو ثره یې نه شی کوډه

✿ ✿ ✿

نا جاڼه کوڼه ژړامې واوره
ولې دې یخ دی زړه لکه واوره
ته له غرور ه ګورې اسمان ته
زه ښکلوم دې د تلو خاوره

چه خوف اووېره څوك دخپل سر كا
د نفس كلا به څر نګه سر كا
عقل رهزن دی دعشق په لار كښې
شيطا ن به څه كا، څه چه هنر كا

✿ ✿ ✿

پوی شه پرې ته چه په څه را نه غلې
څه خو راغلی يې، كه څه را نه غلې
ديار نسبت هم ديار وصا ل دی
شته جدايی دې كه ته را نه غلې

✿ ✿ ✿

كه په سپر وی كه په ګتكه وی
كه وی په تو ره كه په چو كه و ی
بد ن دې وسا ته، ګڼی نو پو ه شه
چه كوم ځای خوږشی هغه سكه وی

✿ ✿ ✿

زه د ې قر با ن شم د هند برسا ته
په پشه كا ل كښې ګر می د ه ما ته
په (فليره) كښې چه ګا ډی ود ر ېد
ښكاره ډ نډ ونه شول ځای په ځای ما ته

فليره ـ ٤ر ٨ر ٤٠

✿ ✿ ✿

دازه چه ګر ځم په خپل حبيب پسې
دزړه مر هم لره چه په طبيب پسې
وايی په خلكو پسې ګر ځی نصيب خپل
زه دايم ګر ځم په خپل نصيب پسې

کو مې کا نـې چه په مـا حبیب کـا
لـکه چـه ګل یې په عـند لـیب کا
همه غوږ غوږ وی خو فریاد نه اوری
ځان که ترې لرې او یا قر یب کا

✿ ✿ ✿

دیار له جوره مړ شی یوځل سوځی
چه څو ک پخپله سوځی له هغه بل سوځی
پتنګ جل بل شی له غمه خلاص شی
بیا پسته شمع و ګو ره تل سو ځی

✿ ✿ ✿

نه خوز ه شمع یم او نه پتنګ یم
نه پـیر فقیر یـم او نه ملنګ یـم
سوزوساز نه لرم، زه حمزه هغه یم
د بی رنګی په رنګ کښې رنګ یم

✿ ✿ ✿

لټې او سطې بـویه نه دخـره کټې
په جر جر مه مستیږه مه و هه لټې
د سړی توب په ځای چه ما کټې ته
نـه د ې وجـود ؤ او نـه دې پـټې

✿ ✿ ✿

اراده کلکه لره، په پستومه پستیږ ه
همت بلند لره په خوی کښې مه پستیږه
په خو شا مد و د چا غلط مه شه
د خره په مثل په جر جر مه مستیږ ه

بد په بد ی ې پسې تو به فضو له شی
لکه لا هو چه خلی له ځو له هی
نژ دې در شل ته چه شی تمبه شو رنه کو ی
ور و ستی ګناه بنه ده تو به قبو له شی

✿ ✿ ✿

ګلو شه د میني ، و با غ ته ګلې شه
د بلبل غو ند ې له مستی ګلو شه
که ګوډ اوشل یې خو ناب اخراج کړه
په خپله خو نه کښې د ګلو وډ شه

✿ ✿ ✿

خوښ د زړ ګی به می کله کم شی
نه په د عا شی ، نه په مر هم شی
پخوا چه کوم کار ستا په کرم شو
او س به هغه کا ر ستا په ستم شی

اجمیر -۱۱-۸-٤٠

✿ ✿ ✿

چه ځوانی را شی اداېې وشور وی
خپله خبر ه بې ضد ه نه نو ر و ی
شینتوا ریه! ځوان خو په مستی بنه بنکاری
بنه بنکاری سر وی چه بادیې وښورو ی

✿ ✿ ✿

ځوا نانو لره خوا هش د وا و ی
زړ و لـر ه غـم ژړ ا قضـا و ی
شنې پا ڼې په با د مستې تا ز ه شی
پر پوځی و چې ، سر په غو غا و ی

دهلی -۱۵-۸-٤٠

داد لویی د پ چه لا فې کا ند پ
پوی شوم په عقل پورې د پ خاندپ
مقا بل مه شه د زړ ه خا و ند ته
برج یې دلوړ غره په لمن با ند پ

✿ ✿ ✿

ډېر یا د و ل د یا ر هېر و ل د ی
کارو ان له سر ایه ژرتېر و ل د ی
په اند ا ز ه یې کا ر و ل بنه وی
شکست دتو ری ډ پر تېر و ل د ی

✿ ✿ ✿

رقیب چه وینی یې کو کې سپینې
ور ته یې مړې شی، له وا ره سپینې
شینواریه! مه وینه دا څه چه و ینی
چه ځی داوښکو په ځای د پ وینې

✿ ✿ ✿

ا ی د پی مخی د ستر ګو ډ نډ ه
که مې خړو به کړې د ز ړ ه ډ نډ ه
پسرلی پرې راوله چه ګلستا ن شی
چه د بېلتو ن په خزا ن د ه شنډ ه

✿ ✿ ✿

چه مې په برخه ر ا غی شبا ب شو
په و ینه مست یم پسرلی مې خواب شو
اوس وخت دمېودی ،ساقی راوړه
په اوردعشق مې، چه زړه کباب شو

زه دې لمر مخیه له هجره یا ره
ستی په عشق دې کړم بې انګا ره
زه دې وصال کښې له هجره مر مه
نه چه له عاره او نه له نا ره

✿ ✿ ✿

تو ر پ و ر یځې ، د چا له غمه
د نیا لمد ه کړ پ له خپله نمه
خند ا د چمن ستا له ژ پ ا د ه
تا ز ه ګلونه د ی ستا له د مه

✿ ✿ ✿

سیالی به څه کا ، نهر د د و پ پ
تل په قسمت یې خوراك وی دوپ پ
دوپی به څه وکا چه خلاص نه شی
د عقل ستر ګې د نصیب سو پ پ

✿ ✿ ✿

اوس به مې خولې ته فغان او شور راشی
غم چه ایسا رڼود غـم بـه زور را شـی
سپین ویښته مه باسه ، ښځې مثل کا
ګڼې په عذر به یې سل نو ر را شی

✻ ✻ ✻

په لو بو تند و به کله هـپر شی
غمو نه پ پر ګڼه چه په تا تیر شی
مثا ل که غو ا پې ، نو عجیبه شته
رو ژه نژ دې شی ملا یان پ پر شی

پېغور تل نوی وی، هر څو که زوړ شی
خوږلن سپرغۍ لری که اوریې سوړ شی
مر هم به څه وکا، د شفقت بیا
داغ به ورك نه شی که زخم جوړ شی

✲ ✲ ✲

ته چه ډاډه یې په سپی رقیب
ډاډه شی وږی زړه د حبیب
وږی د کوکې د طعام مه هېر وه
څوك زده، رندان زده، خوند دز بیب

✲ ✲ ✲

اکثر چه پېړ وی بې غیر ته وی
اعتبار نه لری چه بد سیر ته وی
غیرتیان وچ وی بدن یی وده نه کا
ډك یې وګړی که له شهر ته وی

✲ ✲ ✲

رنځ د بېلتون دی زما وار یز
کله وصال هم کړی یارغور یز
معلومه نه ده خو چه ژوندی یم
لکه مارغه به تل یم په کور یز

✲ ✲ ✲

په پېر وی کښې د خپل صنم
روح مې پیر وې خوری د نعم
زه یې ګویا کړم په ګو نګه ژبه
ګویا عرب شوم که یم عجم

لو ګی د شمعې له مخ چا پېر شول
دخط سره یې ناز ونه هېر شول
اوس یې دکو کو ګبین ارز ان دی
چه تور میږی یې په مخ را ډېر شول

✲ ✲ ✲

فراق دې یا ره شند ې په ما کا
دز ړه دا غو نه سوا سوا کا
په تو ره شپه کښې ستوری په یاد کړه
چه تیا ره ډېره شی ډېره رڼا کا

✲ ✲ ✲

غم دهستۍ مې چه نه هېر یږی
ډېر و سوا سو نه پرې را تېر یږی
چه تګ را تګ پرې دخلکو ډېر وی
په لږ بار ان هم خټې ډېر ېږی

✲ ✲ ✲

په ریا ضت کښې چه تن صفا شی
د ځا ن د دیدنه پر ده جدا شی
په کثیف څیز خو پر تووی سو ری
په آ ینه کښې عکس نما شی

✲ ✲ ✲

تیر ې د هجر په ما تې سر شی
چه دوه خوا خو ږی مخا مخ ور شی
سور ی دعکس وی نه د معکو س
د یو په بل کښې ور شی در بر شی

قا صد چه را شی د یا ر له دره
د اختر میاشت شی جوړ را د بره
ر قیب چه را شی یقین مې و شی
چه رو ژه مخکښې د ه له ا ختر ه

✿ ✿ ✿

د نبو ی لمر ، ر ڼا ا ما مه
تیا ره د ې لر ې کړ ه له اسلا مه
پېړ ی ه شو ې تېر ې لا به تېر ېږ ی
قصه د غم د ې نه شو ه تما مه

✿ ✿ ✿

وه فر ور ی کا ل یو څلو ېښتم ؤ
ز ما ن څپر ی کښې مې قد م ؤ
مورچې جوړ ېدې دیورپ جنګ ؤ
تار یخ مې یاد شوچه دیار لسم ؤ

✿ ✿ ✿

چه تېر شی هېر شی ، چه هېر شی تېر شی
چه هېر شی تېر شی ، چه تېر شی هېر شی
چه ز ېر شی ګېر شی ، چه ګېر شی ز ېر شی
چه ګېر شی ز ېر شی ، چه ز ېر شی ګېر شی

✿ ✿ ✿

ترې بې خبر ه مه شی ای ز و یه
ژرې دزړه له هند ارې ز د و یه
چه پرې لو ګی وی د ګنا هو نو
نېکی کو ه پسې ای ز ما پو یه

نه یم غلط حرف چه یا د شوم هېر شوم
نه مشتبه یم چه خلا ص شوم ګېر شو م
ز ړ ه مې در یاب د ی د حکمتونو
نه چه سیلاب یم را غلم او تېر شوم

✲ ✲ ✲

په خوند کښې شیریم ، په معنی شهر یم
ازاد له هر څه خو یا ر ته ګیر یم
ابتدایی یم ، انتها یی یم
په هر یو رنګ یم ، ز بر او ز ېر یم

✲ ✲ ✲

چه مې په تاشوه دزړ ګی مینه
مینه شوه ور انه دتن سنګینه
جبین مې اینبی د نیاز و تاته
چه بهره مو مم ستا له جبینه

✲ ✲ ✲

چه ما ته ګور ې ، وچاته ګورې
وچاته ګور ې ، چه ما ته ګو ر ې
ته ما ته ګو ر ې ، زه تاته ګو ر م
زه تاته ګو رم ، ته ما ته ګو ر ې

پرېشانی راوړی ، خندا، په ګل کښې
نغمه سنجی راوړی ، غم په بلبل کښې
که پرېشانی ده که غم ژوندون دی
د شانې ګوره غاښ په کاکل کښی

✿ ✿ ✿

جرمنه لاړه ، مزه دې لاړه
طاقت دې لاړو ، حمله دې لاړه
اوس بارانونه به په تا د غم وی
قوت دې مات شو ، شېبه دې لاړه

لواړګی -۲۷-٤-٤۱

✿ ✿ ✿

چه ځان ته ګورم زړه مې شین شین ښکاری
پکښې ارم جوړ د چین ما چین ښکاری
چه پکښې نقش د یار صورت دی
د جهان هر شی راته رنګین ښکاری

✿ ✿ ✿

د ژوند له ملکه چه را بهر شوم
رازیې چه پټ ؤ راغلم پرې سر شوم
او به د ژوند خو زما ژوندون ؤ
چه ژوندی مړیم ، هلته خبر شوم

لواړګی -۱۰-۷-٤۱

چه ور یخ را شی او باران نه کا
بنایی خپل فضل خو یزدان نه کا
د سر کښا نو سر ه د ا کپږ ی
خو عجیبه د ه چه تو فا ن نه کا

✿ ✿ ✿

له خویه ټوغ یې، څومره چه شیك یې
ر و حا نیت لره لکه څو څك یې
ګوري اسمان ته ، پید ا له ځمکې
نه لري خا و ر ي ، هغه بنا نك یې

✿ ✿ ✿

وطنه لاړل، غرونه دي و ران شو ل
میدان ګړ نګ او غرونه میدان شول
د غر ه په ا ړ خ چه نظر و کړ م
دسر کونو پر پ بنا ما ر ان شو ل

✿ ✿ ✿

و طنه لا ړ پ خر ا ب تراب شوې
زړه د بخیل شوې په خرڅ کباب شوې
په پیما نو کښې د مغر بیا نو
زمو نږ دو ینې خوابه شراب شوې
لوامګی -۳-۸ -٤١

✿ ✿ ✿

ما و ر ا نو لو لر ه آ با د کړ ه
څه تعلق خو را با ندې ز باد کړ ه
که د پ شی و پر ه ز ما له یا د ه
نوهپرو لو لره مې یا د کړه

دا ند هېری نه د وه میله لرې
کوم دځا نه سره خبرې
دلته شو ټنګ دلیلی مجنون دی
پکښې خبرې شته دی نادرې

✿ ✿ ✿

لیلی مجنون مې په پښتو جوړ کړ
د پښتون شوق مې د فلم سوړ کړ
د بمبئی ده هوا خرابه
په ځلمی توب کښې یې حمزه زوړ کړ
بمبئی ادسمبر ۱۹٤۱ ع

✿ ✿ ✿

خید دځوانۍ دحسرت په لور ولګه
دژوند په فصل یې چینجی دتور ولګه
چه سیرت نه لری، صورت یې مه شه روزی
چه غنم لاړل په د روزه اور ولګه

✿ ✿ ✿

ستا باغ د ځوانۍ ګلو نه سپړی اشنا
دا غونه مې ستا د مینې وړی اشنا
راغلی دی بهارزه په زندان کښې یمه
په کور کښې مې ډېر سوری جوړی کړی اشنا

✿ ✿ ✿

اشنامې نقش ؤ نګار ته پاتې دی
پیغمبری ګل بهار ته پاتې دی
قاصدیوازې دی خط هم په لاس نه لری
وهمی زړه یې سینګار ته پاتې دی

در لا ندې ناست یو ، د خرما و نې
ای طو بـی ظلې فـر دو س لمنې
غلا م سر ور د ی او دو یم زه یم
سټه د تن مو ر اسپړ ی غنی
کمپنی باغ پښو ر ـ ۲۳ ر ۱۲ ر ٤۲

❁ ❁ ❁

د عشق دردو نو چه څو کثرت وکړ
ما د مرهم نه هو مره نفرت وکړ
په مد ا مې ژړا ځکه خو شحال یم
ارمان مې ډېر عیش و عشرت وکړ

❁ ❁ ❁

څو چه د نفس په وژ لو مټ نه کا
وران چه له میا نه دهستۍ خټ نه کا
صوفی هغه دی چه ز ړه صفا لری
ګڼه دصوف چپنه به یې عیب پټ نه کا

❁ ❁ ❁

چه د عر فان په ښکا ر پسې و تم
د ګمراهیو په جال کښې کښېو تم
راز دلوړ تیامې هم هله وپېژا ند
چه مې یقین وشوچه لاړم پرې وتم

❁ ❁ ❁

ډوډۍ خوند نا که ددرو یزې نه ده
د جوما تونو د در وا زې نه د ه
صحت چه نه وی د ماغ یې څه و ی
د طا لب ګېډ ه د اند ا زې نه ده

په قسم قسم مې پـر ز و پې تـه
څه ډول ډول مې غو ر ز و پې ته
ا ی بـې قـرا ر ه ز ما قسمته
دا چېر ته چېرته مې ګرزوې ته
پچلی ـ ۲۹ ر ۹ ر ٤٧

د حق سپر لیه!د نیا با غو نه کړه
تا زه مې ببر ته دزړه‌داغو نه کړه
نو ی بها ر د ی را ته مسکی شه
دز ړه دا غونه مې چرا غونه کړه

د بنکلیو بنکلیه زړګی مې جمع کړه
ورکه له غیر مې پر پښا نه طمع کړه
دز ړه محفل مې مخ روښی غوا ړ ی
پکښې رو بنا نه د جبین شمع کړه

د تا په لوړو کښې زما ژو رې دی
څوکه قو ی مې د خیال وزرې دی
ر سېد ل تا تـه مفر د تا نه
ستړی خیا لوله خوشې خبر ې دی

بې و جود نه څه نور اد راك نشته
که خلق ومنی، نو هم یې باك نشته
وجود ظاهر دی ، خلق با طن دی
بې له او بو ، دحباب اد راك نشته

پور ته فلك دی او زه په ښکته یم
داغلت خیال ؤ ، اوس پوه په پته یم
هغه هستی یم ، چه په فلك شو م
اوس لاندې ښکارم که څواوچته یم
لوا ډکی ـ ۸ ر ۸ ر ٤٤

باران ته پروت یې ، د ځان ژړا کړې
شپېو د غم جو ړ ، ته و ا رخطا کړې
لکه دراز په ګو ګل کښې پټ اوسه
ګڼې که اوښکه شې ، ځان به فنا کړې

✿ ✿ ✿

لر ګی له خپله او ره جلیا د ی
چه داسې نه ګڼې ، هغه خطادی
زه به د بل نه و لې ګیله کړ م
څه چه په ما دی ، هغه له مادی
پېښور ـ ۳۰ ر ۱ ر ٤٧

✿ ✿ ✿

بلبل دزړه مې بیا په کوکاردی
صحرا کښې دخیال نوی بهار دی
شینواریه ! صحرا ، ښکاری جنت جوړه
اشنا په کور کښې سر په سینګاردی

✿ ✿ ✿

ما مستقبل او ماضی را جمع کړ ل
پرون ، سبا مې چه د نن شمع کړ ل
وختو نه څو مر ه که بې نیا ز تلل
لکه پتنګ مې د ځان په طمع کړ ل

ډېر چه د هجر ګرمۍ وهلی یم
دا وړی میا شو ، بدبد خوړلی یم
چه وصال و شو ، د منې شپې دی
زه سړه لیرې تبې نیولی یم

✿ ✿ ✿

ارمان مې دود شو ، لاړلو خپور شو
پسرلی مې سیزی راته سور اور شو
ځوانی خزان شوه وېښته مې سپین شول
د ګلر خانو را نه زړه تور شو

✿ ✿ ✿

جانان مې ولید جهان رنګین ښکاری
د سرو په شانې راته سادین ښکاری
دنیا بدله شوه زما په عشق کښې
ښکنځل د اشنا راته ګبین ښکاری

✿ ✿ ✿

چه د نیمګړې دنیا نه تېر شوی ؛
لاړې له خپلو ، خپلوانو هېر شوی ؛
اوس مو د قبر نښانې نشته
لکه چه نه وی ، د نشت په څېر شوی ؛
وړه مدیره - لواړ کی ۷ ر ۸ ر ۴۸

✿ ✿ ✿

په ضبط مې څه شی چه وعده دې تېره شی
چه سوز مې زیات شی ژړ ابر سېره شی
لازم د هر څیز عکس العمل دی
اکثر باران شی ، چه ګرمی ډېره شی

زه کله و ر ان شم ، کله و دان شم
بهر ته ودان شم ، کله چه و ران شم
یا مې تعمیر کړ ه که تنکو ي مې
یاخو مې پر پرې ده چه بیا با ن شم

✲ ✲ ✲

نه په کعبه کښې ، نه بت خانه کښې
نه په ز مز م کښې نه میخانه کښې
نه مې په زړه کښې، نه په لېمو کښې
خو شی طلب کړم په ویرانه کښې

✲ ✲ ✲

نه مې ملك کړ ه ، نه مې حیو ا ن کړ ه
نه مې ټول عشق کړه نه مې عصیان کړه
زه مسلما ن یم ا و سط مې خـو بس د ی
ز ما خـا لقه ما خـو انسان کـړ ه

✲ ✲ ✲

محا ن ته غا و ر ۍ په فر د یت کښې
چه راغلو باغ ته، شو په حیر ت کښې
ګل ته محر ګندي خپلې خامې شوې
چه و ر دا خل شو په جمعیت کښې

✲ ✲ ✲

همه قا مو نه لو ی اوو اړه جوړ شو ل
څوك دوخت ژبې څوك یې لېمه جوړشول
ستا لـه غیر تـه یـو ه پو ښتنه کـو م
پښتو نه و ا یه چه له تا څه جو ړ شو ل

جو ړ نن په نوی ستم دې مټ کړ
چه خا مو شیو دې را ته څټ کړ
ا و س که و یېږ ې ، مز ه یې نشته
د نغمې حسن ا لفـا ظـو پـټ کړ

✿ ✿ ✿

د حق له تخمه شجر پید ا شو
د د ې شجـر نه ثمر پید ا شـو
دمحمد (ص) ؤ که ر حمت راغی
د مبتد ا نـه خبر پـیـد ا شـو

✿ ✿ ✿

د با طل زړ ه کښې خطر پید ا شو
تېر ې بو ګنېږ ی سحر پید ا شو
ضمیر مسکی شـو د ا نسا نـا نـو
ستر ګې پید ا شو ې نظر پید ا شو

✿ ✿ ✿

د یو زړ ه لا ر چه د بل سر ه شی
په تګ را تګ یې دخیال پخه شی
په کـا ر و لـو نـو ی زړ یـږ ی
چه نه کا ر یږ ی لا ره ز ړ ه شی

✿ ✿ ✿

هغه جبین ؤ ا و د ا یې خـا ل ؤ
هغه یو ذ ا ت ؤ ، د ا یې جما ل ؤ
که هغه تخم ، د ا یې شـجـر شـو
د غه تفصیل د هغه ا جما ل شـو

پېښور ـ ٤ر١٢ر٥٥

غم د جهان یم ، په جهان بار نه شوم
خوښ په جهان وم چه د چا یار نه شوم
د خوب په څېر خو ، در تلی شم سترګو ته
خېر که د سترګو دې انتظار نه شوم

✲ ✲ ✲

لژ خو وزګار شه ځان په کار مه وژنه
همدغه ځان دې یار دی یار مه وژنه
وخت د آرام کښې کار حرام وګڼه
د پلټۍ لاندې چېرې مار مه وژنه

✲ ✲ ✲

د اغېز د ننه بهر د چاؤ
احساس د خبر ، خبر د چاؤ
غایب شو نظر ، نظر مې راغی
قربان ترې نظر ، نظر د چاؤ

✲ ✲ ✲

زه یم ناتوانه غو ښتنې ډېرې دی
نظر مې یو دی ، کتنې ډېرې دی
ته په هر څه کښې را ته څرګند شه
زړګی مې یو دی ، بلنې ډېرې دی

✲ ✲ ✲

دیدن په ورځ شو ، اوس پاتې شپې شوې
ښکلی راو و تل ، ما تې پر دې شوې
ننو ښکلیو ، که زلفې پرې کړې
ښه ده شپې لنډې ورځې اوږدې شوې

۸۶۹

پاره کی او قطعی

ازاده سیمه د مېړ نوده
مزه یې ځکه دور ځو شپوده
خپل یې اسمان دی ، خپله یې ځمکه
خپل یې دی غرونه ، خپله ورشوده
د شینوارو پېښه ـ ۱۵ ـ ۹ ـ ٦٤ ـ

په تصور کښې چه مدعاده
هغه فناده ، هغه فناده
سرمې خپل نشته ، که شته دیار دی
حادث قدیم شو ، حاصل بقاده

✡ ✡ ✡

تل روښان اوسه ، دخدای له یاده
تیاره رامه شه درلره ، ښاده
یو ګوره وینه ، وښیه ماته
زما د زړګی « رڼا اباده »

✡ ✡ ✡

بیادر له راغلم دخر ماونې
چه دې مې ما لې د زړګی ستنې
ډېر یاران تللی د ګور په لور دی
ته لا ژوندی یې فردوس لمنې

✡ ✡ ✡

زه که ژوندی یم ، له مړو بتر یم
د حواد ثونه کورو کریم
وېښته مې سپین کړل ډېرو غمونو
تورمې کمېږی اوس بې نظر یم
کمپنی باغ پېښور ـ ۱۹ ـ ۹ ـ ۵۳

الله او محمد

دریم حرف یې د نومونو مشد د شو
هر یو اسم بې مثال او مجرد شو
چه دې دواړو ته نظر کړم لاشریك دی
بې نقطې د ګ یو الله بل محمد شو

✻ ✻ ✻

دغفلت دشپې او دو ته خبر راغی
را بیدار شی ه نورشیندونکی سحر راغی
اوس دعوې دځان ځانی درڼا چیر ته
غریب نیولی ستوری تت شول چه لمر راغی

✻ ✻ ✻

شوق مې سر کاندی اوچت په زړه به څه وی
وایی زړه چه به دشعر لیکل بنه وی
خو چه فکر کړم بنه شی یې را ته ګران شی
شوق هم هله کوی لمسه چه څه نه وی

✻ ✻ ✻

ټول عمری جفا د بنکلی یار احسان وړم
سرمایه دژوندد ځان سره ارمان وړم
وفا بار په زړه دمینې ،مینه ځان دی
په سفر کښې وایه بار وړمه که ځان وړم

---

(۱) له دې ځای نه و روسته شعرونه دقافیې د جو ړښت له حیثه به د رباعی ګانو کښې راځی ، مګر د وزن له مخه له قطعې سره نژدې دی .

سید نه دی چه یې صافه سینه نه وی
په سید کښې حسد بغض کینه نه دی
چه په یوه لپه کښې ډوب شی څه یې ظرف دی
په یو ګوټ چه خالی کړی چینه نه وی

عشق

ته لیونتوب او که جمود او که طاقت ر او لې
ته که وحشت او ولولې او حرکت راولی
هر څه چه وی خو ځان ځانې دې له ما حوله دروی
ته په خپرو ور واجرا کښې وحدت راولې

✡ ✡ ✡

ستاد زلفو کور دعقل اوخرد کړ زما خپور
بې حاله یم چه پرې راته هم نښکاری منګور
تپرې زما دزړه کړې لرې توري ستاد مینې
ربښتیادی چه رغیږی تل داو رسوی په اور

✡ ✡ ✡

دوروستنی پهر په کیف کښې دامستی دچا ده
دچرګ په بانګ کښې دابد له الستی ده دچا
په زړه دشپه کښې جلالت دچاجمال کړو پیدا
مخ دسحر ډک له خندا پکښې هستی ده دچا

✡ ✡ ✡

دبدی نه مه وپرېږه ،نښه به اوري چه نښه وایی
وزبان ته یې راپرېږده هر هغه چه په زړه وایی
دنیکی بدل نیکی ده ،دبدی بدل بدی ده
هم هغه به بیرته اوری په ګنبد کښې چه څه وایی

طایفه‌دشاعرانو که‌وی‌ستا په خیال کښې ګرمه
داسې بوله په‌خپل زړه کښې په‌خوله کړه خبره سمه
که دولت‌لرې قارون یې زه له تایم بې نیازه
نه ته زیات یې دسړی نه، نه‌زه کم یم له آدمه

✿ ✿ ✿

نن مې باردزړه نه کوزشو، چه‌ستا نوم‌زما په‌لب دی
چه‌مقام دمینې وران شواوس په‌سر کلاه ادب دی
لکه‌نوروته یې کاندی، ماته‌هم مخاطبه کړه
ګڼی سر به هغه نورشی چه‌ددې نه څه مطلب دی

✿ ✿ ✿

زړه مطمئن کړی دصفاتو مینه‌ذات‌وی پکښې
دذات په‌مینه‌منتشرشی زړه صفات وی پکښې
زړه هغه ښه‌وی چه‌بدی‌هم حساب وی پکښې
جهان هغه‌دی، چه‌کعبه هم سومنات‌وی‌پکښې

✿ ✿ ✿

پسرلی مې دزړه‌ګوټې په ورشو راغلی ؤ
یود اسې ګل خبر دې در اتلو را غلی ؤ
مقصد خویې دیدن ؤاستقبال یې‌شو بهانه
زړه‌ګی مې دروازې ته د لېمو را غلی ؤ

✿ ✿ ✿

ای در یغه‌که طا قت مې د اد راك پا تې کېدی
بیا ستاد نغدا ر ې به زما و ا ك پا تې کېد ی
ښا یسته یو د یدن به‌دې هم تل ؤ ما ته بس
لېکن ز ما نظر که په دې پا ك پا تې کېد ی

زور دمینې ګوره چه زما شو لې ستا ستر ګې
اوس په هر یو مخ کښې راته ښکاری زما ستر ګې
تا چه را ښو دلې وې هم داد وه دهر چا وې
تا چه را نه پټ کړې اوس چیرته دچا ستر ګې

✿ ✿ ✿

نه خو ر مه چغلی ز ه آ ینه یم بـې ر یا یم
څوك چه مخامخ راته کوم څیز کړی هغه وایم
هیڅ منا سب نه د ی ښکلیه یاره چه دې ستایم
هغه به دې ستایی چې ستا نه وی ،زه خو ستایم

✿ ✿ ✿

څه شی که سبب دې د غرور ښکلی ځوا نی ده
و ا ور ه بې نیا ز ه د و ختو نـو ر و ا نی د ه
څو کر ته خپله مـد عا شو ه ر ا تـه یـا د ه
هېره شوه چه نن دې د خبرو او ز ا نـی د ه

✿ ✿ ✿

مېوه چه شی پخه نه شی ویشتی شجر په ګټو
کچه چه وی راپر پوزی له شجر ثمر په ګټو
ولې دمحبت کړ ی ، دښا یست ولې نښې ا ز ې
هجر ا نه و لې ،و لې د و صا ل شجر پـه ګټو

✿ ✿ ✿

ورك له خپل جهان یې،خپل جهان ته راو اپس شـه
ورك مه شه نظر خپل چشمان ته را و اپس شـه
« ته» به هله « ته» شې چه داډ وایې چه «زه» یم
هر څه هم په تا کښې دی،خو ځان ته راواپس شه

ته یې د آزادو الوتو نه ، را ایسار کړې
ستر ګولره جوړې چه ګولۍ در ته اغیار کړې
ای د اسلام بازه، په پردۍ منګله ناسته
خپل ملت دې هېر کړو، د پردو د پاره ښکار کړې

✡ ✡ ✡

مړه کړه د مرګ وېره، چه د نیا دې راژوندۍ شی
سوی د عشق په کار دی ، چه دې وینه ګړندۍ شی
لږ په څه تد بیر په دام کښې نښتیه مه پر ړ ېږه
ستا په اضطر اب سر ه به لا کلکه ز ند ۍ شی

✡ ✡ ✡

نه پو هېږم ارمانو نه مې زا ړه شوه که ځلمی دی
ستا د تګ سره لاړ نه شول، عقلمند که لېونی دی
آ ینه د محبت یـم ر ا ته و لـې حیر ا نېـږ ی
دا چه څه په ما کښې ښکاری، زما خپل نه دی پر دی دی

✡ ✡ ✡

و کړو ، یو تپو س مې د ښکلانه و ایه څه یې
و ې چه ما له ځا نه چه جد ا ګڼې لا ته یې
ستا د ا تصو ر مې ر سو ی که خطا با سـی
چا و ته چه و ګو ر مه و ا یم ته خو نه یې

✡ ✡ ✡

د نیا ز ه مې پو ر ه ګیله به څه کـړ ې
پېش کشۍ کښې حور ې ته حور ه به څه کړ ې
ښکلی لا س د ې د جو هـر مقا بـل مشـه
وا خله زه پخپله مر م تو ر ه به څه کړ ې

خدای ور کړی ورته هسې رنګ جمال ؤ
چه جمال لره کمال دده کمال ؤ
ای حمزه! سودا جنون دوصل خیال دی
چه خپل سوری یې حسرت کښې دوصال ؤ

✿ ✿ ✿

دادب او انکسار په غړو ندو
یم تړلی پاتی زه له خندیدو
ما که ځان لیدی، خپل قدر به مې وکړ
آینه یم په بازار کښې دړندو

✿ ✿ ✿

محشرو نه دی، زما دزړه خانه کښې
لکه پټ چه ګلستان وی په دانه کښې
چه په ستر ګو دوحدت یې ګورم نشته
هر څه وی، خو نه وی، هیڅ په آینه کښې

✿ ✿ ✿

داغ دې مشه بدنامی په خپل تندی
چه وعده وکانیکان، پرې سر ښندی
هم په دې دی دانسان او حیوان فرق
یو په ژبه د بل تړ په غړو ندی

✿ ✿ ✿

په کو نجکه نه ارزېږی فریادو نه
زه کامل شوم، خو ورك نه شو زړه چاودو نه
هیڅ حاصل نه کړی په دودو کښې بادو نه
بس خودا چه سر وهل دوړی ګردو نه

تمدن کښې یو په بل شته بلو سپدہ
دهر څیز عکس العمل شی رسپدہ
لاحاصله بلو سپدہ پریږدہ شینوار یه
که دې خوښ وی په نړۍ کښې اوسپدہ

✿ ✿ ✿

د کږ لیچ په ژ بـه چپر ته سمپدہ
د زیا دت لپمه نه ګو ر ی کمپدہ
که کاته دی که وایه دمرګ پیغام دی
دادژوند لکه د بو ی د ی ر مپدہ

✿ ✿ ✿

علم څه دی ؟ د حو ا سو لړ ز پدہ
یا د و ر ځې لا حا صله ګر ز پدہ
یا طلب چه کړی په شپه خوری تینګ کو نه
جهل څه د ی د حو ا سو لغز پدہ

✿ ✿ ✿

په خاموشی جهان دزړه کښې مې ګلو شور کړہ
داخوږ لن زما دعشق لمبه جن اور کړہ
چه پسر لی پیغمبر لی ګلو نه راوړل
ښپوې نوې کړہ پیدا خالو نه نور کړہ

✿ ✿ ✿

ده بها په کا سیر ہ که وی امیر ہ
خدای دې نه کړی مجبو به دچا کا سیرہ
که آز اده لکه سر ود چمن و ی
دبد ی په زو لنو کښې وی اسیر ہ

د پسرلی لمدې لمدې بې هوشه شپې
مستې مستې دی له ډېره جوشه شپې
رنګینی په مخ د پېغلو پلو شوده
ای ساقی په داسې وخت بې نوشه شپې

✲ ✲ ✲

د نسبت تومنې د ژوند شوده ماسته کړل
د پستونه منداڼو د عشق پاسته کړل
کوچ بهر شول ډك له خونده ترې د وصل
کلك هډونه د هجران یې چه وراسته کړل

✲ ✲ ✲

چه ملګری ځنې وړاندې وی خپاره
مشې ګیر چه مخکښې راشی څلیاره
که وی وېرخو مزل په ډاګه ښه وی
فکر مه کړه داو ږده او د ساره

✲ ✲ ✲

چه وی نیك دیونه ډېر دوستان ښه دی
چه یو وینی ای که دوه دې چشمان ښه دی
چه خلاف له شرعی نه وی رواج ښه دی
یوه لار چه ښیی دوه رهبران ښه دی

✲ ✲ ✲

څوك چه نه وی اموخته د شرك و ذنب
وېره نه کړی د ببر زمری له غړمب
زړه چه ونه چوی د چاهمت پکښې وی
د شکست وېره یې نشته دی له بمب

په میدان د بې کورۍ کښې ورشه کور کړه
دزړه ستر ګی دې د بې نښان په لور کړه
که همت د شها دت در څخه نه وی
ای شینوار یه د منصور ځنې یې پور کړه

✿ ✿ ✿

دوه وختونه دی د شینوا رو د خوارۍ
یو دې وخت د هلك توب بل د پېرۍ
د سحر او ماز یـګر وختو نه ګوره
تله را تله پکښې له کار او مزدورۍ

✿ ✿ ✿

زه چه ستا په مستۍ مست یم مستی داده
زه چه ستا په هستۍ هست یم هستی داده
ته چه څو مره او چت ښه یې، زه ټیټ ښه یم
د رفعت نه چه حا صل شی پستی داده

✿ ✿ ✿

څه په ګرا نه ؤ را غلی، اسان لاړ
اخر لاړو شهلا ستر ګې جا نان لاړ
په خند ا د سبا یی مې لـه بستره
ویښ د شپې لکه د سر و رو ا ن لاړ

✿ ✿ ✿

چه ز ما په حق دیا رشوه و فا بده
اوس په کو مه خو له به وایم جفا بد ه
زه خو ږ من د مینی پند مه کړه واعظه
په لیچنو ستر ګو لګی و ړنـا بد ه

زړه مې بې څه دی خفه رضا کوم
او که شپه د بېلتانه سبا کوم
بې نیازی دښا یسته ؤ سره ښا یی
مرور تللی ارمان پخلا کوم

چه احساس په هر انسان کښې د قبول دی
بس تکمیل دسړی توب ته دا اصول دی
د فطرت په لاره تلل انسانیت دی
د شهوت په لاره تلل د زړه نو نول دی

ګناه څه ده ؟ لغزېده د سړیتوب
نېکی څه ده دفطرت په غېږ کښې خوب
عقل څه ؟ یوه رڼا ده لړ زېدونکی
مینه څه د رسېد لولېو نتوب

بې خودی که دخدا د پاره غواړې
ژوند د تن به د بقا د پاره غواړې
د خودۍ په ورکولو کښې سود نشته
ته چه ورک شې خدای دچاد پاره غواړې



حمزه خیر دی که نن قدر زما نشته
ولی ونه وایی دا چه سبا نشته
کومه شپه چه په بازار کښې شمع نه وی
خلق وایی چه نن ولې رڼا نشته

کمپنی باغ کښې دخرما دونې (۱) لاندې
جال دسوری ښکاری خپور په شینکی باندې
په تیاره رڼا کښې ګېره آدم ذاته
ستوری ستا په بې نورۍ له پاسه خاندی

✡ ✡ ✡

په نن شپه د ننه ډډمی بهاری دی
دپسرلی نسیم خپور شوی خوماری دی
زه سګرټ څښم د خرما دونې لاندې
چه لوګی مې له خولې وځی عنبری دی

✡ ✡ ✡

که دونې حقیقت غواړې دانه ده
او دانه بیا د تخمونو خزانه ده
په زره کښې شته دی راز دکائناتو
نه هغه شته دی ، نه داشته بهانه ده

✡ ✡ ✡

دا بشر دی د خواجه که یې نقاب دی
لا مبو زنه دادریاب دی که سراب دی
ته مغروریې چه حجاب دې کړلو پورته
خو حجاب پورته کول هم یو حجاب دی

✡ ✡ ✡

پرده درمی شول دا وښکو بارانونه
بې ګوهر و شول لنډ پاری ارمانونه
ای زماد خوږې مینې خوږ اوره
وړی سېلاب دبې صبرۍ دې سامانونه

(۱) د پیښور د کمپنی باغ دخرما دونې یاد .

ټو له شپه چه د ر ته ز ه په ا نتظا ر یـم
ګو ر ه څر نګه غا فل یم که بېد ا ر یم
شر ا بی ستر ګې د ې و ا ړ و ه ز ما نه
و شوه بس دی ښېوه ګرې تو به ګار یم

✿ ✿ ✿

زړه ز ما غوا ړی ژ و ند ون دچا د پاره
ما قبو ل کړو، د ا جنون د چا د پا ر ه
په اسمان مې دزړه څوك دی مسکی شوی
غر یب مې سر کړو په زنګون دچاد پاره

✿ ✿ ✿

خیال ځلمی شو، حال ځلمی شو، قال ځلمی شو
د فطر ت ساده ما شوم جمال ځلمی شو
هر یو شی دځلمی توب په مېو مست دی
پسر لی جنجو نه را غله کال ځلمی شو

✿ ✿ ✿

په خپل قو ل کښې صا د ق او په ز ړه ر ا ست یم
دا خلاص له غوړو ډك یم هغه ما ست یم
د بې « لنګې » کـو ر په څېر دمندا ڼـو یم
هېڅو ك نه را نژدې کېږی ځان ته ناست یم

✿ ✿ ✿

کله ګورم چه فطرت زما کنجوس دی
نا ممکن دی ترې حصول «سیاهی چوس» دی
کله پاتې شی تک تو ر د معانی نه
کله کله دا سر ار و جو ړ قا موس دی

عشق تـــه

ستا په لمن کښې دقامو نو تقدیر و نه دی پټ
ستا په تندی کښې بو ګنبد لی قسمتو نه دی پټ

ستا په ککو کښې شبستان دخوشحالی و ینمه
عشقه په او بنکو کښې دې ځلند ر فعتو نه دی پټ

✿ ✿ ✿

نوی کهول د پاره لار جوړول غواړی
ملیت سره د ین هم ګلو ل غـو ا ړ ی

کر و ند ه د ا و ر په کار د ه اد یبا نو
و لې څه اور اور کی پکښې کرل غواړی

بې نوا ته

څو که پا س لکه لو ګی ز ه په سحا یم
بې بنکا لو ، ر و ان په لو ر ی د فنا یم

ستا دژ وند شمع دې خدای لری روښانه
خیر دی زه که په تپرو کښې بې نو ا یم

لوا ډ کی -۱۵-۸-٤٥

قربانی

دانسان انسانیت ، د قربانی نه
په مخلوق یې حکومت ، د قربانی نه
دضمیر دژوند نبضونه په دې چلی
رڼا و اخسته ،فطرت دقربانی نه

خوابده یادونه

چه وو ژوند ، هغه نازو نه لټوم
خپل نیمګړی ، نیازو نه لټوم
بې نواستر ګې مې ستا په لور څلورشوې
ستا په ستر ګو کښې راز و نه لټوم

✡ ✡ ✡

په ژړا درپسې شنې شوې دزړه شاړې
په خندا دې کړې دزړه دافق غاړې
ستا پیکر ژ دنا سوت دقا لب ستر
پسته و پېژ ندې خلقو، چه ته لاړې

خوشحال اوملت

دپښتو ادب جمال راژوندی کیږی
دیو کال نه په بل کال راژوندی کیږی
داژوندون دپښتانه ،نه دی نوځه دی
چه هر کال پکښې خوشحال راژوندی کیږی

انگور وپالی چه باغ ته ورسیږی
مې په کار شی چه اباغ ته ورسیږی
نن پښتو کړه خپل مقصد طالب العلمه
اجزا ء کل شی چه دماغ ته ورسیږی

✡ ✡ ✡

بیا په خند ا خندا کښې ژا ړې ګله
چه د شبنم نه وفا غو ا ړې ګله
درته نسیم په غو ږ کښې څه وو یل
چه د خند ا نه په شا لا ړې ګله

پښور ۲۲-۳-۵۸

✡ ✡ ✡

ستا چه نظر وی بې نظر خو بس یم
بس په خبر کښې ، بې خبر خو بس یم
ستا په دیدن کښې یو جهان پټ ؤ
او س په دیدن دهر بشر خو بس یم

✡ ✡ ✡

د دنیا په چو ل یې ز ه پښې ا بلې پښې کړم
د منز ل نه پا تې خشکی فلسفې کړ م
ستا مثال په تتبد ودی اوس به ګل شی
عقله لر ی شه چه مینې ته نا ړې کړم

قلم

نن چه فاروق را ته قلم را کړ
نوې یې ساه، نوی یې دم را کړ
د آینې نه یې قر بان شم دز ړ ه
ما ته ګو یا یې جام د جم را کړ

روڼ کړدان له عشقه ،عقله ستا په پل شوم
د تحقیق لار مې خطا کړه په اټکل شوم
با معنی و م چه فطرت بیا نو لم
چه خواهش زما ګردان وکړ مهمل شوم

شیخ ته

ما وې شیخه ستا نیمګړې وظیفه ده
پا څه زرد میخا نی بله ده
صراحی پیالې ته څه ویل پوهیږې
و ې د نیا خو مسلسله قهقه ده

❁ ❁ ❁

بلبل دلته اور بدی نه شی د ګل غږ
د یخنی نه مو ره شو ی د بلبل غږ
خو کوم غږ چه مجرد وی اور بده شی
په کالام (۱) کښې اور بده شی د کا بل غږ

ستر ګې

ما وته مسکی چه د تا ستر ګې دی
بس نو د تا ستر ګی زما ستر ګې دی
ما ته هر یو شی د نړی ستر ګې کا
څنګه دې دوه ستر ګې بلا ستر ګې دی

❁ ❁ ❁

را وبښ شه څوا نه اکتساب وکړه
له کل جهانه اکتساب وکړه
و لې بنیا د د ر ته د علم بښیم
له خپله ځا نه اکتساب وکړه

(۱) په سوات کښې یو ځای دی ۰

سو زه خند یږه خو رڼا وکړه
ددې تهر و خو څه د وا وکړه
لکه د شمعې په خندا خندا کښې
پخپل ماحول باندې ژړا وکړه

✿ ✿ ✿

ته له رحمانه عشق وحال وا خله
ننګ اومپرانه له خوشحال واخله
تـه چه وا رث یې د مـلت ځلمیه
هم یې جمال هم یم جلال واخله

✿ ✿ ✿

اوس د چا د خوښ نظر نه ، نه شر میږ ی
چه ساده دی نو مطلب ته نه رسیږی
چه ځوانی راشی خپل سیوری ته به ځیر وی
چه ما شوم وی د خپل سیوری نه وېر یږی

✿ ✿ ✿

که د زړه ستر ګی لرې ، نو پوهند به نه شې
ته پر پښا ن د بېلتا نه په دوند به نه شې
د عشق بار پور ته کول عین ر ا حت د ی
که خپل سر په تن لرې ، نو د روند به نه شی

✿ ✿ ✿

بکواس خوشې خبرې هم به لافې کړې دا یـه
تش و ګڼه کم ظر فه لکه ډ و ل کو ی صـد ا
صفت یې تـلون دی ، عا ری شوې له سکو نه
سپك څېز پـه حر کت کښې را ولـی لږه هوا

احمق معلومول ،خود احمق سړی کار نه دی
یو پوند لره مشکل وی، چه بل وپڑنی پوند
دسپکو سره نه وی برابر ، د در نو تول
د درونده مواز نه خو همیشه کیږی په دروند

✲ ✲ ✲

افسوس دی، په سرخی اوسفیده یې کړی بې خونده
دد ې ز ما نې بنځې غنم رنګ نمکی مخ
فیشن داسې بلا ده فطر تی حسن یې ورک کړ
پالنه به کړی څه؟ چه شی ملیاردچمن پښ (پخ)

✲ ✲ ✲

بی ځایه وی دکور لو نبی، چه بنځه وی پوهه
زپوره شی ځیز ونه دخو راك تر پنه وړی مړه
دخپل فصل پالنه ، چه کوم یو زمیندار نه کا
میلمه وی پرې دشپې ورځې خواری نیستی اولو یه

✲ ✲ ✲

په سیند کښې مرجونا وهی غوپې چه غواړی در
کوشش دې چه شعارشی ،مرتبه به دې شی جګه
وجدان دې چه کامل شی، صحیح حس به دې پیدا شی
په شپه کښې عجب نه ده که په بلوه نیسی ورځه

✲ ✲ ✲

خندا خودژړا نه پیدا کیږی ،داو یل شی
د بلار بې غلامی ځنې زیږ یږی حریت
ټپوس دګناه مړ کړه ،دنیکی بازار ې پیدا کړه
دنیا کښې د عمل نه د دوزخ و ا خله جنت

جا هل دجهالت ځني ، عالم له علمیته
هر دم هره لحظه کښې به راوباسی ندرت
منزل کښې څنګ په څنګ دی ترقی کښې نه اوبد
دهر یوه مجاز سره لازم وی حقیقت

✲ ✲ ✲

تاثیر وی په صحبت کښې هیڅ په دې کښې نشته شك
چه مل دخر بوزی شی خر بوزه تری اخلی رنګ
بیان به یې زه څه کړمه آفت دکار و لو
په تشو یادو لو هم نشه را ولی بنګ

✲ ✲ ✲

که تو ریمه نو څه شی ، په او صا فو مې نظر کړه
بورا وی تل په ګل کښې په سینو پراته لونګ
کړی مښك دې زلفې زلفې اورانجه دې ستر ګې ستر ګې
خالونه په شاها نو بانډې ستالری قلنګ

✲ ✲ ✲

خوبونه وی خوابونه اوتر خونه وی ترخه
دسولې نه وی سوله اودجنګ ځني وی جنګ
عاشق معشوقه یودی خونسبت کښې غیر نکاری
بې رنګه نه بې رنګه او در نګه نه وی رنګ

✲ ✲ ✲

غوغا کړی پیغورونه په اخر کښې ورته ژاړی
وسلې دی چه سړی یې از مویی چه خپله ښځه
ګړی ساعت شه چپ له استقلاله دا به چپ شی
نیشه که شی دبټ بهر له خپل اصو له مه ځه

سالك په جوش دعشق كښې له هر څه وی بې خبر
په خودشی خوچه سدیې شی د لار ې مانعا ت
پتنګ په جوش كښې هیڅ نه وی خبر شمعې ته ګوری
پروازدعشق دجوش یې په ښېښه كاندی سرمات

✿ ✿ ✿

هر چالره صادق دوست چه پیداشی په دنیا كښې
خوشحال یې په صحبت اوسی هر څو كه دی خفه وی
حمز ه دخو بې اشنا به درته څه و صف بیا ن كا
چه ګوړه څوك له هرې ډډې وځكی خوبه وی

✿ ✿ ✿

په هر خوار و غریب مه كړه ګو مان دكمینه
مچان كه وی همه نه وی هر یو د شا تو مچ
صحبت د عـا شقا نـو و ی بـا عـث د منفعت
شوده په شړومبو تومنه شی حاصل شی تر پنه كوچ

✿ ✿ ✿

عمل بې شكه ښه دی ،خوموقع او محل غواړی
كتی نه شی كشمیر كه مېږی وخېژی په پچه
غصه به ضبط نه كاندی كم ظر فـه كم همته
په باد دپشه كنډ دچا خوه له به نه شی و چه

✿ ✿ ✿

هم عقل كړی دعشق په هدایت ، هدایت عشق ته
تل پند كوی دشاه په اجا ز ه شا ه ته و ز یر
دا نشته دی امكا ن و آ ینی لر ه هیچېر ې
چه پېش څه بې پر تو ه در ښا كا ند ی نظیر

لالچ حرص و هوا باسی سړی، له سړ یتو به
بې صبر و بې حیا ا و په ټپستی به و ی ککړ
هر څوکه دیو بل کړی خوشامد څه به و نه شی
مشهور دی دامثل چه نه هضمیږی دسپی غوړ

❁ ❁ ❁

خو دی ابنکلې شوې، په فطرت کښې دانسان ده
څوك وایی چه سپلاب کښې دبکرې نه اور لاړ
تا د یب او سر ز نش په بد فطر ته اثر نه کا
بدی به ترې نه یوسی که زر ځله ورکړې جاړ

❁ ❁ ❁

خوشحال وی چه بند ناست په خپله خوښه وی کوټه کښې
چه قیدیې کړې دوه ورځې ځلمی تیار په جنګ شی
کا لو نه که فر ا ق و ی دا شنا خو پر و ا نـه و ی
وصلت ته منتظر چه وی، دوه ورځی سړی تنګ شی

❁ ❁ ❁

تصویر دپاسه جوړ چه شی تصویر هغه خراب شی
دماغ داسې کمره ده چه هر څه پکښې موجود وی
حمزه که هزار ځله ا شنا و و یني په ستر ګو
خو اهش دتصو ر چه وکا نقش یې نا بود و ی

❁ ❁ ❁

قلم مې ر ا بهر کړ ر با عی چه مـا لیکله
ناڅاپه تور هندومې په نخرو په مخکښې ټپر شو
بندش مې داسې ووت له دماغه چه جوړ نه ؤ
راغلی راته نه یونوی خیال ؤ رانه هپر شو

په څنګ به ګرزېده، ما ته يې نه کړو التفات
زه خان د پښتنو، هغه هند وه تکه توره
ماڅان کړو بې پروا، خو يوه ورځ په خندا راغله
زه هم شوم په خندا، بې نيازي مې نه ودنوره

✿ ✿ ✿

خواهش او طلب پرېږده د دنيا - دنيا به راشی
په زور او په کړاو به روښان نه شی، د بخت ستوری
چه لمر ته مخامخ شی، نو وی سوری به د ې شا ته
چه څټ کړې ورته مخښې مخکښې ځی به درنه سوری

✿ ✿ ✿

اثر په تو رو زړه ونو، د نپکا نود صحبت څه
که او سپنه او بو کښې شی ګوزار، نو اخلی زنګ
په کاڼی باندې جوکه لګول عبث خيال دی
هر ګز د بې رنګی نه پيدا شوی نه دی رنګ

✿ ✿ ✿

اثر به د بد کا رو د صحبت په ما و نه شی
مثل دی چه لعلونه په ايرو کښې نه پټېږی
خواهش حرص وهوا کړی په هغو اثر چه سپک وی
چپه که د سپلی وی خو رڼا نه زا يلږ ی

✿ ✿ ✿

ګرمی وی که يخنی وی، خوخوک نه پرېږدی ملګری
که قيد وی خو چه خلاص شی ځی ملګرو ته مار غان
غمو نه د نيمګړې د نيا ډ پر د ی، ای فا ر وقه!
سحر و ختی ر ا ځه مو نږ ه ميلې تـه يـو ر و ا ن

پښتونه مسلمانه دمغرب په رنګ کښې رنګه
تهذیب دې مغربی، شو ذهنیت دې بدل نه شو
کارغه چه اختیار دزرګې تله کړل خپل یې هېر شول
تابع شوې دمغرب ولې غربت دې بدل نه شو

✿ ✿ ✿

پښتونه زه حیران یمه پیدا په څه فطرت یې
شا ملـه د رسره وینم د عمر بـد حـا لی
ژړادې شوه عادت، زړه دې خالی نه شو له غمه
غا یبه شی ور یځ، چه له بارانه شی خا لی

✿ ✿ ✿

له ښاره ماسپښین لاړو پائیندی للمې ته وروره!
رښتیا ده، وی شاعر په حقیقت کښې سودایی
ګرمی وه باسولی خاصه دارشنې چایې پخې کړې
پرې ښه مو طبیعت شو په کارېږی اشنایی
پایندی للمه ـ ۲۳ر۸ر۳۹

✿ ✿ ✿

واړه لوی ملاګوری، دی یکتا په ظرافت کښې
دیونه مې تپوس کړو، په ګرمۍ دی څه حالونه
هلك شو په خندا، دمدرسې جواب یې را کړ
ګرمی خوډېره نشته، خو په شپه نه شی خوبونه

✿ ✿ ✿

په څاښت کښې چه رسید شو، لوړې مېنې ته مونږ واړه
معلومه شوه دا خلق دی یکتا په سخاوت
مجنون هلك دکلی تر خوا مونږ چه تېر ېد لو
خاوند یې لا په کور کښې ؤ چه سپی یې وکړو ست
لوړه مینه ـ ۲۴ر۹ر۳۹

شهید مینه که کنده ددوزخ ده نه پوهیږم
ګرمی ده پکښې قیده و به ګوری که څوك راشی
ګرمی په زوره زوره چه ساه اخلی له دهشته
جنون پرې راشی چك په اندامو نو وهی میاشی

شهید مینه ـ ۵ ر ۲ ر ۱۹۳۹

✿ ✿ ✿

وړه غوندې دره دکم شلمان ده مالید لې
حساب یې که کړی خلق پکښې اوسی یوه لپه
سړو نه یې مچی دشا تو نه شی خلا صیدلی
اوسپی یې رسوی سړی ته ځان اول له غپه

کم شلمان ـ ۲۶ ر ۹ ر ۳۹

✿ ✿ ✿

ګوګل کښې مې چه اور دعا شقی بلیږی شپه ورځ
رښتیا دی چه په عشق کښې اندیښنې راپیدا کیږی
و ا عظه کـه هر څو کـو ې پند و نه ا ثر نه کا
تنور چه چیرته تودشی نو ډوډی پکښې پخښیږی

✿ ✿ ✿

راحت دستړی تن لره مفیده بې خودی وی
دعمر بې خودی، خوده په مرګ باندې حساب
یخنی کښې واخلی ساه، ډغرې نه خوری په قرارشی
توفان لره ګرمی جوړې حیات شی ددر یاب

✿ ✿ ✿

دقرض اخستل ـ خو ډیر اسان دی چه بیکار یږی
بیا پسته ډیر مشکل یې شی ، سړی ته خـلا صول
عادت دهر یو کار خو پـیدا کـیږی په اسانه
خو بیا یې وی لـه ځانه ـ نا ممکن جدا کول

دیو ی سړی معلومه کمزور ی - چه وی بل چاته
تېر یږې ترې په څنګک، نه کوی یون دده په لور
صحبت د چا که خو ښ نه وی دتا، چپ له حیا یې
اسان یې دی علاج ور ته یو ځله ور کړه پوره

✿ ✿ ✿

خواهش مې پخوانی ؤ - چه اشنا راشی دیدن ته
چه راغی، نو په دا سې رنګک چه استغفر الله
زړه بو کره په سر له ناتوانی، امسا په لاس کښې
چه مخ مې یې بر پنډ کړ، نووه لو ږه معا ذ الله

✿ ✿ ✿

دلوږې باد شاهی ده، صبر ؤ شکر تښتېد لی
تر غو ږ و د حمزه د پر اټو د ی ټپها ر
په چغو چغو وا یی اشتها چه ز ر شه پا څه
یو چاته ژړا وکړه که پر ې څه وشی ا ثر

✿ ✿ ✿

خو بیا مې د ژ و ر و د ضمیر نه یو ا و ا ز
را پور ته شو چه پام کوه انسانه مسلمان یې
متل دی چه خو له ما ته یا په مرګک او یا په سوال شی
خوا هش په لته ووهه مړ دی وکړ ه ا فغان یې

✿ ✿ ✿

سپرلی په کمپنی باغ کښې، دخرما دونې لاند ې
بلبل راته نارې کړې - چه دا ژوند خو یو نفس دی
دانا وې د فطر ت، خزان بها ر لر ی په مخ کښې
راتله دی تېر ېده دی دا او از د هر جر س د ی

روزی پیدا کوم دزړه دماغ په مشقت
په شتو کښې هم بې شتو یم چه ښه وکړم شاعری
تباه مې شو صحت خو آمدن مې وا فر نه شو
بدل راته حاصل دد ې خدمت شوه لاغری

✲ ✲ ✲

څوك هغه دی روزی چه لکه وینځه ور پسې وی
څوك هغه په روزی پسې تړلې یې وی ملا
داچك دروپو شلو- په دود وروان یم بېنك ته
او قرض دی په ما باندې - دد ېر شو نه سوا
پېښور - ۹ر۳ر۴۰

✲ ✲ ✲

روزی زماده مخکښې - اوزه ور وسته ور پسې یم
متل دی چه روزی خو د پلانکی ده په هوا
همدا ګناه مې بس ده، چه شاعر یم پیدا شوی
که ویښ یم که او ده، د ریډیو مې وی سودا
۹ر۳ر۴۰

✲ ✲ ✲

ما ډېر ډېر فریاد ونه ډك له سوزه ورته وکړل
زړه یخ، بې مرو ته د یار نه شو ترا ره کښې
په زور که شی ګرمی، د پشه کال خووی محفوظه
عاقله هغه واوره چه پر ته وی په څاره کښې

✲ ✲ ✲

بېګامې دخپل زوی نه دسبق وکړه پو ښتنه
چه نه ورته غصه شوم، ډېر مې وو هلو وران
بیا پسته چه خفه وم تسلی مې ور کړه زړه ته
هر څوك په غم، غصه کښې ګوزارونه کړی په ځان

ګرمی ورو وروز یا تېږی او کمېږی هم ورو ورو
یودم که اوړی ژمی وی نو خلق به و، مړ
ورو ورو چه سړی دوست کړې ترې یودم مه جدا کېږه
قانون باندې روان شه د فطرت چه نه شې پړ

✿ ✿ ✿

دعوی د علمیت مې نه ده کړې معترضه
د ماغ مې سلامت په خرافاتو نه دی ډډ
شاعر یمه زما د علمیت سره څه کار دی ؟
خوراك دی زما مغز، کار مې نشته دی په هډ

✿ ✿ ✿

خوارۍ او غریبۍ کښې، یار اشنا له سړی تښتی
مرض د پم و لګی په چاو ېښته یې رېژی
پیدا کړه خودی ځان کښې بې خودۍ کښې دې څه سود دی
خبر شه په پېچوم دزور ورو او به خېژی

✿ ✿ ✿

چه ولګیږی داغ د غلامۍ نه زائیلېږی
عادت دویم فطرت دی باغ د طبعې کړی راغه
نوکر چه پخوانی وی، د بادار له ظلمه نه ځی
پنجره کښې اموخته چه شی، بیا نه تښتی مارغه

ګو ښه کښې مې د زړه پېما نه ستر ګې اشنا اوسی
ر ندا نو په محر اب کښې د کعبې سا قی ولا ړ دی
مولا چه دی کړیم ، نو ښه نعمت یې هم کړیم ګړ
راځی ، چه نوش کوو بغیر له دې جهان ویجاړدی

بد چه کوې مه ځه چه دې بد به بدر ګه شی
هر چېر ته چه خوک ځی خپل عمل ور سره ګړ ځی
ځا ن و سا ته بچ دې د بـد ا نو له صحبته
خوک چه د بد انو سر ه ګړ ځی بد به پر ځی

په خوب کښې

ماوې چه جوړ- ویده قام به زما په چغو ویښ شی
معلومه شوه ماغبر کړ- خو بولو ته په خوب کښې
نوحه د مفلسی ده چه مې او ښکې سا تی و ینې
جو ړنه شومه په عمرهم بد لوته په خوب کښې

غفلت یې داسې یار دی چه یې ستایی په ر ڼنه
اشنا ته لکه څوک ورشی ښکنځلو ته په خوب کښې
ماشوم دایشیا به ، دیو رپ نه څه از اد شی
ور کړ یې یې ګوډی ده، لو بولو ته په خوب کښې
چه ټوله ورځ مې ستا په غم کښې وینې وې ژړلې
بیدار وم مر غلرو، تو یولوته په خوب کښې

(۱) دا شعر هم پاته کی دی .

رمضان

راشه پښتو نه چه دې زه دژوندپه راز پوی کړم
بې وینو غوښو ، نورځه ولې رمضان نه خوری
درخصتی په شپه مې وکړو، داتپوس ورځنې
څوك چه انسان ودانوی ، هغه انسان نه خوری
وی چه ر ښتیادی خومسلم ته یوسبق ور کوم
هغو به تل دبل خوراك وی چه خپل ځان نه خوری

* * *

صا دق دعشق هغه ګنهم چه اوښکې تو یو ی
الفت چې ترا وه په خپل محل کښې نه پرپږدی
اوس وار دځګر خون کړه، هره اوښکه بې بهاه
دادرمې «مرجو نادغم» په تل کښې نه پرپږدی

شالامار

سپلاب دپاغوندو ؤ، که ا بشار په شالامار کښې
جوړاوښکې دسلیم (۱) دی چه بهپږی لاتر اوسه
چه تپره بادشاهی شی بیایې نښې پاتې کپږی
حمزه دې نندار و ته دعبرت په ستر ګه کسه

✲ ✲ ✲

ستر ګې ډکې شوې له خوبه، ډپوه هم په ر پېدوشوه
جوړلمر مخی اشنا راغی ، که نسیم دسحر نه وی
چه دچا حسن نصیب شی ، ځوانی تپره شې عیشه
دومره محوه وی په ځان کښې ، چه له ځانه خبر نه وی

✲ ✲ ✲

هیڅ شك نشته په دې کښې، چه رڼه وی په عشق کښې
خو ښکا ری پـه مثال ور ته د ګلو ، د غه و نـې
هر څوکه ګلستا ن دی ، خو د غنو نه هم ډك دی
بې دپنه عقل څه کړی، چه دې خلاص کړی له رڼې

✲ ✲ ✲

زه خپل ځان هم نه وینمه ، تا به څنګه ووینمه
ته یو بېل غوندې جمیل یې، کړې پرده د آینې نه
حسن دومره بې پردې شو، چه ممکن ور ته کتل شی
عشقه دومره مضطر مه شه، چه بهر شې دسینې نه

✲ ✲ ✲

شوه نن ما ته معلومه چه وی ژوند په اعتد ال کښې
نه تل په بیا با ن نه تـل ا ستو ګنه نښه په بـا غ
که شور دحد نه زیات وی، هم کمزوری پرې دماغ شی
په ډپره خامو شی کښې هم کمز ور ی شی د ماغ

---

(۱) جهان ګیر مغلی پاچا .

وېش

راځی ء زما ملګر یو ، دا دنیا به سره وېشو
دنیا خو تما شه ده ، تما شا بـه سره وېشو

حیران یم چه دروغ به چاته پاتې شی وو ایی
انکار خو زما نشته چه رښتیا به سره وېشو
حاصل که دښایست سرمایه نه شی زبېرګی ډېر دی
هغه که په لاس را نه شی، نود ا به سره وېشو

✿ ✿ ✿

سپرلی په دې پرېشانه دنیا ګی کړو ګر ېوان څیرې
لېکن چه ما کتل ورته یو ګل ؤ په خند اؤ
ما وې چه یار به چېرې د ما نه شی حقیقت دی
تعبیر یې شو دروغ که هر څو خوب زما رښتیا ؤ

✿ ✿ ✿

ټکی دمطلب یمه تر څو چه مې ور ان نه کړې
یـا د لـره ا شنا چـه هـېر ولی نه شې مـا
زه به ستا خبر ې ته بې وز نه ولې وا یـم
ما خو د و مره و وې چه تللی نـه شې مـا

✿ ✿ ✿

هېڅ مخالفت د خپل ضمیر نه شـی کېد لـی
بیا زما دو هم ځله تعمیر نه شی کېـد لـی

مینه نور څه نه ده ،خو بس خوب دلېو نی دی
څه یې په لید و ، چه یې تعبیر نه شی کېد لی
زه دې سودا یی یم دکا کل ، لېو نی نه یم
چاوې چه علاج مې په زنځیر نه شی کېدلی؟

ځان دې چه خپل ولید د مین په آ ینه کښې
ستا د بهو ټا ل کښې حیر ا نې و ز نکېد ې
مخ دې که څر ګند او که دې پټ کړ خبر نه یم
خو ب کښې د ځوانې مسلما نې و ز نکېد ې
فر د د رسو ا یې کړ ه پس د مینې عد ا لته
وشوه کنه اوس خومې ځوانې و ز نکېد ې



همت موچه شل نه وی ، که ځغل اوږدوی، نو څه شی
که پېغلې حو صلی دی نو ځلمی دی احسا سو نه
صحرا د پښتون خوا کښې ، کـر وندہ ده د ګـلو نو
پسر لـی د ملیت شو لـو ، رپږ ی ا ر ما نو نـه

د افغانستان د خپلواکۍ د جنګ

یو یادښت

«د کافر کوټ» غونډۍ ته وختمه څار کومه
ما ته نژدې ماضي په لاس کښې آینه نیولې
د واقعاتو، حوادثو پکښې ښکار کومه
هرې غونډۍ چه خلاصه ماوته سینه نیولې

✿ ✿ ✿

تندی تراوسه دی، لا بوټ د ښکار غلی د غرونو
چه په دوی کړی ؤ، تېری د پرنګی پوزونو
«لنډی خانې» نه ورو په ورو د توره غونډه پورې
د تورو وچو غونډۍ غرونو سلسله تللې ده
ده هیبت ناکه خاموشی یې یوه ښکلا که ګورې
یا لمر خاته ته دد یو انو قافله تللې ده

✿ ✿ ✿

قطب ته څه تورې ور ېځې دی د مور ګو په سر
که پېغلې کونډې پښتنی دی د پښتون (۱) د لښکر
یا پښتون له ځانه ورک دی، چه په خپل نظر کښې سپک دی
څه خوشته دی په دامنځ کښې، چه سکون د زړه مې ورک دی
تا به وېښه کړم یا ډوبه، وخت د چړ دی پښتون سیمې
دواړو کسو ته مې ځیرشه، یو آمو دی بل اټک دی

لواړګی - ۲۸-۹-۵۸

---

(۱) پاړکی دی، د مسدس په شکل .

میا احمد شاه مرحوم ته

(دا قطعه ما احمد شاه مرحوم ته لیږلی وه چه د هغه د خط په ځواب کښې وه)

دژوند په راز خبر، په دې پوهیږی خزان راشی
قدرت چه کړی تکل د ګلستان د بدلو لو
شاعر لکه بدل چه کاندی، کړه وړه د خپل نظم
ورپېښ چه ضرورت شی، دعنوان د بدلو لو
پسرلی دې ستا مرض شی، د پښتو ادب په سیمه
همدا دې یو سبب شی، د رجحان د بدلو لو
احساس په مشرانو کښې پیدا دقومیت دی
دا زېری دقدرت دی، د افغان د بدلو لو

لواړګی ۲٤،٦، ۵۹

✿ ✿ ✿

په غره کښې وی هوا او که او به، پکښې ژوندون وی
نن لاړ و حیدری ته، کله کوز او کله ختی
لالس نه وې بجې، چه لوږې واخستم په مخه
«شیراز» راله وراته کړه چاو پشتلی وو دوه چتی

حیدری باغ ـ لواړګی ۵،۹،۵۹

تخلیق کوی دمینې مخ اوز لفې چه بر بنلوی
پیدا د جنسیت او لطافت په منځ کښې خټ شی
لپکن بې حجا بی چه شی ، سوا له مخ اوز لفو
دمینې لطافت په حیوانی ګرد و کښې پټ شی

پېښور ۱۳-۹-۵۹

هندار ه چه په لاس کښې د «پرون» و نیسم زه
ښه ، بد به را ته بنایی د ملت په هر قدم
د «نن» د تقاضا نه مې که خلاص کړ لو خپل ځان
شك نشته چه به ختم شی زما «د سبا غم»

ملیت

کامل چه شی ادب، نو دملت د کالبوت زړه شی
او زړه یو ضمانت دی په کالبوت کښې دژوندون
ملت چه مکمل شی سا دګی پکښې پیدا شی
تش بریښی آینې غوندې باطن کښې نندارتون
هرشی که په نړۍ کښې آینې ته مقابل شی
جواب کښې آینه هم هغه شی کړی را بېرون

✿ ✿ ✿

بنیاد دخپل تهذیب او تمدن دې بدل نه شی
هرڅو که د خارج نه ضروری استفاده وی
احیا دخپل تهذیب مې له یو ماره څخه زده کړه
خپل زوړ پوستکی و باسی خورنګ یې هم هغه وی

✿ ✿ ✿

ترڅو چه وی ادب قبیلوی نوځان په ځان وی
یوځان به شی منمه ، خو چه یو مرکز ته راشی
لښتی سر په سندر و په دو دو رسی و لو ته
ولې چه یو له بله ګډون وکاندی دریا شی

✿ ✿ ✿

ستاویښ که لاشعور شو ښه به پوه په حقیقت شې
خلاف دی له فطرته چه څوك وایی بله ژبه
پردۍ ژبې غائبې شی پیدا چه رنځوری شی
بیا وایی «وۍ ادې» او «وۍ بابا» پخپله ژبه

کابل ـ ٤ ر ۹ ر ۵۷

دا سې کرم وکړه چه زه پاك له د نیا پا څم
څر نګه چه وچه دا و بو نه هیلۍ پا څی
تا و دعشق مې و بو ګنېد له یخو ا سو ېلیو
کله وی ممکن چه بړ بو کۍ له سېلۍ پا څی
عشق و ته مې ولې د د نیا ګو ر تو ې غشی
حیف دی چه ومر ګې دنا رینه ته نجلۍ پا څی

✿ ✿ ✿

دخیالونو جزیره مې د وحدت لاندې تشکیل شوه
که کثرت مې دماحول شی طوفانونه څه به وکا
دهستۍ دد اېرې نه با لا ترد ساقی جا م کړ م
که مېچن شی په ما چور لی اسمانونه څه به وکا

پېښو ر ۸ ر ٤ ر ٦٢

✿ ✿ ✿

د ټېټېد ونه دی عادت ، چه پښتنې سترګې دی
خوای دحسن کور به! دلته مېلمنې سترګې دی
شوخو ککیودې دزلفونه کړۍ جوړې کړې
اوس خو په هر نظر مین ته زو لینی سترګې دی
ستاد بڼو غشو لیندو، و رو ځو له شوقه اشنا
دشهادت له شوقه ستا په لور کږې سترګې دی

د قیامت پیښ ګویی

وایی چه جدی کښې اجتماع دا تو ستور یوده
جوړه څه غوغا کړه په دنیا کښې نجو میانو
وایی چه قیامت راځی په دغو دریو ورځو کښې
ټك وهی ء لاسونه، پوري خاندی ء انسانانو

✡ ✡ ✡

موږ به ورته «دلو» د«جدی» دلاندې راولو
څومره چه طوفان یې وی په دې بوکه کښې ورک به شی
نه راځی قیامت چه څو نړۍ ته امام رانه شی
و پرې چه اخستی دی کوم زړونه هغه سپك به شی

لوامګی - ۳ ر ۲ ر ۶۲

✡ ✡ ✡

تا چه زلفې راخپرې کړې مستې ستر ګې دې کړې پورته
نور خو هیڅ رانه ونه شول ما وړ ځوته نارې کړې
دلبری درته مازده کړه ، زه دې هېر کړ مه دا ولې
بنیاد پټ شی چا چه پور ته عمارت ته منارې کړې

✡ ✡ ✡

نا پوهه وې پخوا به ددیدن په وخت کښې راغلې
اوس پوهه چه شوې اوښکې پښتنې، ولې راځی
بس هغه یوه شپه وه چه نظر یې رانه واخیست
اوس ختم انتظار دی نودا شپې ولې راځی

✡ ✡ ✡

دسکان اشنا په غم کښې تر سکونې اوښکې راغلې
دسر و لښو په یاد کښې یې میکونې اوښکې راغلې
بېلتون نه له مودومې وې په ستر ګو کښې ساتلې
دباندې ستا له جوړه زما جونې اوښکې راغلې
بند و نه د حکمت په مخه یو ځل عاشقه
خالی یې دزړه کور کړو اپلاتونې اوښکې راغلې

پېغلې چه غم او ښکې پښتنې کړ لې
خو د يې روا دارې د پر دې کړ لې
او ښکې مې په جام د ستر ګو و څښلې
ستر ګې چه ساقی را باندې سرې کړ لې
ستا پړ و نی حسنه سلا مت او سه
خا و رې که تا څو لو ړې شملې کړ لې



خپل حسن چه نه وی څوك په چا میندی نه شی
اور که وی په چا کښې، خو بې اوره بلېدی نه شی
مینه مې فطرت وه حاد ثو مې نظر تت نه کړ
ستر ګې د ماهی دا بو منځ کښې پټېدی نه شی
څر نګه شو ګیرؤ چه پسخاك مې دوصال کړ و مل
راغی اشنا راغی، زما ستر ګې غړ ېدی نه شی

ستا ګو اښ کړې زما ښکلیه داسې داسې وار خطا
لو ېدی، نه ستنېدی شی چه حیرانې او ښکې دی
د ښکلیو په نظر کښې که ارز انې وی هر څو
تو ئېږی په الفت کښې په ما ګرانې او ښکې دی
فر یا د یې لا سو ا شی اشنا ستا په د لا سو
نا پوهه دی ناز بینې، ما شو ما نې او ښکې دی

یو لا شپه

دریاد به وی زمونږ دوصل شپه وه موسپد لې
بر ښنا مې هره او ښکه پښتنه وه مو سپد لې

یو رنګ به د رقیب په مخ را تللو بل به تللو
سا قی چه ستا په لاس را ته کا سه وه مو سپد لې

هرڅو به کړې ما بلې، بیا به بیرته ډیوې مړې شوې
لپمو کښې دې مستی ، یوه لمبه وه موسپدلې

✡ ✡ ✡

ستانه راتلګ به ،ځوان په تنهایی کښې زماغم کړی
دا ځکه خو اشنا ز ما د کو ر لارې زړې شوې

چه تا ر ا ته کو لې ، با و ر ی و ې ستا خبر ې
چه زړه راته هم هغه کړی ،ر'مخکښې وسوسې شوې

✡ ✡ ✡

مه پټوه مخ ر ا نه ، ر ڼا مې د مخ لا ړ ه
ز ه هم یو بخر ی ، اشنا ستا دا ننګو یم

څو چه په تکل دا لو تو یم ، ستا په لو ر ې
هومره زه پوهیږم چه خپل ځان ته په راتلویم

✡ ✡ ✡

حال ته زما وګوره نن ،ا ی د خرما و نې ته
زه چه د کوم حال ځخې کوم حال ته ر سپد لی یم

ته لا هغه شا ن یې او د نیا بد له شو ې د ه
سپین مې دی وښتنه، چه موده پس در ته را غلی یم

زه به چه راتلم، نووم په د ېرشو، په دوه د ېرشو کښې
اوس چه در ته راغلم ، شپږ پنځوس ته ر سېد لی یم
زه شاعر ، ادیب ، متصوف ، فلسفی هر څه یم
بیا هم کله شی چه ، حقیقت ته ر سېد لی یم
کمپنی باغ- پېښور -۶ر۲ ر ۶۳

✿ ✿ ✿

ذوق مې دجمال په نندا رو هډو مړ یږی نه
خدایږو سړیتوب کښې لازما برخه وافره ده
لاخود «ناظر» (۱) ستر ګې غړ یږی پکښې شکر دی
ډله دلیکوالو مې، هر څو که بې «باصره» (۲) ده
لواړګی ۱۸-۳-۶۴

✿ ✿ ✿

تهذیب یې د پښتو ، له مغربی لولۍ نه زده کړ
خوی بوی او هم لباس یې مغربی رامعلومېږی
حیران شم چه خبرې په پښتو کوی ، نو وایم
ډك شوی ټیکلی دی، چه په ډډ کښې یې غږ ېږی
۱۵ ر ۵ ر ۶۴

(۱) لعل زاده ناظر شینواری .
(۲) مرحوم حاکم شاه باصر شینواری .

آزادی او ژوند

قوت له اتحاد ه ، د قوت نه آزادی ده
دژوند په راز به پوهه شي ، قرآن خوولو له
وتی شي ته، دځمکې د اسمان دهر یو ګوټ نه
لا تنفذ و ن ا لا بـا لسلطا ن خـوو لـو لـه

✿ ✿ ✿

راو ستی ځنګدن ، چه په کوم قام وی کږوچارو
چه ژ و ند وی پکښې پا تې غز ونې وکړی نېغ شی
د ځمکې طا قتو نه ، خو د تخم دانه ز مو ل کا
تحریك د آز ادی دژ و ند یې و لمسو ی نېغ شی

✿ ✿ ✿

عادت خودې وپرمات کړو، خوخلاص نشوې له عادته
یو راز په دې کښې شته دی که یې ز ده کړې له قدرته
عا دت ور کول نه دی ، په قبضه کښې راو ستل دی
خبر به هم له د ې شـی ، د فطر ت له نـهـا یته

لوا د ګی-۱۸ر۱ر۶۵

✿ ✿ ✿

ښکلیه حقیقت کښې زه او ته سره یاران نه وو
بس خوسره دواړه وو ملګری دیاری په لا ر
لاره شوه نړی ، بیا تپه ده تپه ده ورکه شوه
ښکاری دې اشنا ته رسېدل دبې لار ی په لار

شاعر په بل هېواد کښې وي دقام دستر ګو کسی
شاعر په پښتون خوا کښې ،لېونی اولا ملنګ دی
بنکاره ده چه راغونډ وی ،پتنګان په بله شمع
پښتون عجیبه شی دی ،چه دمړې شمعې پتنګ دی

✡ ✡ ✡

داصول دپاره کارکړه هر یو کار دې عبادت دی
وخت دکار دی چه تهر ېږی ، بیا دې وخت دعبادت دی
بې فرصته خوشحالی هم هسی وخت ضایع کول دی
خوشحالی هله روا ده ،چه له کاره دې فرصت دی
کار دې مه پر ېږده په غم کښې ،مناسب دی چه لازیات شی
دغمژن نفس ته ګوره ، په ژړا کښې په سر عت دی
چه هر کار یې په خپل وار دی ، هغه نبه دی ګڼې خواردی
کار په خپل وخت ومحل کړی ،دستور هسی دقدرت دی

✡ ✡ ✡

پـتو لی دې ورېځ ، د فنا نـه شی
دژوندون په افق وکړه بر ېښنا برقه
دحمزه له زړه به دردوغم شی لرې
خپلې زلفې دې که پور ته کړې له فرقه

✡ ✡ ✡

خراب نه وی شعر بنه دهر شاعر وی
کور به بدی مهلمه ته هر څه چه حاضر وی
هر کلام یې آیـنه د اضـطرار وی
دافسون نه واقف نه وی ،خو ساحر وی

سودایی وی په عالم د شهادت کښې
لکه لمر په معنوی جهان ظاهر وی
پرې باران وی ، د حکمت دمرغلرو
څه ښکاره کاندی، څه پټې چه باصر وی
لواړګی - ۱۲ - ۲ - ۳۸

✿ ✿ ✿

دګل غوږ دخوش بویی ء خبرې باسی
هېڅ خبر په ترانه د بلبل نه وی
خپل فریاد دعندلیب دزړه ارام دی
هېڅ ارام یې له نابودفانی ګل نه وی

✿ ✿ ✿

و به ر ېبی هغه فصل ✿ څوك چه کوم تخم کری
په بدۍ کښې نېکی نشته ✿ ګیدړ نه ز ېږ ی ء زمری
یو صفت د څاروی واخله ✿ چه در انه وی پرې وری
زړه سوری له رازه ډك وی ✿ شنه و اښه ساتی کوری
چه په خوښه ، په نیاز نه وی ✿ تېر تر ز هرو دی تری
ای شینواریه! ښه هغه دی ✿ چه کوم ځای خوری هلته مری

✿ ✿ ✿

ستا په څېر هزار هزار د ګل کلۍ شته
که دې سیال په باغ کښې نه وی نو ږلۍ شته
که وی تا څخه نظر او رلګو و نکی
ما څخه هم اسو یلی طو فان سېلۍ شته
په ښایست او لطافت چه غره نه شې
په صحرا کښې مې د فکر ګل د لۍ شته

د د نیا ټېسن ته یم ، په فکر تللی
ور ته څه ګاډی راځی او څه ترې ځی
یو ساعت یې دروی چه سود او اخلی
خلق داسې شی مفتون چه نه ترې ځی

ډیلی -۱۵-۸-۴۰

✡ ✡ ✡

چه دغره په سر کښې نوم دما غزه نشته
چه ډغروته ورځې سر به دې مات شی
په پنجه د زور آور سره ور مشه
یو وزریه د پلار کور به دې میرات شی

✡ ✡ ✡

د رقیب په ښو خبرو ، غلط مشه
ز هر تل لړلی کېږی ، په خوا ږه
که بد خو یه وی ، ته هم په هغه شان شه
کږ و تورو ته ، پکار تېکی کا ږه
زه رقیب په ښو خبرو و غو لو لم
په خوږو کښې شی ، دزهرو ګډ ېده
که دار وغواړې اکسیر هغه تشخیص دی
چه د او شی د مرض وی لنډ ېده

صنعت رقطا

زه یونم یم ،چه دځان له نمـه نم یـم
زه یو یم یم چه دځـا ن لـه یمه یم یم
خوښ هغه به شی ،چه ویر په ویر په ویر شی
زه چه پوه په ویر په ویر نه یم نوغم یم
کـه بـدن مې شو بـدن پسته یې بو یـه
ګڼې ز ه بـدن دځان کـه یم نـو پم یم

✿ ✿ ✿

که په ځمکو ځمکې جوړې شوې پټ نه شو
پرې تر اوسـه د جهد د نیـلی ٔسم شـته
بې نیاز چـه لـه حـا صل ا و نتـیجې ؤ
اوس چه دوا ډه ترې څر ګندشول هغه هم شته
دمړه روح دژوند طلب دې پاتې نه دی
ګڼې شتـه دی مسیحا نـا ره د قم شتـه

✿ ✿ ✿

شته په ګیلاه کښې د کال ✿ هم پسر لی هم پشه کال
په عمل کښې مونده کړی ✿ هم ثو اب اوهم وبـا ل
په انسان کښې خالق ایښی ✿ بد ر نګی ا و هم جمـا ل
ځکه زه په مزدوری کښې ✿ هم خفه یم هم خوشحال

✿ ✿ ✿

د همت په کلـکه ژی دمـر اد نښه
چه یو ټوغ دقام زلمی ولی ولاړ شی
شی انسان چه پوره فرض دسړی توب کا
لیندہ نښه شی چه غشی ځنی لاړ شی

نه دولت دی نه خوراك دی نه جامه ده
داخواهش دی چه انسان تر پ سر ګردان دی
یو قانع مې ؤ پـو ښتلی پـه دې حقـله
وې چه دادومره مشکل دی چه آسان دی

✿ ✿ ✿

دګرپوان دخیرولو آب مې نه ځی
زه اوده یم لپونتوب نه اوده کیږی
که اودې دې ښکاری نیم پرانستې ستر ګې
دمحشر پکښې آشوب نه اوده کیږی
میښې وا خستې قبول، شولې غا فله
څوك په وخت دناوې توب نه اوده کیږی

بمبئی ۲۹، ۱۰، ۴۱

خپلې مینې ته

اوس زما به تصور در ځی کـه نه
تا به نوې میاشت ز ما په مخ لیده
چه ته نه یې میاشت مې تېره ې کتو کړه
یې له تا به مې دچا پـه مخ لیـد ه

✡ ✡ ✡

ځان ته پوه ویل کو ښښ د پوهېدو دی
ښه پوهېږمه په دې چه نه پو هېږم
زه لیند ه یمه د عقـل غشـی ولـم
بیا هم زه یمه کړه که را سمېږ م

✡ ✡ ✡

ولـی نښه ا و که نه دفـکر غشی
ولې ژبه دارادې ده چه را کښه شی
عقل سر د نیا زښکته کړی چه کار کا
چه لیندې ګوزار ته جوړه شی کړه شی

بمبئی ۲- ۱۱ - ۴۱

✡ ✡ ✡

چـه د عقل نا کا مې شی ، و ر معلو مه
سـړ ی هله خبر د ا ر شی ، لپو نی شی
په هجمر کښې د ګو ګل چه اور د عشق وی
هر یو ځیز پکښې بې یا ر ه سپېلنی شی
نه شتشك چه بې کاری او کار خویو دی
و لې کار چه بې مقصد وی بې کا ری شی
بیداری اوخوب څه دوه ځیز و نه نه دی
خوچه خوب لره خوب ور شی بیداری شی

رنګ تړي نه‌درومي که ګل دی بې دماغه
بوی سا کن شی چه مشام ته ورسی
روح دعشق دقد سی تنو په نصیب دی
هسی نه ده چه به عام ته ورسی

✿ ✿ ✿

خپل حاجت که ګړي پوره له خپله ځانه
پسته پوه به ،په دا راز شي چه غم نشته
لکه غنې دې کورجوړ کړه،دخپل تن نه
ګرفتار دې نښکار په جال کښې څه کم نشته

✿ ✿ ✿

ستا مې نوم ګړ همېشه لره روښانه
په‌داځه شی که‌دزړه غمی‌مې تورشو
دتصویر تصویر کیده،له خاموشی‌وی
هغه مه ګڼه حیران چه ګلو په شورشو

✿ ✿ ✿

بیا څه ډېرې ور ځی پس د خرما و نې
درله را غلم چه را وړی مې یو داغ دی
دمر ګی خزان مې کور کړو بې بهاره
ته خوښه یې چه په برخه دې لا باغ دی

کمپنی باغ پېښور ۸-۱۱-۴۲

✿ ✿ ✿

تر دې حده دې طالب یمه دلبرې
چه دو ډې نه رمال پو ښتلی نه شم
ور سره دو یم کچه هم وه په زنه
چېرته لاړؤ، زه دې‌خال پو ښتلی نه شم

خا موشی یې ډېره ښه ده مبا رك شه
خوچه وایی هسی نه‌چه بد زبان شی
بندچه موتی‌وی تړې طمع د کرم شی
څه‌پکار ده‌چه‌تش تو روی چه‌عیان شی

✿ ✿ ✿

دولت منه پنځه‌وخته به بند ګی کړې
که د ې و لګی جا موته پیو نـد و نـه
لکه میخ چه ټك و ا هه شی نه خمپږی
ګو تې تن لـره پکار دی پـه بند و نـه

✿ ✿ ✿

د بېد یا خبر ې پرېږده د کور وایه
چه لیلی په بېدیا نشته‌مجنون کور ښه
په چپیامې غلط شو ی چه را ضی یم
ګڼه څوك وایی چه‌شور ښه‌دی‌خوشور ښه

✿ ✿ ✿

د دولت لالچ وهغو لره ور کړه
چه په خپله په‌خپل کور کښې‌زر لری
د قوت ا ثر په هغو به پر پـو ځی
چـه پـه خپله د قـوت اثـر لـری

په سوات کښې

کړه بېګا مې مینګو ره کښې شپه تېره
چه قسمت مې ؤ، دې آب او دانه کښې
د غر یبو په جو نګړه کښې تا زه وم
مړ غژن یم په شا هی مهمانخانه کښې

طواف

که چا پېره دصاحب له قبره چور لم
په حصول کښې د رڼالرم ز ړه صاف
مانعان دې له حیوانه عبرت واخلی
پتنګ هم کو ی دشمعی نه طو اف

پېښور -۲۸-۳- ٤٦

دکریم خوی

په فطرت کښې د کریم حیالازم د ه
هېڅ حاصل له حیا بې له عطا نشته
هېڅ پکار نه دی له لو یه سوال وړو کی
په ګو هرو نیمګړ تیا د دریا نشته
دریغه ظرف مې قمری وی ډېر به ښه ؤ
چه خو ر شید څخه کمی د رڼا نشته

شیطان او انسان

شیطان نه بلوسی پرې ،څوك چه سړی نه وی
د خپل نفس و ر سره بس ګڼی لمسو ن
چه سړ ی شی ، بیا یې نفس ته کوی لمسه
که خا می وی ، کړی ښکاره یې په افسون

دعالم حقیقت

ډېره زده کړه مې لا تنده کاندی ډېره
لا مې پوهه نا پوهی ده چه زه ځغلم
چه ور ور سم سراب وی هر یو علم
د عالم له حقیقته لرې وځم

مرحوم باصر

غونځېدلی سپرلی پټ شول پکښې پاتې
ګڼې ډك له سخن زړی ؤ باصر
څنګه ژرورته خوب ورغلواوده شو
د بقا له جنګه ستړی ؤ باصر

✡ ✡ ✡

ارمانونه دې مسکی نه شول، په زړه کښې
ناپرانستی ریدی پټ داغونه یوړل
ترخه هم دې زرغونه په قبر نه شوه
تا دځان سره رنګین خیالونه یوړل

پسرلی

بره اسمان په غورېدو راغی
په موسېدو په خندېدو راغی
کوزه شین فرش په غوړېدو راغی
په موسېدو په خندېدو راغی
چېرته غوټۍ وې بوګنېدلې سترګې
چېرته شبنم دی موسېدلې سترګې

د لته چه رایې ووړ، ترې جوړ شو لو داغ
د ریدی ګلی په ډیوټ کښې چراغ
د هرې پرخې په دنیا کښې یو باغ
بیا د دې باغ په هر یو ګل کښې دماغ

تا د هر ګل نه را ته داغ جوړ کړ
ما په نېشه کښې ترې ایاغ(۱) جوړ کړ

امیر کروړ

د پښتون له جلا لته جمال زېږی
تو د که اوردی لوګی سوړ پیدا کوی
د پښتون دا یو کروړ خو په ځای پرېږده
دا ادب دا سې کروړ پیدا کوی

✿ ✿ ✿

که په نغښته د پښتون دې ده نمنځنه
د پښتون دادب هسك در باندې و یاړی
د هر ځلك نه یې بختو نه را څڅېږی
ملتو نه هم دا هسې ستوری غواړی

✿ ✿ ✿

وچتو بی د سړ و نه ده پرې راغلې
د پښتون په سیمه تل دمېړ وځول دی
شته خټکو، ابدالیو کښې، غلجو کښې
بیا په واړو کښې ښکاره دلو دی کهول دی
پېښور - ۳۱ - ۱ - ٥٤

(۱) پاړګی دی د مسدس په شکل .

دزړه ګرزندی

پوه‌یې تصور کړمه ،دژوند په راز
پا تې چه اشنا ته مې اسر ې نه د ی
تېرې تورې شپې دوصل چېر ته دی
لاخو دهجران تور ې تېرې نه د ی
لاد زړه ګرزندی دی ، آباد ز ما
وران شوم،خولاورانې‌مې‌دپرې‌نه‌دی

خوازه‌یادونه

چه و وژو ند ، هغه نا زو نه لټو م
خپل نیمګړ ی ، نیا ز و نه لټو م
بې‌نوا ستر ګې‌مې‌ستا په‌لور ،ځلور شوې
ستا په ستر ګو کښې ر ازونه لټو م

❁ ❁ ❁

په‌ژړادر پسې‌شنې‌شوې ،دزړه شاړې
په‌خندادې کړې ،دزړه‌دافق‌غاړې
ستا پیکر ۇ د نا سو ب د قا لب ستر
پسته و پېژ ندې خلقو ، چه ته‌لاړې

لوا د ګی -۲۷-٦ - ٥٤

وعده

تا چه و عده‌د پنځلسم ر ا کړ ه
بدر ته ووایه ، چه ځان مه خور ه
لید لی چا د ښکلیو نه د ی نظر
مینه مه ژاړه چشمان مه خور ه

لېونی ته

دابادۍ نه چه صحرا ته خـا موشۍ ورسـی
شی بړ بو کۍ دفنا شو یو لېو نو شور ونه
شوه سلسله د جنون لو یه که شوې بېر ته په خود
چه اورېدی دې نه شی، نن دزولنو شور و نه

لوا ډ ګی- ۱٦ -۷ -٥٤

✡ ✡ ✡

چو ر لی د فکر د محو ر نه یقین
ځکه ر وا نه شوه اسما ن و د ر ېد
تګ دې کړ و اوښکه، لېو نی یې نه که
چه را غلو ستر ګو ته ار ما و در ېد

✡ ✡ ✡

هو مره د فهم پر و ر ش دې کو ه
څو چه مفهو م ته ر سېد لی نه یې
طا لبه علم تر هغه د ی پکا ر
څو چه معلو م ته ر سېد لی نه یې

عالم

ما یو هو ښیا ر ته و و یل د علم
و کړه تعریف هسی چه دم وی پکښې
هغه و یل چه مېو ه د ا ر ه و نه
او په خصوص سره چه خم وی پکښې
ما و ر ته و ې چه لږ د دې نه اوچت
و ې چه لېمه بیناوی نم و ی پکښې
ا و که له د ې یـې هم اوچت اورې
عا لم هغه دی چه عا لم و ی پکښې

پېښور -۲ -٤ -٥۳

اجازت دی ؟

پېر نګی د ر نـه پښتو د ه هېر ه کړ ي
چه کیسه یې را په خوله کړم اجازت دی ؟
و ا یی مو نږه سره ټو ل مسلما نا ن یو
ډېر ه ښه ده، زړه دې ښه کړم اجازت دی ؟
د پښتو په ځای تعلیم په ار دو ښه و ی
هیڅ خلاف به ترې و نه کړم اجازت دی ؟
یقین وکړ ه چه زه ستا نه خلا ف نه یـم
ولې پوه دې چه ابرزه کړم اجازت دی ؟
په ا ر د و مې ژ به نـه چلی صـا حبه !
په پښتو خبر ې و کړم ا جاز ت د ی ؟

خپله ژبه

ته چه قلم و ا خلې هند کـو و لیکې
هـم انـګر یزی او هم پا ړ سو و لیکې
منـم ، و یلـی شـې پښتو ، پښتو نـه
پښتو خـو د ا د ه چـه پـښـتو و لیکې

✡ ✡ ✡

په پر دو خښتو ، په پر دو تیر و نـو
د خپلې خـو نـې تـعمیر و لـې کـوې
منم ، چه خوب خو، په پښتو کښې و ینې
بیا په هند کوا یې تعبیر و لې کـو ې
منم ، چـه فکـر پـه پښتو کـو ې ته
په ا نګر یز ی که یې تعبیر و لې کو ې

انسانیت او حیوانیت

څو چه وپره تر هه نه وی سم به نه شی
لوی صفت شته په انسان کښې د حیوان
چه یاغی دخپل مالك نه شو دا حال دی
شو ل فـو ځی حکو متو نـه د جهـان

دی وران شوی که جو مات ؤ که کوټه وه
نن چه ر اغلم دلته ز ه د ر پې کا له پس
تو جه یې جو ړ مر قد و ته څوك نه کـا
نـن شهید با با کښې نـه ښکار ی یو کس

شهید بابا - بچکی - ۱۵ ر ۱۱ ر ۶ ه

ژو ندیې چه موقوف ؤ دنیا یست په دید
پښې شو ضـر و ر ت د بشر ستر ګو ته
ګوره چه پښتون زړه مې احساس کړو هېر
نه پر پرې دی دا اوښکې ګوهر ستر ګو ته

نن مې په شو نډو تبسم ښکار ه شـو
دا څه نـا څـا په ا نقـلا ب ر اغـی
اوس مې نه ویښه او نه خوب پاتې دی
د ی چه په و ینه نه په خواب را غی

زړه مې استقبال وته را تلی نه شو
او بښکې مې لېمو ته را لېږلې دی
ځوانې مې سلګۍ کړې په زغم زغم سره
ستا د پې تغافل ته مې پام لمی دی



ستا د فکر ژر ند ه پخه په ځنا ه شو ه
خو د چنجن د پې نو د عقل مشتکی شو
دژوندون، ولې په ځوړ ده ور ته ځیر شه
چا چه خوی د فلك و پېژ اند سړی شو

شونډې خود، داز ادۍ ناوې پرې سرې کا
چه د قام په غم کښې ځوك میده میده شی
عرف عام کښې خو پو ستکی دی د اوغزو
چه د و نې نه چد ا شی د ند ا سه شی

۱۹ ر ۹ ر ۵۷

انتظار

راغله زړ بوډی مې په مریونو ارمانو نو
زه لا د ښټو ن دشا ځلمو په انتظار یم
تودچه کړی مجلس دازادی په ښټونخوا کښې
جذبه ستا ، دیخو او سپلو په انتظار یم
زړونه دغوټیو چه پرک پرک له خندا وچوی
زه د هغو شو خو پسر لو په انتظار یم
دالویه نړۍ یې چه صحرا دیوه ځغل شی
بس د هغو پښلو پر بوکو په انتظار یم
کابل - ۲۱ د ۸ د ۵۷

د منګلو چه ؤ جنګ ، نو و مه د لته
نن کابل ته ځمه ناست یم په ، تورخم کښې
و یا پر م زه د خپلو اکې جشن ته ځمه
کړی محو انې مې غزو نې په قلم کښې
تورخم - ۱۸ د ۷ د ۵۷

هغه شپه ې که جو لۍ لا ړ ه ما ضی ته
په علمی څېړ نو ځلمند یې چه حا ل ؤ
جلال کوټ کښې ادیبان یې ټول راغونډ کړل
مېلمانه وو مونږ ، کور به زمونږ ه سپال ؤ
جلال کوټ - ۱۸ د ۸ د ۵۷

زه نن نهه کا له پس په جلال کوټ کښې
وینم دا چه اوچت شوی ډېر افغان دی
د ما هـر سر ه سحـر ځمه کا بـل تـه
لا به و ګو رم کابل چه په کوم شان دی
۱۸ د ۸ د ۵۷

په تعمیر کښې کچه خښته په کار نه ده
ښه پاخه اجزاء پیدا کړه چه ګل غواړې
په زحمت کښې دا نکته ده چه رحمت شي
دا غزو سره اشنا شه چه ګل غواړې

دیو لاس نه چېرې ټك ختلی نه دی
سترګې دوه دی یو نظر ترې عبارت دی
چه معیار دسړی توب لره پکار وی
اتحاد هغه د دین او قومیت دی

کابل - ۲۲ ر ۸ ر ۵۷

د پنجشېر داوبو رود دژوند اوبه دی
فردوسی هوا، هوا د ګل بهار ده
د چنار و نې قطار لکه عسکر دی
دلته څوورځې استو ګنه خوپه کارده

ګلبهار - ۶ ر ۹ ر ۵۷

وختونه درومی ملګر تیا یې ښه ده
خو خپل قامی امتیاز، مه ورکوی
وخت چه څه یوړل هغه ستا سو نه دی
را زونه اخلی، خوراز، مه ور کوی

کابل - ۷ ر ۹ ر ۵۷

خلمو ته

څه په تدریج او اعتدال سره ځی
دا کاینات ، هم یې نظام و ګوری ء
انقلابی ذهنیت ، په پښه نه دی
زور د سپلاب ، هم یې انجام وګوری ء

✲ ✲ ✲

ای د پښتون ملت و پو بخریو
سره را غونډ شی ء چه یو لمر شی پیدا
ستاهر یو فرد، دې یوایتوم شی ثابت
چه کوم ساعت و رته خطر شی پیدا

✲ ✲ ✲

د مستقبل دجا معمی ځلمیو
منم روز نه د ملت د ه پکار
له یوه لاسه ټك وتلی نه دی
نه ملګرتیا دحکومت ده پکار

کابل ۹-۹-۹۷

✿ ✿ ✿

دا منم چه هرو ګړی دې مجنون کړ
ډیره ښکلیه چه خوی بوی دې دقارون کړ
هم په تا به شی یو بار دحسن پښکه
خپل نظر چه ور ته مالکه پښتون کړ

په بروشینوار کښې

د فطرت پـه مـنا ظرو یم خو شحا لـه
دسپین غره دمور ګی، دې ښکلې لمن کښې
داهلوال چه راته ناست دی ساده ژوند کا
فردوسی دی دلته ژوند په داوطن کښې

✿ ✿ ✿

دا وریځې چه په مو ر ګه را خپرې دی
ودا نی دی چه را او ری په شینوا ر و
په دې د خت کښې مې دزړه نه ندا ر اغله
په ربښتیا چه زرمین وی پـه زر دا ر و

✿ ✿ ✿

دشینوارو دسپین غره له جګو مور ګو
را روان دی دخـوږو او بـو رودونـه
دلته خلق همه واړه سا ده ژو نـد کـا
کرونده کړی، پخو انی لری دو دو نه

✿ ✿ ✿

چه مې زړه کوی هوا په طبع راست یم
جوړ په خپل اصلی ټا ټو بی کښې نن ناست یم
عزیزان شینواری ټول راته راغونډ دی
خدایه تل یې متحد لرې په خو است یم

۵۷۲۹۱۱

له پرونـه چه زه دلته یم را غلـی
په خندا را ته ددې سیمې فضـا ده
غیرت مې محسوس نه کړو په ما حول کښې
زه ددې یم دا فضا جوړې زمـا ده

۵۷-۹-۱۳

✲ ✲ ✲

هر طرف په شاو خوا کښې ډیوې مړې دی
باده را ده چه ډیوې مې ګـل نیو لـی
څه په ما چه مې خما رنـه پیدا کړې ی
هر یو څیز که را تـه جـام د مل نیو لی

بړی امام بنډی ۲۴-۱۱-۵۷

✲ ✲ ✲

څوک چه دلمر مخپوشی، رونبا نه شی
وایه شبستان دقمر چپر تـه دی
پښې مې چه بې وا که دتادر ته ځمی
بیا ولې پوښتې چه مې سپر چپر ته دی

رمضان

یو عادت دی، داعادت چه ماتول شی
دعادت نه ماتول هر یو عادت شی

چه خلاصی دانسان نشته له عاده ته
بیا په کار هغه عادت دی چه رحمت شی

لوا ډکی ۲۰- ۳-۶۰

چه منزل داطمینان به کله راشی
دسکون په طلب مګرځمه پریشان یم

تلون را ته غمی دپوهی را کړل
دمعنی تپوس له ما کړه، زه یې کان یم

✿ ✿ ✿

که ناتوان وی هم چېرې نه پاتې کېږی
چه پخه یې ارا ده وی هغه ټلی شی

دا یمان ځوانی له پاکه ربه غواړه
غرلاڅه چه پرې اسمان ته هم ختی شی

✿ ✿ ✿

په ځوانی کښې هر مشکل هم سهل برېښی
لکه سمی چه دغره نه ځړدې بنکاری

ته که زوړشې، خو همت دې چه زوړ نه شی
په ربښتیا که ته په پښت یې د شینواری

لوا ډکی ۲۴-۹-۶۰

دخوشحال دیادونې ورځ

رومانی جذبه دې ښه‌ده شا ځلمیه
خور ومان دې دپښتو سره کوه
دخوشحال بابا دقام ځلمیه کهوله
ژوند او ژواك دننګیالو سره کوه



ای دقام مستقبل روښا نه ذهنه
شفقت د پښتنو سره کوه
دهلال غوندې روان او سه غټېږه
خیال دقام دتورو شپو سره کوه
دهوسې غوندې معصومې لره ستر ګې
خو خبرې دز مرو سره کوه
١٦-٤-١٦

هېڅ انسان له خپل انجامه خبر نه‌وی
بې خبره چه ژوند تېرشی ژوند خوشحال وی
دفطرت دوه اننګی: خزان، بهار دی
دغه وِنې چه خپراز ه کال په کال وی

غزل ځوان شو

دمور پلار په وینه وده داولاد وی
دور ښمو چنجی ورك شو، خوعیان شو
چه ځوانی یې د با باوی، زوی وی طفل
چه بابا دغزل زوړ شو، غزل ځوان شو

لواړګی دچار باغ مشاعره ۱۸-۶-۶۲

تلم چه د حسن د لمبې په طلب
ترینه پرېشان لکه لوګی راغلم
ستا په ستم او په جفا ا شنا!
خولې ته دتاشوم اسوېلی راغلم

ته که ځې زما له خیا له؛ ښه ده لاړ شه
زه پوهېږم چه څوك بل به ورته را شی
دیوځای نه چه یولاړ شی بل را درومی
امکان نشته چه پیدا چېر ته خلا شی

ستاو عدې چه کوم ساعت بدلې شوې
بیا په زړه کښې تتې لمبې بلې شوې
ځکه مخ روڼی مې دما ښام وکړ
او ښکې مې شوې تلې ډیوې بلې شوې

پښتو

ذر یعه دې د تعلیم چه پښتو نه شو ه
خود پښتوچه پاتې نه شوه بې پښتو شوې
تصور هم دذ هـنی ار تقـا مـه کړه
کله ته پـه غوځ وزر دالو تـو شوې

پېښور ۳۰-۱۲-۶۰

✿ ✿ ✿

د مـلـت د مستـقبل ځـلمـیه و ا و ر ه
در یغه ته چه لیك او لو ست د پښتو خپل کړې
ستا به شمار دار تقا وی مد ا م نو لس
بې له خپلې ژ بې خدایږو که یې شل کړې
مونږ زاړه یودر نه تلو نکی خبر وو دې
هسې نه چه پسته مونږ وته ښکنځل کړې
۳۰-۱۲-۶۰

✿ ✿ ✿

هغه کوم در دی چه پښتو دپا ر ه
مایې تـل کړ ی ننـو ا تې نـه د ی
اوس مې نووار، د زړه دوینورا غی
چه پښتنې او ښکې مې پاتې نـه دی
۵-۱-۶۱

✿ ✿ ✿

نشته په ښکلیو کښې وفا نشته د ی
زړ ګـیه تـپر وتـې جفـا لـتـو ې
ای دنـا کـا مه انتـظا ر او ښکې
لاړې جوړ ستر ګـه دسبا لـتو ې
جوړ د و جودپه حقیقت نه یې پوه
په کـا ئـنا ت کښې چه خلا لتو ې
زړه خو له وخته را نه تا وړ ی دی
بیا څه دپـا ر ه، زړ ه ز مـا لتوې

زلفې

دا بـه سپوږمۍ تـه قهرېـدې زلـفې
اخو لیدې چه مسېد ې ز لفې
ستا د بـار خـو دښکلو لـو پـه شوق
یو ه له بله جنګېد ې ز لفـې

دسبازیری

نن په نوی ډول مې له ګلرخه سبا راغله
و خانده دزړه ګلشنه نوې هو ار اغله
تښتی پریشانۍ دیار د زلفو تصو ر د ی
غـم دجـدایۍ پـه مخه لاړه بـلار اغـله
نیم پرانستی سترګې، بیا زما شول پر هرونه
مسك مې شول ز بیرګی ورلره نوې دوار اغله

علامه عبدالعلی مرحوم

سمند ر د علم و فن عبد ا لعلی ؤ
ؤ لوی لاس یې د پښتو څڼه ور بل کښې
که وفا ورسره کړې ژوندانه وای
ډ ېر ې پټې خز انې یې وې په تل کښې

✲ ✲ ✲

هغه لمر که د پښتون دافق پر ېو و ت
پرې تر اوسه دی روښا نه سپو ږمۍ ستوری
هغه ابـر چه یې جـو ړ له ا سو یلـو ؤ
لا تر ا و سه د ا د ب با ر ان ترې اوری

✲ ✲ ✲

نن وجدان مې څه ښکالوغو ندې حس کړې
جو ړ یو غږ عبد العلی در ته ځلمو کا
ز ما حق به په ر ښتیا هله ا دا کړی
چه د تا سو هر و ېښته پښتو پښتو کـا

بغاوت

څه کاوا که ځلمی داسې هم لیده شی
بغاوت له روایا تو یې ښیوه ده
وی منکر به له ځلا نده روایا تو
چه د نسل یې مورثه بوزینه ده

سحر نه راځی

څه عجیبه شپه ده ، سحر نه راځی
نن هغه سپوږمۍ ، چه بهر نه راځی
نن چه هسی ځان ته خبر شوی یم
ښکاری د اشنامې ، خبر نه راځی
راغی تصوریې ، په بېلتون کښې نن
چاوې په وچ ښاخ کښې ثمر نه راځی
لاړو هندوستر ګو سره خوښ شو جوړ
بېر ته چه لېمو ته نظر نه راځی

لواړګی-٤-٦- ٦٤

ځای دهر چاد زړه په کور کښې لرم
توبه دې راشی ، پسی تلی نه شمه
چه خوشحالۍ ، هم ستمګرې شولې
نوردې اشنا ، غمونه وړی نه شمه

د سلطان محمود غزنوی
په مزار

که هر څوډې مخ روڼی بوت شکنی وه
خو خفګان د فردوسی در باندې داغ دی
په لوګو یې د پوال خود ، د خونې تور شی
که څه هم په کښې بل شوی نه ځراغ دی

غزنی - ۵ - ۱۰ - ٦٤

د حکیم سنائی
په مزار

چه روښانه پرې د روم د مولا زړه ګ
لږه ماو ته هم ، برخه د حکمت را
کړه روښانه مې ډیوه له خپله سوزه
ټپر ېدلی یم ، دلا رې بصیر ت را

✲ ✲ ✲

غزنی ۵- ۱۰ -٦٤

له فراقه زړه چا ودون مې مد ا می دی
خپل غمونه به ر ېښم چه یې کر م خو رم
چه پر ې ز ه یم له جنته ر او تلی
ځکه زه هم په ډېر شوق سره غم خورم

پاړکی

۱۵۸۹۱

علامه اقبال

کوم مارغه دمعرفت اود حکمت ؤ
چه په جال د تخیل کښې دې ګیر نه شو
ستا پیغام ،خو آفاقی او همه ګیرؤ
خو په دې کښې هم پښتون در نه هېر نه شو

✿ ✿ ✿

پېښور ـ ۲۱ ـ ٤ ـ ٦٥

تصور دیار له ستر ګو زړه ته کوز شو
وې چه غمه په ارمان باندې مې شپه ده
سر زما په سینه ښکلی اشنا کښېښود
زړه یې روښ کړ په ګرپوان باندې مې شپه ده

۱۵۸

پښتو ټولنه

ټولنې ډېرې په نړۍ کښې شته دی
د لـو یو لو یو ، د وړ و ټو لنه
ر ا شیء له لمر به یې ر ا و نښلو و
د ه د وړ و وړ و ذ ر و ټـو لنه
بیا نو څا در در ڼا و ېړ کا نـدی
د پېغلو ، شو خو ، پلو شو ټـو لنه
نه شی تکمیل د فر دیت د کا لبوت
و جو د چه نه لر ی تر څو ټو لنه
هم وی غومبسې هم د شا تو مچۍ
شته د تر خو ا و د خو ږ و ټو لنه
سلیمانی نـظا مؤ، پـا تې نـه شو
تر او سه شته دی د مېږ و ټـو لنه
چه سره ټولې شی ټوك ټوك ور یځې
جو ړه شی لاند ې د شینکو ټو لنه
ښه ده پښتو ټو لنه ، ډ ېره ښه د ه
و ی د ې همېش د پښتنو ټو لنه

کا بل ـ ۵ ـ ۹ ـ ۵۷

د خو شحال بابا

په یاد

ولی به زه دو مره د ماغ نه کوم
نن د سرحد دماغ ، دماغ دی ز ما
چه ما پښتون ته ؤ مغل را کړی
نن هغه داغ د زړه چراغ دی ز ما
چه معلم ؤ د ملت د خو د ی
هغه یاغی اوس دزړه باغ دی زما
وایی که حلق مې شی د تندی نه وچ
زړه د کوثر نه هم فراغ د ی ز ما
مات یې کړو خم د استعمار د مغل
د ا تخیل د قا م ا یـا غ د ی ز مـا
بر قو نه هم په ما ګلا ن و ر و ی
نوی سپرلی په باغ و راغ دی ز ما
د آزادی ستر ګې ځلا ند ې شو لې
جو ړ لګو لې یې څر ا غ د ی ز ما

په ډیلی کښې

نن سحر د جمعی دی چه زه نا ست یم
په پوړو کښې د ډیلی د جماعت
د معاش د جنګ شروع وشوه رڼاده
و ریځ تته لمر یوه نیزه اوچت
په دې ځای کښې لکه پل دی لتاړ شوی
د «خرم» او «اورنګ زیب» شان وشوکت
بازار کړې غزونی راویښ شوی
خود خوب نښې لا ښکاری په صورت
په پوړو کښې لاویده ډېر فقیران دی
دی بالښت یې د خرم ټول حکومت
څوک راویښ دی له بیړۍ لوګی و باسی
څوک دوکان ګوری د چایو په حسرت
شپه تیریږی که په تخت وی که په ځمکه
وخت روان دی که څوک ټیټ وی که اوچت
واقعات همه له وخته سره لاړ شی
شی را تلونکی وخت ته پاتی حکایت
د دنیا په خوب کښې، خوب وینی داخلق
بیا د اخلق هم دی خوب په حقیقت
هر یو ذات دی مجموعه، د څو صفاتو
اوچه خپور شی، نه یې ذات شته نه صفت

هغه ذات دی، چه دی ذات په حقیقت کښې
د ی نـمو د یـې له صـفا تـو عبـا ر ت
«شاه جهان» ؤ که «اورنګ»، که «شاه عالم» ؤ
لا ړ ل ټپر شو ل ، شته یې پا تې حکا یت
د د نیاد و ا صل ځای و شی ، په ستر ګو
په زړ ه ځا ی مـو مـی ، و ا صل دا خرت
د « خر م » او د « ا کبر » عما ر تـو نه
پـه نـظر کښې د کـتو نـکی د ی عبر ت
لمر خا ته ته د « سر مد » قبر ته ګو ر م
پـه ډېـر نـیاز یې ، کا ندی خلق ز یارت
د « محبوب ا لهی » په ر و ضه با ند ې
و ی سر و نـه تـل پـر ا تـه د عقید ت
« قطب الدین » چه د خو اجه « معین » نا یب دی
لا یې پا تې د ی ، په ز ړ و نو حکو مت
د ا جهان یو هسی کو ر د آ ینې د ی
چـه میلمه یې د ی فنا کو ر به حیر ت
د حرت په کور کښې بې له نشته څه و ی
څـه کـه و ی ، نـو وی لـه نشته عبارت
د پښتو مـشا عـر ې د پـا ر ه ر ا غـلم
نن به و ر شم تر ې سبا به شم ر خصت
بیا به و ا یم چه نه تللی نه ر ا غلی
د قیا م ا و سفر یو د ی حقیقت

وجود

ته کیفیت که د وجود لټوې
وجود هغه دی چه نمود غواړی

ډېر وجود ونه وی ممتاز و بله
هر یو صفات او څه حدود غواړی

وی تصادم به یې په وخت د نمود
داسې حالت نه هست به بود غواړی

ډېر وجود ونه یو صفت او یو رنګ
هغه ډېر نه دی یو وجود غواړی

وجود خو یو دی ناممکن یې کثرت
خو په کثرت کښې خپل نمود غواړی

دود وی له اوره که له هر څیز وی
څوك به ګنډېر او څوك به عود غواړی

لواړګی - ۲۰ ر ٦ ر ۵۷

د هند نجوم خانه

نو لسم د فر و ر ی و رځ د ه د نهیې
ناست یم زه د هندوستان نجوم خانه کښې
د فلك د ګلستا ن کیفیت و نه
دلته و ا ړ ه مجتمع د ی په د ا نه کښې

دهندو جوتش کمال دی چه بنکار ږی
ا ر ض مشغول دی دسما په افسانه کښې
د لته جوړ عما ر تو نه په د ا شا ن د ی
چه یا د ږی ر ی به په هر ه ز ما نه کښې

د ا جر ا م فلکی د ا نمو نې د ی
د ی مجا ز د حقیقت په نښا نه کښې
د آ د م د خلا فت ستا ینه کږی
د د ې نښو په خا مو شه تر ا نه کښې

څه سیلو نه دقد رت دی چه یې زه کړم
د ږ یلی د ر ا د یو په بهانه کښې
زه خفه یم تل په دې چه سر ګرد ان یم
ګو یا جام یم د جهان په میخا نه کښې

خبر نه یم چـه با د ه له هـر ه قسمـه
ا چـو له شی ز ما په پیما نه کښې

یا علوم دی چه تکمیل زما پرې کړی
زه د دوی او دوی زما په آستا نه کښې

د پر تحصیل و ی د پر ه تند ه د علو مو
علاج زیات کړی لپو نتوب په فرز انه کښې

په هستی کښې ټول تحصیل دی لاحاصله
ز ر به څه کړی چه میشته وی خزانه کښې

مطمئن هم چه د علم طلب پـر پـر د ی
دا هم دی یو لپو نتوب په فرز انه کښې

ژو ندی ز ړه لر ه پخپله علم ر ا شـی
بله شمعه شوق پیدا کړی پرو انه کښې

ا لا جـی د مصا یبـو ضر و ر ی د ی
څه که ټپل شته دی دزړه په پو ندا نه کښې

حمزه ! بس چه دې ملنګری فکر مند دی
د ی په خیال کښې داجمیر په آستانه کښې

دهلی ـ ۱۹ ر ۲ ر ۶ ٤

فردونه

۱۶۸۹

د خادم محمد اکبر

په یاد

کار وان د پښتنو د ترقۍ په لاره سم دی
را وړی مې ستاقبر ته دژوند عظیم خبردی

ډیر ډیر دی جرسونه ، خوجدا پکښې ستاغږدی
بې شك پکښې «تورسم» شته هم «فدا» اوهم «شرر» دی

منزل وته نژدې دی چه کاروان دې د مراد ۇ
که خدای کوی مقصد ته رسېدلی داسفر دی

چه شپه دوصال راغله له ما بنامه لاړه شوې
راو ښې شه چه اوس غشی په لیندې کښې دسحر دی

خادمه د ملت له مخد و ما نو چه غایب یې
دا څکه چه د هغو په ککو کښې ستا نظر دی

وه ستا دلپو نتوب چه میراثه شوه ورته پاتې
دا هغه میراثه ده چه شاعر په دې خبر دی

پښتو پښتو به وایو که مو څوك ولی په ګټو
خادمه دامو هم زده کړی ستانه یو هنر دی

هر څوک کله پوچوم وی، پوچوم وی کله هر څوک
غم غم وی په الفت کښې، داغم وی مسرت شی

✲ ✲ ✲

ما څخه بې سوزه څه نشته او ته غواړې وفا
ځای د نګهت نه وی بلبل کښې، په ګلانو کښې وی

✲ ✲ ✲

سر او مال مې داو کړل دښایسته اشنا په مینه کښې
څومره ګټه ما وکړه، هر څوک مې زیان کړی دی

✲ ✲ ✲

سوی خومې نشته خوچه ژوند مه سبب دادی
چه زوړ سنت دعاشقانو رانه پاتې نه شی

✲ ✲ ✲

ما په مستۍ کښې یار ته لاس کړو دادب په تندی
په بې خودۍ کښې د خودۍ مې ځان کښې رنګ ولیدو

✲ ✲ ✲

صورت د عکس دیار مې آینه د غم لری
ګویا میو د وصل نه ډک جام د جم لری

✲ ✲ ✲

عشق په سینه کښې څه نقوش دما سوانه پریږدی
عکس به ځلا کښې د آینې څه خرابی کړی پیدا؟

عشق مې نه پر پرېږدی غمونه ، بې له یاره په سینه کښې
له عکسونو څه نقصان وی ، آینې ته په جوهر کښې

✲ ✲ ✲

ستا په عشق کښې یم چه فریادی ، یاره مجبور یم
دود به تر پې څرګندشی په هر ځای چه بل شی اور

✲ ✲ ✲

ډیره موده پس مې اشنا وکړ له پوښتنه
حق ده چه احساس ، خو پیدا کیږی په پیرۍ کښې

✲ ✲ ✲

وتهمت ته اوږه ټینګه کړه په عشق کښې
هو ډه تل ساته له ځانه په سفر کښې

✲ ✲ ✲

جمع مې په زړه دغم راویداد ، یو اسویلی ؤ
ستاد توفانی ستر ګولیده وو لاړ په ښکته

✲ ✲ ✲

ګوهر واخله آب یې نه ځی بهانه ځی
بې څه داسې بې پروا خو دریانه ځی

✲ ✲ ✲

انسانیت ښایی کرم ولې پرده کړې له ما
وایه اصول مخکښې پیدادی که انسان پیدا

✲ ✲ ✲

نن چه ته هسې په ستر ګو کښې مسکی شوې
دز مری زړه ته دې کښېښو ه غر څنۍ

تا ته چه رقیب ده چغلی کړې ما ته ګورې
ومې ګوره ستر ګې که په تور او سپین خبر یم

✲ ✲ ✲

جوړ خبر وې چه دې ست د بو سې وکړو
دی رښتیا، خو ما نفلی رو ژه نیو لې

✲ ✲ ✲

غشی د شوق څه کړم، شو له ملامې د لېندې په څېر
ګز مې د غمو نو ژړ وی د سرینـدې پـه څېر

✲ ✲ ✲

چه سودا د زړه په مال د مینې ا خلی
وا یـه ز لفې ځنځیر ولې را کـوی

✲ ✲ ✲

راز و نه، نه وو جوړ تپرې وې یو په بل وی جمع
شوه په نا وتو اسو ېلو د زړه فضا خیر نه

✲ ✲ ✲

د چاشو نډ و زما خون دا ر ما ن و کړ و
چه د ې ر ا غله ا ننګو ته حیا بېر ته

✲ ✲ ✲

حیرا نه یم چه څر نګه یې پاك چه وینی ځان
صو فی ته یوه ورځ وشو پېغور د آینـې

✲ ✲ ✲

خو بو نه زما نه دی ، د تعبیر داو بو تږی
په سیند پورې وتل وی، بې وزرو لره ګران

✲ ✲ ✲

دود، د نا کامۍ د مړه حسرت د زړه د شمعې
وکړه تبسم ، خپلو جلو و ته کفن نة یم

شوې تمبې مې در احت په زړه کښې بېرته
چه په د وه طر ف د مخ يـې پلو و ا خست

✿ ✿ ✿

دحرمت په مطلب پوه نه يې زاهده
په هجرا ن کښې دشرا بو نه پرهيز دی

✿ ✿ ✿

وخت دنن په لاس کړو پورته دسبادمخ پړونی
دسبا پرده پرون وه، نن چه وخوت هغه نن ؤ

✿ ✿ ✿

په ځنکدن کښې مې د ټول عمر لذت بيا موند
ورته چاو کړو هسې غږ چه دې اجل غواړی

✿ ✿ ✿

زه خود داريم، ته خود بين يې، وايه کوم دی اصلی حسن
آ ينه ما ته محتا جه ، تـه محتا ج يـې آ ينې تـه

✿ ✿ ✿

په دريا ب دمحبت کښې، چه څوك سپك وی لکه خلی
چه دموج تتوړی وخوری، سر يی ورسی سا حل ته

✿ ✿ ✿

په شپه کښې دوصال راسره مينه لکه خوب وه
سحر چه دوصال شو، ګر يزان شوه بې طر فه

✿ ✿ ✿

څو څو ځل دمه ګير، ستړی پتنګك شی، بيا طو اف کا
چه ستړی په ديدن شی، ،دمه ګير به شی په شمع

✿ ✿ ✿

عمر ټا ل دی پکښې وېره، هم تفريح شته که پو هېږې
ده جو ټه د بل په واك کښې، ځان دې کلك سا ته خبر شه

زما زړه خوستا دعشق اور اورکی دی
سوز ول او سول یې نشته دی رڼا ده

✿ ✿ ✿

پوه دډېر عمر په راز جوړ یوسف زی دی
چه سپین ږیری پکښې ډېر او ځوانان کم دی

✿ ✿ ✿

تاجفا انتقا می کړه نه له نا زه
ځکه ما نه هم جذ به دوفا لاړه

✿ ✿ ✿

نور ملګری څه کړمه چه وخت بې وخته نه وی
ځا ر له خپل قسمته چه له ما نه جدا نه شو

✿ ✿ ✿

تحفه راته دصبر او در ضاور سېده
دمینې وږی تږی ته غذ ا و ر سېده

✿ ✿ ✿

بې له دې اوښکې چه مې زغم ستر ګو ته پرې نښوه
دزړه صدف لره مې څاڅکی د نیسان کوم دی ؟

✿ ✿ ✿

نن دې چه پرېشانه شوو زلفان په مخ
ښه ښکا ری پر ېشان ، دپرېشان په مخ

✿ ✿ ✿

عشقه له نیازه منافی دی خوشا مندې
ګوره دې پرده کښې به شیطان وی دهوس

✿ ✿ ✿

ستاګرمی دتصور می شوه په کا ر په بېلتا نه کښې
اور که نښه ددوزخ ده ، خو په ژمی کښې جنت دی

✿ ✿ ✿

پټ په پټه څوك له فقره نه خلا صېږی
بې له دې یې څه علاج ، چه یې څرګند کا ؟

شوه پېغله زما مینه راته هسی معلو مېږ ی
د زړه په سرز ما ځوا نکو و و هل سر و نه

✿ ✿ ✿

پاتې به پرده نه شی ، که پټ شوې په پرده کښې
ستا بې پرد ګۍ همه پر دې دی پیدا کړې

✿ ✿ ✿

ستا د زلفو تصور مې د دنیا حرصو نه ورك کړل
دا روښانه حقیقت دی ، چه تیاره شی مچان کښېنی

✿ ✿ ✿

زړو نه وی پخپلو کښې ، دا هسې در ند ا نو
څنګه چه دا نې وی ، دا نګو رو په ږ نګو ری کښې

✿ ✿ ✿

نه دې غوښتی شم ، نه دې غواړمه زه
ډا رمې له دې دی ، چه ته ما غواړې

✿ ✿ ✿

څنګه بو ګنېدلې شپه ، د هجر په خندا شوه
ستر ګو مې د ستور یو نه مسکا ، و تښتو له

✿ ✿ ✿

پښې د نظر مې شوې په لاره پولۍ
که ستا نظر ته رسېدی ، څه به وو

✿ ✿ ✿

ته لکه پسر لی مې ، چه د زړه په وطن راغلې
ژوندمې در ته مخکښې لاس په نام و در ېدو

✿ ✿ ✿

هېر مې که اشنا شو ، خولا هېر نه دی
نوم یې که په خوله نه وی ، په زړه راځی

✿ ✿ ✿

د فرهاد غوندې مې وژنې په ستم له خپله لاسه
خو تر خه خبره هم په خوله شېرینه را ولی

وېره به هغه کړی ، چه وېره نه کا
څوك چه وېر ېږی ، وېر ېدلی نه دی

✲ ✲ ✲

وی نوی کیف به ، په شرابو کښې نن
ساقـی دځـان سره ، موسکی راځـی

✲ ✲ ✲

په سبا کښې څه پیغام راته محسوس شو
چه ګیاه غوندې مې سر و خوځاوه

✲ ✲ ✲

هر څوکه اوسېلی مې څه ناڅیزه درته ښکاری
یوه ټوټه وریځ کړی ، په شیبه کښې فضا پټه

✲ ✲ ✲

پیاله دې تو یند ه کړه ډکه زما
ساقی دانن نوی کرم څنګه دی ؟

✲ ✲ ✲

چه عاشقۍ و ته بې آبه نه شی
غمه ګـو هر د زړه مې تاغـواړی

✲ ✲ ✲

خدایه ورپسې دې وی سیلۍ داو سېلیو
نوم چه داشنامې دزبېرګو سره راځی

✲ ✲ ✲

دعقل نه بهر کړه ، کږلېچو نه که هوښیار یې
فطرت ټـو لې کـږې لا رې پخپله سمـو ی

پسر لیه! دخندا ډکه جولۍ لرې ، منمه
ورشو د پښتو نخوادې کله هم له خنداشنه کړه؟

✲ ✲ ✲

خیر په ګستاخۍ یم ، سړېچن د بېلتانه یم
ستا په اننګو به جوړه ټکنده غرمه کړم

✲ ✲ ✲

لارمې ستا د کور له قصده پرېښوده څو ځله
بیا چه فکرو کړمه ، هم ستا د کور په لاریم

✲ ✲ ✲

مینه چه پیدا شی ، هلته سم کارونه څه کا
پټې چه وی سترګې سم په لاره نه شی یون

✲ ✲ ✲

تمنا مې ستا په هجر کښې شوه ځوانه
لکه خراړه چه څربه شی ، په دشتو کښې

✲ ✲ ✲

مات مې که رباب - او جام دمیو مې نسکور کړ
غم د پښتون قام مې دماضی له ستر ګو پور کړ

✲ ✲ ✲

اکر بکر به کړی ، دستور یو بدل
ستر ګو ته او ښکې پښتنې راغلې

✲ ✲ ✲

هم دې آدم ، ترجمانی دخپل نمود کړې ده
چه یې ښوونه رنګ په رنګ ، دخپل وجود کړې ده

✲ ✲ ✲

ځلمیه! ښاخ دمستقبل به ضرور
کوی د تانه د ثمر پوښتنه

ساقی ستاخو کرم ؤ ، په رندانو زنګېد لیو
لېکن زه چه تر اوسه یم هوښیار نوولې زانګم

✲ ✲ ✲

سره له قهره یې بار خوشول ، اوس پناه غواړی له زلفو
ځی ء چه سوری ته ور تښتو ، راغله ټکنده غرمه شوه

✲ ✲ ✲

دغه د حالاتو غلیمان به بدر ګه شی ستا
روغه که تا وکړه د فطرت د تقاضو سره

✲ ✲ ✲

مه تله وینا مې ، د منطق په تله ټوله
هغه ژبه زده کړه چه منطق یې ترجمان دی

✲ ✲ ✲

لږ ډېر کوه نظر ، چه تږی ستا دا لتفات یم
وېرېږمه چه چېرته مې ، صهبا ته نه شی مخه

✲ ✲ ✲

چه امتزاج مې د نفرت او محبت لیدلی
عشقه له تا مې هم سوا لیدلی ستر موجونه

✲ ✲ ✲

تا ته که نظر کوم ، نو هم دې لیدی نه شم
قرب را ته بعد شو لو ستا ، ته مې باڼه یې

✲ ✲ ✲

پرخې شو ګیره ، د ګل دمخ لید وته وکړه
نمر چه شو دبره په بو ګن و تښتېده

✲ ✲ ✲

ما ته شه رامخ ، چه آینه دې کړم دمینې
حسن دې د حسن نه سوا ښکاره کومه

ستامتن دوعدې ، خوڅه مهمل نه ؤ - ای ښکلیه
تأویل کوی داشان چه خپل الفاظ ترې انکاری دی

✲ ✲ ✲

چه ذ هن مشا لو نه د فطرت و غو ر ز و ل
حالا تو بې اختیا ر ه تیند کو نه و خو ا ړ ه

✲ ✲ ✲

هجرانه خیر ، زما دې که وختونه و خواړه
تا هم زماله وصله ګو زا رونه و خـو ا ړ ه

✲ ✲ ✲

حسن دې که تت شو ، زړه راښکون پکښې لاشته دی
راغی په سکروټو که خوږلن ، تا ویې محسوس دی

✲ ✲ ✲

هغه مسئو ل شی ، څوك چه مقبو ل شی
خـود چـه مقبو ل شـی هـغه مسئو ل شـی

✲ ✲ ✲

کائنات دیزدان زړه دی ، اوزه زړه د کائنات یم
بیا یزدان زما په زړه کښې راته وایه چه زه څوك یم؟

✲ ✲ ✲

زما و ینه په پټه پټه خورې خپر ا ز ه کېږ ې
مېوه که په ښاخو ده ، له جرړو یې ژوندون دی

✲ ✲ ✲

تر خودې په خندا کړم ، د رقیب په زړه تیا ره شوه
نسیم چه راشی پرا نېز ی ګلو نه ډیوې مړې کا

✲ ✲ ✲

ز ه له د ې د و ا ړ و ، بل جها ن جو ړ م
نـه پـه تـیا ر ه ، نـه پـه ر ڼـا یـمه ز ه

ارمانه چه څوته یې اندېښنو سره تر غاړه
الفت به وی زماد او سېلو سره تر غاړه

✡ ✡ ✡

پیتاودې دوعدې دی، ژمی ستادانتظار دی
لمر مخیه که ته راشې، که رانه شې زه پرې پایم

✡ ✡ ✡

ځان دې کړلو پټ زه دې ښکاره کړمه شك نشته
اوس نو وارزمادی ځان به پټ تا به ښکاره کړم

✡ ✡ ✡

زه په خپل غزل چه لاتراوسه قانع نه یم
موړ چه پرې څوك نه شی، هم هغه اصلی لذت دی

✡ ✡ ✡

تېر به په تا نه خوږ مه لمر مخیه! زه
ټول رنګو نه ستا د بې رنګۍ نه دی

✡ ✡ ✡

دا سې نېکۍ هم شته چه بدۍ وی پکښې پټې
سیوری په رڼا کښې د تیارو نماینده دی

✡ ✡ ✡

وحشت مې لکه ستاد هوسو سترګو قرار نه کا
په خیال د تا د زلفو زولنو یې خپلو مه

✡ ✡ ✡

غږ یم د ملت چه ځم په مخه نه ډار ېږم
نه یمه حباب په هوا جوړ په هوا وران

✡ ✡ ✡

چه بدوی هغه نېك شی، چه دحد په هور ته بدشی
د چا قابلیت چه ترحد تېر شی، ناقابل شی



بنا غلی امیر حمزه شینوا ری

دریې کړه ځوانی درته، هم پیر به دې هوس کړی
تونده بړ بوکی کړی هوا جوړه ، هوا ورانه

✲ ✲ ✲

اوس ځنډ به په منزل دلېونی کښې پیدا نه شی
اغزو ، په روغو خلقو کښې زما پاتې لمن ده

✲ ✲ ✲

وچ ډکی هم دا ګڼی اشنا یې یم
یار د هغه لمر لکه شبنم یمه

✲ ✲ ✲

لږ خو زما او ښکو ته مسکی شه ته
ستوری په لوېدو دی ، ځلېده غواړی

✲ ✲ ✲

حسن که غرور لری ، وقارد مینې هم شته
ستا په تندی ګونجې ، زما ګونجې په شمله کښې

✲ ✲ ✲

ما ته ملتفت وی که رقیب ته وی هم وی به
یو یې وی ښکاره ، خو دوه مخونه دسپوږمۍ دی

✲ ✲ ✲

کله کله په محفل کښې چه زه نه یم
تا په ستر ګو ادا کړی زما نوم دی .

د حمزه پیژندنه

هسې خو امیر حمزه د پښتو نخوا هر شاعر اولیکو ال پېژنې او پیژند ګلوی ته یې ضرورت نه لیدل کیږي خو بیا هم د کتابې دود په ځای کولو د پاره غواړو چه امیر حمزه په الفاظو او تورو کښې هم بنا غلو لوستونکو ته وښیو .

امیر حمزه د مملک باز میر خان شینواری زوی دی چه په ۱۹۰۷ع کال په لو اړ ګی کښې پیدا شوی اولوی شوی دی ابتدایی تعلیم یې د لواړ ګی په مدرسه کښې وکړ ، بیا د پیښور په اسلامیه کالج کښې داخل کړی شو خو کالج یې په نهم جماعت کښې پریښود او په رسمی تعلیم کښې یې دزړه تسلونه موند ، بیا یې دژوندانه درازونو او تصوف درمزو نو پوره مطالعه شروع کړه او په دې برخه کښې دپوخ فکر خاوند شو .

دخیبر له جګو غرونو او لوړی درې څخه یې د شعر الهام واخیست او د خپلې شاعرۍ په برکت یې د لواړ ګی او خیبر نوم دهسک لمنو ته وخیژاو د امیر حمزه په کوزه پښتو نخوا بلکې په ټوله پښتو نخوا کښې د پښتو شاعرۍ په تیره د غزل استاذ ومنل شو . ده په ابتدا کښې اردو شعر وایه خو اپه ۱۹۳۳ ع کال یې د خپل مرشد سید عبدالستار په وینا له اردو شاعرۍ څخه لاس واخیست او په پښتو شاعرۍ یې لاس پورې کړ .

حمزه سر بېره په شاعرۍ په پښتو نثر کښې هم پوره لاس لرۍ او ډېر کتابونه يې خپاره شوي دي .

ډرامو په ليکلو کښې هم غښتلی دی. دده ډېرې زياتې ډرامې د پېښور ريډيو نه خپرې شوې دي . د حمزه يوه خوښه ليکلی قصه چه ليلی مجنون نومېږی ، د فلم په رنګ کښې هم نښودل شوې ده د غه فلم رفيق غزنوی تيار کړی و او دا د پښتو لومړی فلم دی چه په ۱۹۴۱ ع کال کښې تيار شوی او د سينما لوبيځ ته راوتلی دی .

د حمزه ادبی ژوند د پېښور د «بزم ادب» له غړو يتوب څخه شروع کيږی چه بيا وروسته د دغې ټولنې مشر شو . په ۱۹۵۰ ع کال چه په پېښور کښې «اولسی ادبی جرګه» جوړه شوه ، دی يې لومړنی مشر غوره کړی شو .

د حمزه په شعرونو کښې عشق او تصوف بنيادی ټکی دی مذهبی جذبه او پښتنی مينه هم ورسره ګډه ملګری ده . دی اسلام او پښتو سره غاړه غړی بولی او وايی چه ملیت او قوميت له مذهب سره هيڅ اختلاف نه لری .

حمزه ډيو فلسفی فکر خاوند دی ، اصلاحی او انتقادی فکر يې هم تيز دی . که دی مونږ په لنډو کلمو کښې وښيو نو داسې ويلای شو :

چه د حمزه زړه د صوفيانو دی ، دماغ يې د فلسفيانو ، عمل يې د ځوانانو او کړه وړه يې د شيخانو دی

د حمزه ليکلی کتابونه او آثار دا دی :

۱- د زړه آواز نظم ۲- د کابل سفرنامه نظم ۳- نوی پښتون په نثر کښې د کابل سفرنامه ده ۴- نوی چېی يو خوښ ناول دی

۵- غزو نی دشعرو نو مجمو عه ده ٦- تسخیر کا ینات
۷- یون ، دغزلونو مجمو عه ۸- ژوند۹- ژور فکرو نه
۱۰- یو شعر ۱۱- د اقبال د ار مغان حجاز تر جمه
۱۲-دولسم کتاب یې دغه موجوده کتا ب دی .

دوه ناچا په کتا بو نه هم لری چه یود کارل مارکس اصول دعقل په نظر کښی نومیږی او بل دده خپلې ژوند پیښې دی. د تجلیات محمدیه په نامه هم په تصوف کښی یو اثر لری .

امیر حمزه د پښتو نستان دادیبانو په ډله کښې څو ځله کابل ته راغلی دی .

د ۱۳۴۵ ش کال په اسد کښی دخو شحال دیا دو نې او لمانځنی په سیمینار کښې د پښتو ټو لنې له خوا کابل ته را بلل شوی ؤ چه په دغه سیمینار کښې یې دخو شحال په تصوف یوه درنه مقاله ولوستله .

امیر حمزه دډیرو ځلمیانو استاداو په پښتو شاعری کښې دیونوی مکتب مؤسس دی چه ډیر ځلمیان یې روزلی او پاللی دی .

«رشتین»

سمون

مخ	کرښه	ناسم	سم
۹	۱۰	ددزب	ددرب
۴۴	۵	ابا سینه ته	ابا سینده ته
۸۷	۵	خبرراعی	خبرراغی
۹۳	۱۸	مجبوبه	محبوبه
۱۰۹	۳	دزرکی	دزرکی
۱۱۹	۱۰	ریبری	ریژیږی
۱۳۵	۱۷	نه شتشك	نشته شك
۱۴۳	۱۹	هند کو ایې	هندکویې
۱۵۵	۲	ا خولیدې	تاخولیدې
۱۶۹	۱۸	کفن نه یم	کفن نه یم

نباغلی لوستو نـکی به دکـتاب دویلو په وخت کښې دغه پاس ناسمې کلمې سمې ولولی ۰

PROPERTY OF ACKU 5284

دغه کتاب دښاغلی اسدالله«لودین»
او ښاغلی محمد شیر ین «سنګری»
خوږ یانې په اهتمام را ووت .

...DE KHYBER WAZHMEY

(A Collection of Quatraians)

by

Amir Hamza Shinwarai

Published by

The Pashto Academy

1968

دولتی مطبعه